# د احصائيي اساسات

محمد آغا ضیا

AFGHANIC



Kandahar Medical Faculty

کندهار طب پوهنځی

In Pashto PDF
2012

Funded by:
DAAD Deutscher Akademischer Austausch Dienst
German Academic Exchange Service

# Fundamentals of Statistics

Mohammad Agha Zia

Download: www.ecampus-afghanistan.org

کندهار طب پوهنځی

# د احصائيي اساسات



سي ډي سره

محمد آغا ضیأ

۱۳۹۱

د احصائيي اساسات

Fundamentals of Statistics

محمد آغا ضیأ


Kandahar Medical Faculty

Mohammad Agha Zia


AFGHANIC

# Fundamentals of Statistics


Funded by:
DAAD Deutscher Akademischer Austausch Dienst
German Academic Exchange Service


with CD


ISBN 978-9936-200-04-3

9 789936 200043

2012

بسم الله الرحمن الرحيم

کندهار طب پوهنځی

# د احصائیې اساسات

محمد آغا ضیأ

۱۳۹۱

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د احصائيې اساسات |
| ليکوال | محمد آغا ضيأ |
| خپرندوی | کندهار طب پوهنځۍ |
| ويب پاڼه | www.kan.edu.af |
| چاپ ځای | سهرمطبعه، کابل، افغانستان |
| چاپ شمېر | ۲۰۰۰ |
| د چاپ کال | ۱۳۹۱ |
| دکتاب ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |

دا کتاب د آلمان د اکاډميکو همکاريو د ټولنې (DAAD) لخوا د آلمان فدرالي خارجه وزارت له پانګې څخه تمويل شوی دی.
اداري او تخنيکي چارې يې په آلمان کې د افغانيک موسسې لخوا ترسره شوې دي.
دکتاب د محتوا او ليکنې مسؤليت دکتاب په ليکوال او اړوندې پوهنځی پورې اړه لري. مرسته کوونکې او تطبيق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤليت نه لري.

د تدريسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړيکه ونيسئ:
ډاکتر يحيی وردک، د لوړو زدکړو وزارت، کابل
دفتر: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰
ايميل: wardak@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان: 9789936200043

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو کې ډیر مهم رول لوبولی دی او د درسي نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو ستندردونو، معیارونو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

د لوړو زده کړو د مؤسسو د ښاغلو استادانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې ډېر زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسی کتابونه تألیف او ژباړلي دي. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او نور درسي مواد برابر کړی څو تر چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره معیاري او نوي درسی مواد برابر کړي.

په پای کی د آلمان هیواد د بهرنیو چارو وزارت، DAAD مؤسسې او ټولو هغو اړوندو ادارو او کسانو څخه مننه کوم چې د طبي کتابونو د چاپ په برخه کې یی هر اړخیزه همکاري کړې ده.

هیله مند یم چی نوموړې پروسه دوام وکړي او د نورو برخو اړوند کتابونه هم چاپ شي.

په درنښت

پوهاند ډاکتر عبیدالله عبید

د لوړو زده کړو وزیر

کابل، ۱۳۹۱

## د درسي کتابونو چاپ او د طب پوهنځيو سره مرسته

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو !

د افغانستان په پوهنتونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمیر استادان او محصلین نوي معلوماتو ته لاس رسی نه لري ، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه کار اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

د دې ستونزو د هوارولو لپاره په تېرو دوو کلونو کې مونږ د طب پوهنځيو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ پیل او تر اوسه مو ۲۰ طبي درسي کتابونه چاپ او د افغانستان ټولو طب پوهنځيو ته مو استولي دي.

دا کړنې په داسی حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ـ۲۰۱۴ ) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*«د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي د تعلیمی نصاب د ریفورم لپاره له انګریزی ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسی موادو ژباړل اړین دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان نشي کولای عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي».*

د افغانستان د طب پوهنځيو محصلین او استادان له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي. نویو درسي موادو او معلوماتو ته نه لاس رسی، او له هغو کتابونو او چپترو څخه کار اخیستل چې په بازار کې په ډېر ټیټ کیفیت پیدا کېږي د دې برخې له ځانګړو ستونزو څخه ګڼل کېږي. له همدې کبله هغه کتابونه چې د استادانو له خوا لیکل شوي دي باید راټول او چاپ کړل شي. د هیواد د بېړني جنګ وهلي حالت په نظر کې نیولو سره مونږ لایقو ډاکترانو ته اړتیا لرو، ترڅو وکولای شي په هیواد کې د طبي زده کړو په ښه والي او پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي. له همدې کبله باید طب پوهنځيو ته زیاته پاملرنه وشي.

تر اوسه پوري مونږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ طب پوهنځیو او کابل طبی پوهنتون لپاره ۲۰ مختلف طبي تدریسي کتابونه چاپ کړي دي. د ۵۰ نورو طبي کتابونو د چاپ چارې روانې دي چې یوه بېلګه یې ستاسي په لاس کې همدا کتاب دی. د یادونې وړ ده چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هیواد ټولو طب پوهنځیو ته په وړیا توګه ویشل شوي دي.

د لوړو زده کړو د وزارت، پوهنتونو، استادانو او محصلینو د غوښتنې په اساس راتلونکی غواړو چې دا پروګرام غیر طبي برخو(ساینس، انجنیري، کرهنې) او نورو پوهنځیو ته هم پراخوالی ورکړو او د مختلفو پوهنتونو او پوهنځیو د اړتیا وړ کتابونه چاپ کړو.

څرنګه چې د درسي کتابونه چاپ زمونږ د پروګرام پروژه ده، د دې ترڅنګ زمونږ نوري کاري برخې په لنډ ډول په لاندي ډول دي:

**۱. د درسي طبي کتابونو چاپ**

کوم کتاب چې ستاسی په لاس کې دی زمونږ د فعالیتونو یوه بېلګه ده. مونږ غواړو چې دې پروسې ته دوام ورکړو تر څو وکولای شو د درسي کتابونو په برابرولو سره د هیواد له پوهنتونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړینه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال ۱۰۰ عنوانه درسی کتابونه چاپ کړل شي.

**۲. په نوي میتود او پرمختللو وسایلو سره تدریس**

د ۲۰۱۰ کال په اوږدو کې پدې وتوانیدو چې د بلخ، هرات، ننګرهار، خوست او کندهار د طب پوهنځیو په ټولو ټولګیوکې پروجیکتورونه نصب کړو. د مناسب درسي چاپېریال د رامنځ ته کولو لپاره باید هڅه وشي چې ټول درسي، د کنفرانس اطاقونه او لابراتوارونه په مولتي میډیا، پروجیکتور او د لیدلو او اورېدلو په نورو وسایلو سمبال شي.

**۳. د اړتیاوو ارزونه**

د طب پوهنځیو اوسنی حالت (شته ستونزې او راتلونکي ننګونې) باید و ارزول شي او د هغه په اساس په منظمه توګه اداري، اکاډمیکې او پرمختیایی پروژې په لاره واچول شي.

### ۴. مسلکي کتابتونونه

باید د ټولو مهمو او مسلکي مضامینو کتابونه په نړیوالو معیارونو سره په انګریزي ژبه واخیستل شي او د طب پوهنځیو د کتابتونو په واک کې ورکړل شي.

### ۵. لابراتوارونه

د هیواد په طب پوهنځیو کې باید په بېلا بېلو برخو کې فعال لابراتوارونه موجود وي.

### ۶. کدري روغتونونه

د هیواد هره طب پوهنځی باید کدري روغتون ولري او یا هم په یوه بل روغتون کې د طب د محصلینو د عملي ټریننګ لپاره شرایط برابر شي.

### ۷. ستراتیژیک پلان

دا به ډېره ګټوره وي چې د طب هره پوهنځی د اړونده پوهنتون د ستراتیژیک پلان په چوکاټ کې خپل ستراتیژیک پلان ولري.

**له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي. زمونږ په واک کې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوندې پوهنځی، استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یادو شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات زمونږ په پته له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

**له ګرانو محصلینو څخه هم هیله کوو چې په یادو چارو کې له مونږ او ښاغلو استادانو سره مرسته وکړي.**

د آلمان د بهرنیو چارو له وزارت او DAAD (د آلمان اکاډمیکو همکاریو ټولنی) څخه مننه کوم چې تراوسه پوری یی د ۹۰ عنوانه طبي کتابونو مالي لګښت په غاړه اخیستی چې د هغو له ډلې څخه د ۵۰ عنوانو کتابونو د چاپ چاری روانی دی. د آلمان د ماینز پوهنتون (Mainz/Germany) د طب پوهنځی، د نوموړی پوهنځی استاد ډاکتر زلمی توریال ، د افغانیک له موسسې او Dieter Hampel څخه هم مننه کوم چې د کتابونو په اداري او تخنیکي چارو کې یې له مونږ سره مرسته کړی ده.

په ځانګړي توګه د د جی آی زیت (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration and Development) یا د نړیوالی پناه غوښتنی او پرمختیا مرکز چې زما لپاره یې په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړی دي هم مننه کوم.

د لوړو زده کړو له محترم وزیرښاغلي پوهاند ډاکترعبیدالله عبید ، علمی معین ښاغلي پوهنوال محمد عثمان بابری، مالي او اداري معین ښاغلی پوهندوی ډاکتر ګل حسن ولیزي، د پوهنتونو او پوهنځیو له ښاغلو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولی او مرسته یې ورسره کړې ده.

همدارنګه د دفتر له ښاغلو همکارانو ډاکترمحمد یوسف مبارک، عبدالمنیر رحمانزی، احمد فهیم حبیبي، سبحان الله او همت الله څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کېدونکی هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت
کابل، نومبر ۲۰۱۲ م
د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰
ایمیل: textbooks@afghanic.org
wardak@afghanic.org

ډالۍ:

زمادخدای(ج) بخښلوترونوشهیدضابط سیدشاه اوشهید محمدرحیم روح ته! چې زما په روزنه کې يې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړې، له الهي دربار څخه ورته جنت الفردوس غواړم.

## د مننې څرګندونه :

له هرڅه نه مخکي دلوی ښښتن تعالی حمد اوثنآ ادا کوم چي ماته يي داتوان را کړچي ددی کتاب ليکنه بشپړاو دهيواد ځوان نسل ته يي ديوی کوچنی تحفی په توګه وړاندی کړم.

کندهارپوهنتون چی دهيواد له ځوانو پوهنتونو څخه دی ديوشميرنوروستونزوترڅنګ په علمی ډګر کښي يوه مهمه ستونزه په پښتو ژبه د درسي کتابونو نشتوالي دی، چی درسی بهير يی څه ناڅه ټکنی کړی دي. له نيکه مرغه د لوړو زده کړو وزارت دغي ستونزي ته ځانګړي پاملرنه کړي او د بيلا بيلو پوهنځيو لپاره يي د درسي کتابونو د چاپ ژمنه کړي ده. دا چي د احصائيې د اساساتودمضمون تدريس زما په غاړه دي نو تصميم مي ونيو چي دمضمون اړوند دداسي ممد درسي کتاب په ليکلو لاس پوری کړم چي د ټاکلو مفرداتو مطابق وي تر څو داحصائيې دمضمون په تدريس کي شته خلاتر يو بريده ډکه کړي.

لکه چي څرګنده ده ديوکتاب ليکل پوره پوهه، تجربه، او لاربنوونه غواړي، په دی برخه کي د ننګرهار پوهنتون محترم دانشمند استاد پوهاند محمد بشير دودېال هر اړخيزه لاربنوونی او دزياتو بوختياو سره سره د کتاب ټکي په ټکي کتنه او تصحيح دقدر وړبولم او ور څخه د زړه له کومي مننه کوم .

دکندهار پوهنتون رئيس پوهنمل ډاکترحضرت ميرتوتاخيل څخه مننه کوم چي زه يې د دغه کتاب په ليکنه کي پوره تشويق کړی يم او د کتاب د چاپ د مراحلو په بشپړولو کي يې ستونزي له مخي ليري کړي.

د کابل پوهنتون د کرني پوهنځي دکرنيزاقتصاداوترويج دڅانګي آمر پوهنمل دکتور فضل الدين فضل ته کور ودانی وايم چي د دې علمي اثر د ليکلو په وخت کي يې ما ته پر له پسي عالمانه مشوري راکړي دي.

په کندهار پوهنتون کي د درنو استادانو هر يو پوهندوي انجنيرشاه محمود بري، پوهندوي سيد محمد کبير مين، پوهنيار محمد اسماعيل هاشمي ، پوهنيار زمريالي تني پوهنيار محمد نسيم سهيل او پوهيالی محمد نواب ناصر څخه د منني څرگندونه کوم چي زه يې د دغه ممددرسي کتاب په ليکلو کي هڅولي يم،همدارنگه د ديپارتمنت او پوهنځۍ د ټولو درنو استادانو څخه مننه کوم چي په معنوي لحاظ يې زه تشويق کړي يم.

دکندهارپوهنتون دطب پوهنځۍ دداخله څانگی مشر محترم پوهنوال ډاکتر عبدالواحد وثيق،داقتصاد پوهنځۍ رئيس پوهندوی سيدمحمدکبيرمين اوپه ځانگړي توگه دننگرهار پوهنتون محترم استاد پوهاند محمدبشير دوديال څخه ډيره مننه کوم چی دارزښتناکو او تشويق کونکو تقريظونو په ليکلوسره يی دکتاب اهميت نورهم لوړ کړ.

لازمه بولم چي د محترم دين محمد مشفق څخه هم د منني څرگندونه وکړم، چي د کتاب کمپوز، ايديت او ډيزان يې په پوره زغم تکميل کړ، همدارنگه د کرني پوهنځي محصل ښاغلي سردار محمد هاشمي څخه هم مننه کوم چي د کتاب په ټايپ کولو کي يې پوره همکاري کړي ده.

په پای کي د محترم دکتور يحي وردگ دانساني او هيواد پالني داحساس څخه يوه نړي مننه او تشکر کوم چي په دي حساس وخت کي يې د کتاب چاپ او نشر ته زمينه برابره کړه د الله (ج) له دربارڅخه ور ته په دې لاره کي نور توفيق هم غواړم.

په درنښت

پوهنيار محمد اغا ضيأ

کندهار– افغانستان

ليندی ۱۳۹۱ ل.

## مخکني خبري:

احصائیه د معاصروعلومو یوه څانګه ده چی په ښوونځیو، پوهنتونونو کي یو له مهمو مضامینو څخه ده نن ورځ په اجتماعي،اقتصادي او ساینسي څانګو کي د احصایې استعمال مخ په پراخیدو دي.د احصائیې علم د یو شمیر ټاکلو میتودونو پربنسټ یو ولاړ علم دي. د دغه علم میتودونه باید په سستماتیک ډول د یو منظم کریکولم له مخي تدریس شي ترڅو مسلکي کدرونه د علمي کار په ساحه کي ور څخه استفاده وکړي. د احصائیې اهمیت نه یواځي د اداري او دولتي چارو په پرمخ بیولو کي دي بلکي ډیر زیات ارزښت یي په علمي تحقیق (Research) کي دي. اصلاً د ریسرچ او علمي څیړني تهداب په احصائیوي میتودونو ولاړ دي. د کرهني په برخه کي ټول علمي تجارب او د نباتاتو او حیواناتو د ودې او ژوند مسایل ټول داحصائیوي میتودونوپه واسطه تشریح کیداي شي. د طب او عامی روغتیا په برخه کی هم د احصاییوی میتودونو څخه ګټه اخیستل کیږی. په دغه کتاب کي هره موضوع د جلا مثالونو پواسط حل شوي ده او د هر فصل په پای کي تمرینات هم ور کړل شوي دي. هیله لرم دغه کتاب د درسي او ممد درسي کتابونو موجوده ستونزي او په پښتوملي ژبه د درسي موادو د کمښت ستونزه حل کړي.

## تقريظ

کندهار پوهنتون په هیواد کي د لوړو زده کړو د موسساتو په ردیف کي هغه پوهنتون دي، چي دهیواد د یوي پراخه ساحي د کدرونو روزنه ور تر غاړي او د شاوخوا ولایتونو د نورو پوهنتونو لپاره د بیلګي حیثیت لري. ډیره هیله شته چي نږدي راتلونکي کي به دغه پوهنتون خپل لازم علمي او اکاډمیک دریځ تثبیت او ترلاسه کړي . ددغه پوهنتون ځوان کدرونه مونږ ته دا ډاډ راکوي چي په نږدي وخت کي به نه یواځي د ځوان مسلکي کدرونوپه روزنه کي ښه بریالیتوبونه ولري، بلکي د ریسرچ په برخه کي به هم په زړه پوري لاس ته راوړني ولري. کندهاراود هغه شاوخوا د هیواد هغه سیمي دي چي د کرنیزو تولیداتو، په تیره بیا د یو شمیر ځانګړو میوه جاتو په روزنه کي ځانګړي امتیاز لري. د کندهار سیمه د انګورو، انار، شلیل او د شفتالو د ځانګړو جنسونو په تو لید کي او د میوه لرونکو باغونو په پراختیا کي ځانګړي نسبي مزیت او د دغه سکتور د پراختیا اوچت استعداد لري، نو دغه مزیت او پراختیا به هله ممکنه شي چي د کرني علمي تحقیق Scientific Research او د ترویج پروسه ښه شي. نن ورځ تحقیق، ریسرچ او د تولید ډګر(Farm) یو بل سره تړلي او یو مثلث جوړوي. په دې کي د احصائیې رول تر هر څه اوچت دي. په دې تو ګه دعلمي تحقیق د اساساتود پیا وړتیا، دترویج دپوهي اوچتولواو د هیواد دمعنوي غنا د لا بډاینې په برخه کي یو هم د درسي او مرستیال درسي کتابونو چاپ او د محصلانو په واک کي یي ور کول دي . دا دي د کندهار د پوهنتون د کرني د پوهنځي د کرنیز اقتصاد او د ترویج د څانګي د علمي کدر غړي محترم پوهنیار محمد اغا ضیا په دې لاره کي قدم مخکي کیښود او د دغه پوهنتون د نورو ځوانو استادانو لپاره یي خپل کار مثال او بیلګه وګرځوله. د

احصائيې اساسات کتاب يو ډېر ضروري او په زړه پوري کتاب دي. سره له دي چي احصائيه د يوې څانګي په توګه ډېر پراخه بحثونه او بيلا بيل ميتودونه لري، خو د لسانس د دوري لپاره همدومره مفردات کافي دي کوم چي په دغه کتاب کي راغلي دي. ښاغلي محمداغا ضيا له نويو او غوره مآخذونو څخه په استفادې دغه علمي اثر چمتو کړي دي او د احصائيې اساسات يې بيان کړي دي.

د دغه اثر ښيګني دا دي چي: فارمولونه يي په وضاحت سره تشريح کړي دي او هريوه ته يي يو يو مثال هم راوړي دي. تراوسه پوري مونږ د احصائيې په برخه کي په پښتو ژبه ډېر لږ کتابونه لرل چي دغه کتاب دا کمبود رفع کوي. محصلان به وکولي شي د ارقامو راټولونه، طبقه بندي او جدول جوړونه، د دفعاتو ويش، احصائيوي ګرافونه د مرکزي اوزانو او د انحراف د درجي يا د خپوروالي د معيارونو په هکله پوه شي. همدارنګه احتمالات د دي کتاب بل په زړه پوري بحث دي چي علمي څيړنه کي اساسي ضرورت ورته لرو. زه په داسي حال کي چي محترم پوهنيارمحمد اغا ضيا ته په علمي او اکاډميکو چارو کي د لا زياتو برياليتوبونو لپاره دعا کوم د الله (ج) له لوي دربار څخه ورته په نورو علمي چارو کي نصرت او بري غواړم . دا دعا هم کوم چي خداي (ج) دي کندهار پوهنتون زمونږ د مومن ولس د خير ښيګني او خدمت لپاره يو روڼ مشال و ګرځوي ترڅو نړيدلي او کړيدلي افغان ولس ته د بيا رغاوني يو غوره مرکزو ګرځي.

په درنښت

پوهاند محمد بشير دوديال

د ننګرهار پوهنتون استاد

## تقریظ

**د کندهار پوهنتون علمی معاونیت ته!**

محترما!

د کندهار پوهنتون دزراعت پوهنځی د کرنیز اقتصاد او ترویج د څانگی د غړی پوهنیار محمد آ غا ضیأ لیکل شوی اثر چی عنوان یی (د احصائیی آ ساسات) دی ولوست.

محترم استاد پوهنیار محمد آ غا ضیأ نوموړی کتاب په ۶ فصلونو او څه د پاسه ۹۰ پاڼوکی ترتیب کړیدی.

نوموړی اثر د زراعت پوهنځی د کرنیز اقتصاد د مبادی احصائیه د شته کریکولم په پام کی نیولو سره په روانه او آ سانه پښتو ژبه لیکل شویدی.

محترم استاد د اثر په لیکنه کی د گرافونو، جدولونو او بیلو معادلاتو څخه کار اخستی دی، چی دی اثر ته یی لا غنی ور بخښلی او گټه اخستنه یی نوره هم ورځخه آ سانه کړیده. همداراز د اثر د لا غنی لپاره لیکوال د یوشمیر معتبرو خارجی منابعو څخه استفاده کړیده چی ټول یی د ماخذونوتر عنوان لاندی په ښه او علمی ډول اوډ لی دی.

زه پخپل وار سره نوموړی اثر د زراعت پوهنځی د دریم ټولگی د دوهم سمستر د محصلینو لپاره زیات گټور بولم او نه یوازی داچی د دریم ټولگی محصلین ورځخه گټه اخستلای شی، بلکه د زراعت پوهنځی دنورو استادانو او ځوانو فارغینو لپاره هم ډیر گټور اثر دی.

د محترم استاد محمد آ غا ضیأ لپاره د خدای (ج) له درباره څخه نوری بریاوی هم غواړم اوهم د کندهار پوهنتون د ټولو استادانو په ځانگړی توگه د زراعت پوهنځی د ټولو څانگو د علمی کادر استادانوته د دی اثر مبارکی وړاندی کوم.

په درناوی

پوهنوال داکتر عبدالواحد وثیق

د طب پوهنځی د داخلهٔ څانگی مشر

د طب پوهنځی د تدریسی مدیریت د پوهنوال داکتر عبدالواحد "وثیق" د برحالی او امضاء څخه تصدیق کوم

۹۱/۹/۱۰

# تقریظ

دکندهار پوهنتون دکرنی پوهنځی دکرنیزاقتصاد او ترویج څانگه دخپل اړتیا له مخی تـــل هڅي کوی چـــه دهمدی څانگی د استادانو او محصلینو دعلمی سویی داوچتولو دپــــاره دتولنی داړتیا په نظر کښی نیولو سره سم درسی او ممددرسی کتابوته تالیف او نشر تـــه وسپاری چه دهغی دلی څخه ښاغلی پوهنیـــــــار محمد اغا ضیا داحصایی داساسات تر عنوان لاندی ممددرسی کتاب لیکلی دی نو موړی کتاب چه په شپږ فصلونو کښی لیــکل شوی دی دمحتواله مخی ډیر غنی او بشپړ معلومات پکښی ورکړل شـــوی دی. پـــــه لومړی فصل کښی داحصایی پیژندنه په دوهم فصل کښی ددفعاتو ویش په دریم فصل کښی دمرکز ی میلان مقیاسونه او په څلورم فصل کی په ارقامو کی دانحراف ددرجی مقیاسونه په پنځم فصل کی احتمالات او شپــــږم فصل کښی دمنحنی دعدم تناظر او دځوکی موجودیت مقیاسونه په بشپړ ډول شرح شوی دی .

دنوموړی استاد دامدد درسی کتاب په ښه فصا حت او بلاغت سره لیکل شوی دی چه استادانو محصـــلینو او ددی څانگی نورو اړوند مینه والو ته دمعلوماتو ښه زیرمه بلل کیږی

زه دښاغلی محمد اغا ضیا دامددرسی کتاب دکندهار پوهنتون دکرنی پوهنځی د کرنیزاقتصاد او ترویج دڅانـــگی لپاره لویه لاسته راوړنه بولم او نوموړی استاد ته دلا زیات بریالیتو بونه په علمی او اکادمیکو چارو کښی دلـــوی خدای (ج) څخه غواړم .
او هیله کوم چه دکتاب دچاپ او نشر چاری ژرتر ژره سرته ور سیږی .

**په درنښت**

**پوهندوی سید محمدکبیر**

**داقتصادپوهنځی رئیس**



# تقريظ

جوته ده چی ګران هیواد افغانستان یو کرنیز هیواد دی او د وګړو زیاته برخه یی په کرهنه او مالداری بوخت دی، چی د همدی لاری و خپلو کورنیو او هیوادوالو ته غذایی توکی برابروی څکه ویلای شوچی د کرهنی د سکتور پراختیا او پرمختګ د محلی او ملی اقتصاد د پیاوړتیا لپار رغنده رول لوبولای شی، په ځانګړی توګه د احصائیی رول پکښی ترهرڅه اوچت ښکاری. په همدی موخه لازم ګڼو چی د مسلک څښتنان په دی برخه کښی زیات معلومات ترلاسه کړی ترڅو وکولای شی په معنوی توګه بدای شی.

کندهار پوهنتون کرهنی پوهنځی د کرنیزاقتصاد او ترویج د څانګی استاد پوهنیار محمد آغا ضیاء چی د احصائیی اساسات ترعنوان لاندی په نوم درسی کتاب د نویو او اعتبار لرونکو منابعو څخه یی په شپږو څپرکو کی لیکلی دی چی نه یوازی د کرهنی پوهنځی محصلین بلکی د ښوونی او روزنی پوهنځی او طب پوهنځی محصلینو لپاره هم درسی کتاب دی او کولای شی چی په زړه پوری معنوی ګټه تری اوچته کړی. د درسی کریکولم له مخی دهمدی درسی کتاب غوره او مهم ټکی په دی ډول څرګندیږی:

1. د جدولونو جوړونه یی په ساده شکلوسره ښودلی ده.
2. د دفعاتو په پیژندنه کی یی دیاګرامونه په ښه توګه واضح کړی دی .
3. حسابی اوسط، هندسی اوسط، میانه او موډ یی په نوی انداز او علمی توګه ښودلی دی.
4. احتمالات او د هغه اړوند قوانینو باندی یی علمی رڼا اچول شوی ده چی د محصلینو لپاره په زړه پوری بیلګی پکښی بیان شوی دی.
5. د هر څپرکی په پای کی داسی تمرینونه ورکول شوی دی چی د محصلینو او مسلک د څښتنانو لپاره د احصائیی په زده کړه کی مهم رول لوبوی.

دا چی د کتاب لیکنه برسیره پردی چی لازمی پوهی ته اړتیالری، و زیاتی حوصلی او کارکولوته هم اړتیالری. د استاد پوهنیار محمد آغاضیاً هڅی او کوښښونه د زیاتی ستاینی وړ بولم اود چاپ سپارښتنه یی کوم ترڅو زموږ د کتابونو لپاره د پښتو ژبی یوه علمی خزانه ورزیاته شی. په آخیر کی کندهارپوهنتون د کرهنی پوهنځی استاد پوهنیار محمدآغا ضیاً ته د همدی کتاب د لیکلو مبارکی وایم او په راتلونکی کښی هم د لوی څښتن تعالی(ج) د پاک دربار څخه ورته د لازیاتو بریالیتوبونواو نوښتونو غوښتنه کوم.

په درنښت

پوهندوی انجنیر شاه محمود بری

د کرهنی پوهنځی رئیس

## دموضوعاتو فهرست

سرليک

مخ


سريزه........................................................a

**لومړي فصل: د احصائيې پيژندنه**

تشريحي احصائيه..........................................4

استنباطي احصائيه..........................................4

د ارقامو راټولونه،طبقه بندي او جدول جوړونه..........4

لومړني ارقام..........................................5

دوهمي ارقام..........................................5

د کيفيت په اساس طبقه بندي..........................6

د کميت (شميرني)په اساس طبقه بندي..................7

ساده جدول جوړونه..........................................8

دوه ګوني جدول جوړونه..................................8

دري ګوني جدول جوړونه..................................8

څوګوني جدول جوړونه..................................9

تمرينات..........................................10

**دويم فصل: د دفعاتو يافريکونسي ويش**

د دفعاتو پيژندنه..........................................11

د کلاسونو د شمير ټاکنه،صنفي عرض،صنفي حدونه..........13

صنفي وسط ، صنفي سرحد او دارقامو طبقه بندي..........15

هستوګرام او پولیګان.......................................................17
د ډیاګرام ښودنه...........................................................19
مستطیل ډوله ډیاګرام.....................................................19
مرکب مستطیل ډوله ډیاګرام.............................................20
څوګوني مستطیل ډوله ډیاګرام..........................................22
دایروي ډیاګرام............................................................23
تصویري ډیاګرام...........................................................25
خطي ډیاګرام..............................................................26
تمرینات....................................................................27

دریم فصل: دمرکزي میلان مقیاسونه

حسابي او سط..............................................................33
په غیرصنف بندي شوي ارقاموکي دحسابي اوسط محاسبه...........33
دفرضي اوسط په طریقه ارقاموکي دحسابي اوسط محاسبه.........34
فریکونسي لرونکو ارقاموکي دحسابي اوسط محاسبه..............35
په صنف بندي شوي ارقاموکي دحسابي اوسط محاسبه..............36
د فرضي اوسط په طریقه ......................................................37
هندسي اوسط...............................................................38
په صنف بندي شوي ارقاموکي دهندسي اوسط محاسبه.............39
هارمونیک اوسط............................................................41
په غیرصنف بندي شوي ارقاموکي دهارمونیک اوسط محاسبه.......41

په صنف بندي شوي ارقامو کي دهارمونيک اوسط محاسبه.......... 41
ميانه.................. 42
په غيرصنف بندي شوي ارقاموکي دمياني محاسبه............ 43
دمياني ښودنه په ګراف کي.................. 44
موډ.................................. 49
په غيرصنف بندي شوي ارقاموکي موډ پيداکول............ 49
د موډ ښودنه په ګراف کي.................. 50
په صنف بندي شوي ارقاموکي دموډ محاسبه.............. 51
تمرينات................................ 53
ځلورم فصل: په ار قاموکي دانحراف ددرجي مقياسونه
فاصله.................................. 59
په غيرصنف بندي شوي ارقاموکي دفاصلي پيداکول............ 59
په صنف بندي شوي ارقاموکي دفاصلي پيداکول.............. 60
کوارتل انحراف.......................... 60
په غيرصنف بندي شوي ارقاموکي د کوارتيل پيداکول.......... 62
په صنف بندي شوي ارقاموکي د کوارتيل پيداکول............ 63
وسطي انحراف.......................... 65
ميزاني انحراف.......................... 69
په غيرصنف بندي شوي ارقاموکي دميزاني انحراف محاسبه.......... 71
په صنف بندي شوي ارقاموکي دميزاني انحراف محاسبه.......... 71

د فرضي اوسط په طريقه ميزاني انحراف........................................72
د تفاوت ضريب..................................................................76
احصائيوي نفوس................................................................77
نمونه..........................................................................77
تمرينات.......................................................................79


**پنځم فصل: احتمالات**

د احتمالاتو تعريف...........................................................83
د احتمالاتو اړوند اصطلاحات....................................................85
تبادیل.........................................................................86
تراكيب........................................................................88
دغيرهمزمان حادثو لپاره د جمعي قانون.........................................89
دهمزمان حادثو لپاره د جمعي قانون............................................90
دغيرمستقل حادثو لپاره د جمعي قانون..........................................92
دمستقل حادثو لپاره د جمعي قانون..............................................93
تمرينات.......................................................................97


**شپږم فصل:**

**په منحني كي د عدم تناظراو دڅوكي موجوديت مقياسونه**

نورماله منحني...............................................................100
د عدم تناظرنسبي مقياس.......................................................103
په منحني كي دڅوكي موجوديت..................................................107

د طبعي منحني ځانګړتياوي........................................109
طبعي ستندردمنحني........................................113
باينوميل ويش........................................114
تمرينات........................................124
ماخذونه........................................126
ضمايم........................................128

**سریزه:**

لکه چي پو هيرو د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو تهيه او ليکنه آسانه کار نه دي، دا ځکه چي دغه کار ډير دقت ، تجربه، د کافي منابعو په لاس کي لرل او د تخنيکي امکاناتو مهيا والي ته اړتيا لري له بلي خوا د فارمولونو ترتيب او تنظيم، د شکلونو ترسيم او د جدولونو تنظيمول دا ټول هغه څه دي چي ډير کار او وخت ته اړتيا لري، له بله پلوه تعليمي نصاب او د محصلينو، شاګردانو سويه د ډير احتياط او توجه سبب کيږي. د دي کتاب تهيه او ليکنه د کرني په پوهنځي کي زما د تدريس د څوکلونو تجربه ده چي د داخلي او خارجي منابعو څخه مو استفاده کړي ده او د امکان ترحده د محصلينو سويه او د کرنيز اقتصاد او ترويج ديپارتمنټ ضرورت په نظر کي نيول شوي دي.

احصائيه په ساينسي ډګر کي د مجهولو اشياو د معلومولو د راتلونکي لپاره د پيش بيني ګانو د وخت په مسير کي د بدلونونو او له تيرو او راتلونوکو وختونو سره د مقايسې لپاره د ميتودونو لاربنود دي. په حاضر کتاب کي چي د لسانس دوري لپاره په نظر کي نيول شوي دي په پيل کي ټولي عمومي خبري او د احصائيې پيژندنه راځي. په شروع کي داسي تشريحات راځي چي روښانه کړي چي آيا احصائيه څه شي دي؟ دا به هم روښانه شي چي تشريحي او استنباطي احصائيه يو بل سره څه توپير لري. ارقام بايد څرنګه صنف بندي شي او وسطي اوزان څرنګه محاسبه شي بيا به د انحراف وزنونه تشريح شي. مونږ په دې باندي ډير تمرکز وکړ چي آيا ارقام (Data) با يد څرنګه له احصائيې څخه په استفادي تفسير او تعبير کړو او بيا له هغه څخه په تصميم نيولو کي کار واخلو.

په هره اداره او مسلک کي د تصميم او پريکړي لپاره د ارقامو څخه نتيجه اخيستل يوه ډيره مهمه موضوع ده دبيلګي په ډول د دولت کارکونکي د هغه ورروستيو ارقامو څخه نتيجه اخلي چي په کار نه استخدام شوي خلګ په کي وښودل شي او د هغه لپاره يوه صحيح پاليسي جوړه کړي، د مالي پلان جوړونکي په مارکيټ کي هغه ارقام استعمالوي تر څو د قيمتونو ميلان وښيي او د هغه لپاره د پانګي اچوني پاليسي جوړه کړي، تجاران په مارکيټ کي  د هغه ارقامو څخه استفاده کوي چي هغه توليدات تهيه او برابر کړي چي مصرف کوونکي يي تقاضا لري، د فابريکو د توليد مسئولين هغه ارقام استعمالوي تر څو ارزونه، کنترول، کيفيت او د فابريکو د توليد پرمختګ په کي څرګند شي، سياست پوهان په عام ډول له هغه ارقامو څخه استفاده کوي چي د رايو ورکولو يا د رايو شميرني کي استعماليږي او د هغه لپاره قانون ترتيب او تنظيم کړي او هم د کمپاين کولو لپاره يوه ستراتيژي جوړه کړي، په طبابت او کلينيکونو کي د هغه ارقامو څخه استفاده کوي چي د درملو موثريت او د جراحي  طرزالعمل پکي وښودل شي، تر څو مريضانو ته د ممکنه تداوي اسانتياوي تهيه کړي شي،هره اداره د خپلو کارونو د مخته بيولو لپاره د ارقامو له احصائيوي تحليل څخه استفا ده کوي, په خلص ډول ويلاي شو چي احصائيوي ميتودونه له مونږ سره په لاندي مواردو کي مرسته کولي شي:

1. د پرمختګ اوسمون د ضرورت ښودنه ( Demonstrate the need for improvement)
2. د پرمختګ د لارو پيدا کول (Identify ways to make improvement)
3. د پرمختګ د فعاليتونو ارزول چي ايا په کاميابي سره سرته رسيدلي دي او کنه؟

(Assess whether or not improvement activities have been successful)

4. د پرمختګ د سترا تیژي د ګټو تخمینول (Estimate the benefit of improvement strategies)

احصائیه هغه علم دي چي د هغې دنده د ارقامو راټولول، تنظیم، خلاصه کول، صنف بندي، تحلیل او بیا له هغو څخه روښانه نتیجه اخیستل دي. یعني له پراګنده معلوماتو څخه د یو واضح تفسیر ترلاسه کول د احصائیې هدف دي. له دې امله د کرني سکتور په هره برخه کي ارقامو سره سر و کار لري نو هیڅ امکان نه لري چي احصائیې ته ضرورت ونه لرو. د همدي اړتیا او ضرورت له مخي دغه کتاب د کرني پوهنځي کي د تدریس لپاره په نظر کي ونیول شو او د محصلانو په واک کي ور کړل شو.

د کتاب لیکونکي ددي ادعا نه کوي چي د احصائیې اړوند ټول موضوعات یي راټول کړي دي ممکن ځیني مهم معلومات د وخت د نه موجودیت او یا ځیني نورو عواملو له کبله پاته شوي وي خو امید لري چي دا وړوکي خدمت به د کرني او اقتصاد پوهنځیو استادانو، محصلینو او نورو علاقه مندانو ته د قبول وړ وګرځي او له محترمو لوستونکو څخه احترامانه هیله کوو چي د کتاب په مورد خپل نظر، انتقاد او پیشنهاد د په ahmmadzia@rediffmail.com الکترونیکي ادرس راولیږي ترڅو په راتلونکي چاپ کي د هغه تصحیح وشي.

# لومړي فصل

**د احصائيې تعريف:**

موږ په اوس وخت کي له يو عادي فرد څخه بيا تر يو مسلکي فرد پوري د احصائيه په اړه خبري کول، اورو چي دا يوازي موږ ته دا راښئي چي احصائيې ته څرنگه د ژوند د ورځنيو فعاليتونو سره ارتباط ورکړو. بيلا بيلو عالمانو په مختلفو وختونو کي د احصائيې لپاره بيلا بيل تعريفونه کړي دي.

**د بيلگي په ډول:**

Webster د احصائيې تعريف داسي کوي (د واقعيتونو تنظيمول چي په يوه سيمه کي د خلگو حالت څرگندوي په خاص ډول هغه واقعيتونه چي د عددي ارقامو (Numerical data) په بڼه راټول شوي وي او يا هم د جدولونو په شکل ترتيب شوي وي).

Croxton او Cowden د احصائيې د پيژندلو لپاره شايد ښه تعريف کړي وي د دوي له نظره احصائيه داسي تعريف شوي ده:

(د ساينس هغه برخه ده چي د عددي ارقامو د راټولولو، تحليلونوانالايز او ارايه کولو څخه بحث کوي).

احصائيه په علمي ډول دارقامو راټولول، تنظيمول، انالیز او ارايه کول د يوهدف لپاره له هغوي څخه نتيجه ترلاسه کول، تصميم نيول او دموثره پريکړه کولو څخه عبارت ده.

احصائيه کيداي شي د جمع او يا هم د مفرد په معني استعمال شي:

**احصائیه (Statistics) د جمعي په معني :**

د واقعیتونو او شکلونو یوه سیستماتیکه ښوونه ده، چې اکثریت خلک یې په دې مفهوم سره استعمالوي چې دوي یواځې د واقعیت او شکل معني ورڅخه اخلي نو دغه شکلونه ښئي.

- ➢ د غله جاتو او سبزیجاتو د تولید ثبتونه.
- ➢ د غنمو د کرلو ساحه په مختلیفو کلونو کې.
- ➢ د سړي سر عاید په یو مشخص ځای او بیلابیلو وختونو کې او داسې نور.

دغه ډول ټول واقعیتونه او شکلونه د تجارت، اقتصاد په مجلو کې او هم د احصائیې په رسالو او اخبارونو کې په مجموعي توګه خپریږي.

**احصائیه (Statistic) د مفرد په معني :**

احصائیه ساینس دي چې د ارقامو راټولونه، طبقه بندي کول، جدول جوړونه، تحلیل او ارائه کولو سره سروکار لري .

د statistic کلمه دیوی لاتینی کلیمې څخه چې د state معني لري، اخیستل شوي ده چې معني یې په سیاسي توګه بدله شوه. د خلکو تنظیمول د دولت په واسطه لکه څرنګه چې دولت د ارقامو په راټولونه کې ورڅخه استفاده کوله، لکه:

- د خلکو مالي وضعیت
- د تولد شمیرنه
- د مړیني د ارقامو راټولونه
- د آزادي شخصیتونه
- د پوځ شمیرنه
- د صادراتو او وارداتو ارقام او داسې نور.

څرنګه چي د ارقامو راټولونه د دولت وظيفه ده، نو احصائيه د دولت په واسطه پيژندل شوي وه  چي په اوسنی وختونو کي د ساينس او ټولنيزو علومو په ټولو ځانګو کي حتي په ادبياتو کي هم لوستل کيږي.

د احصائيې نامتو عالم Fisher له نظره احصائيه دري مهمي دندې په بر کي نيسي:

- ✓ د احصائيوي نفوسو مطالعه
- ✓ په احصائيوي نفوسو کي د تفاوت مطالعه
- ✓ د ارقامو د کمولو د ميتود مطالعه

P.C.Mahalanobis د احصائيې عالم احصائيه له يو ډاکتر سره مقايسه کوي. هغه په دې معني کله چي يو ډاکتر ناروغ ته د هغه د ناروغي مطابق د درملو نسخه ليکي. همدارنګه د احصائيې عالم د مربوط ارقامو د واضح ښودلو او ارايه کولو لپاره احصائيوي تخنيک پيشنهادوي.

د احصائيې له ځيني نيمګړتياوو څخه هم يادونه کوو:

کله چي د ارقامو په راټولولو کي پاملرنه او دقت نه وي شوي، نو خلک په احصائيه باندي باور نه لري ځکه چي:

- ارقام قابل د اطمينان نه وي.
- د محاسبې او د عواملو ترمنځ ارتباط صحيح نه وي.
- د غلطې د واقع کيدو د مخنيوي څخه بغير د کوچنې نمونې عمومي کول په جمعيت باندي.

که د ارقامو مراقبت په احصائيوي ميتود سره په دقيق او صحيح ډول سرته ورسيږي نو په احصائيه باندي نه باور درلودل به له منځه لاړ شي او ارقام به په يو ځای کي خلاصه او واضح ډول ارايه شي او مناسبه نتيجه به لاسته راوړي.

**د احصائيې ډولونه:**

**احصائيه په دوه ډوله ويشل شوي ده:**

**1. تشريحي احصائيه (Descriptive Statisics): د احصائي هغه برخه ده چي د محاسبي خلاصه کول، د ګرافونو، چارټونو او جدولونو د جوړولو څخه بحث کوي.**

**2. استنباطي احصائيه (Infrential Statistics): د هغه ميتود څخه عبارت دي چي د سمپل څخه نفوس (جمعيت) ته عموميت ورکوي. د بيلګي په ډول د يو ولايت د کورنيو ( the population) اوسط عايد کولاي شو چي د يو شکل په واسطه چي د يو څو زرو کورنيو (the sample) څخه ترلاسه شوي وي اټکل کړو.**

**د ارقامو راټولونه، طبقه بندي او جدول جوړونه**

Collection, Classification and Tabulation of Data

**کوم ارقام چي د احصائيوي څېړنې په اساس راټول شوي وي، پيچلي، مغلق او غير منظم وي چي د دارنګه ارقامو احصائيوي تحليل او ارايه کول ناممکنه ده، په همدې خاطر ضرور ده چي په دي مرحله کي د احصائيوي تخنيک کارول د احصائيې د عالم لومړني هدف دي چي ارقام د شکل او د دوي د اهميت پر اساس ترتيب او تنظيم کړي.**

**A)) د ارقامو راټولونه (Collection of data):**

**ارقام په دوه ډوله دي:**

a) لومړني ارقام (Primary data )

b) دوهمي ارقام (Secondary data )

**لومړني ارقام:** د ابتدايي منبع څخه د معلوماتو د راټولولو پر اساس تر لاسه کيږي.

ابتدايي ارقام د لاندي ميتود په اساس راټوليږي:

1. په خپله د څېړونکي د تحقيق په اساس.
2. د ساحوي څيړونکو د لارښووني او کومک په واسط د يوې پراخه سروې د سرته رسولو په اساس.
3. د پوست په واسطه د پوښتنليک (Questionnaires) د ليږلو په اساس.

په لومړي ميتود کي څرنګه چي څېړونکي نشي کولاي د لوړ قيمت او يا هم د کافي وخت د نه موجوديت په وجه يوه پراخه سروې سرته ورسوي، نو بنا پر دې دغه ميتود په وړو ( کوچنيو ) سروې ګانو کي موثر تماميږي او دغه ميتود د انفرادي څېړونکي لپاره غوره شوي دي چي يوه رساله د ماستري او د دوکتورا درجې لپاره په کرهنيزه توسعه، کرهنيز اقتصاد، د کور په منجمنټ او اداره او داسي نورو کي تسليموي.

په دوهم ميتود کي د څېړنې د مسئول او نورو متخصيصونو په مرسته د سروې د اهدافو په اساس ډير معلومات راټولوي.

ساحوي څېړونکي بايد د سروې له مېتودولوژي سره پوره اشنايي ولري او هم ځواب ويونکو ته د پوښتنليک د ډکولو او انټروي کولو په هکله لارښوونه وکړي.

ساحوي تحقيق کوونکي باید د انفرادي مرکي (انټروي) د میتود پر اساس پوښتنلیک تهیه کړي او پوښتنلیکونه د تحقیق مسئول ته د وروستي احصائیوي تحلیل او تجزیې لپاره تسلیم کړي. د ارقامو د راټولو دغه میتود او طریقه ډیره پانګه او وخت ته اړتیا لري، په دې اساس د ډیرو معلوماتو لپاره باید ډیره ساحه په بر کې ونیسي.

په دریم میتود کې پوښتنلیک په یوه خاص موضوع کې په سیستماتیکه توګه پوښتني ترتیبوي، د هو یا نه او یا هم انتخابي پوښتني د پوست په واسطه لیږي او د پوست په واسطه یې بېرته ترلاسه کوي. د ارقامو د راټولو لپاره دغه میتود آسانه، کم لګښته او هم جواب ویوونکي باید کافي زده کړي ولري تر څو پوښتنلیک په صحیح ډول ډک ( خانه پوري ) کړي او هغه بېرته واستوي او هم د سروې په اهمیت پوه وي.

**دوهمي ارقام:** د دوهمي منبع څخه د معلوماتو راټولونه ده.

دوهمي ارقام باید د معلوماتو د دوهمي منبع څخه ترلاسه شي لکه چاپي خپروني، مجلې او داسي نور.

**د ارقامو طبقه بندي (Classification of data):**

ارقام کولای شو په دوو طریقو طبقه بندي کړو:

1. د کیفیت په اساس طبقه بندي (Descriptive classification):

د اشخاصو یا دیوې موضوع کیفي طبقه بندي د Descriptive classification په نوم یادوي.

**د کیفیت په اساس طبقه بندي په دوه ډوله دي:**

- د یو صفت په اساس طبقه بندي (Classification by dicthomy): د افرادو یا اشیاوو طبقه بندي د یو صفت د درلودلو په اساس د ساده طبقه بندي په نوم یادوي لکه د ځمکي طبقه بندي د آبي یا للمي، د نفوسو طبقه بندي په کار مصروف او بېکاره، لیلیه او نهاري محصلین او داسي نور د ساده طبقه بندي مثالونه دي. .
- متعدده طبقه بندي ( Manifold classification ): د اشخاصو یا د یو شي طبقه بندي د یو څخه د زیاتو صفاتو د درلودلو په اساس طبقه بندي د متعددی طبقه بندي په نوم یادیږي. د مثال په توګه، کولاي شو چي ګلان د رنګ، شکل یا ترکیب په اساس طبقه بندي کړو یا شاګردان د صنف، د اوسیدو ځای او د جنس په اساس طبقه بندي کړو.

2. د کمیت ( شمیرني ) په اساس طبقه بندي ( Numerical classification)

د اشخاصو یا د یوې موضوع طبقه بندي د مقدار د خصوصیاتو په واسطه لکه لوړوالي، وزن، عاید محصول، عمر او داسي نور چي دې نوع طبقه بندي ته Numrical Classification وایي.

(1, 1) جدول: 227 تنه شاگردان په لاندي توگه د دوي د وزن په اساس صنف بندي شوي دي.

| وزن (پونډ) | 90-100 | 100-110 | 110-120 | 120-130 | 130-140 | 140-150 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د شاگردانو شمیر | 20 | 35 | 50 | 70 | 42 | 10 |

**د ارقامو څخه جدول جوړونه (Tabulation of Data ):**

جدول جوړونه د زیاتو معلوماتو ښودنه آسانه او مختصره کوي د بیلابیلو عمومي او فرعي عنوانو لاندي نو ځکه ارقام په جدول کي د احصائیوي تجزیې لپاره چمتو کوي. د جدول بیلابیل ډولونه په لاندي توگه ښودل کیږي:

**1) ساده جدول جوړونه ( Sample tabulation ):**

د ارقامو څخه جدول جوړونه د یوخصوصیت یا د یو عامل په اساس د ساده جدول جوړوني په نوم یادیږي. لکه جدول جوړونه د غنمو د مختلفو لوړ حاصل لرونکو ورایتیو په یو مشخص ولایت، ساحه، یا د خاورو په بیلو بیلو ډولونو کي د دي ډول جدول جوړوني مثال دي.

**2) دوه گوني جدول جوړونه ( Double Tabulation ):**

د دوه صفاتو عواملو په اساس جدول جوړونه د ( ډبل ټیبلیشن ) په نامه یادیږي. د مثال په توگه د نباتاتو څخه جدول جوړونه د خړوبه کیدو او نه خړوبه کیدو په اساس.

**3) دري گوني جدول جوړونه (Triple Tabulation ):**

د دري څخه د زیاتو خصوصیاتو په نظر کي نیولو سره، کولای شو چي دا ډول جدولونه ایجاد کړو چي د ټریپل ټیبیلشن په نوم یادیږي. د مثال په توگه د نفوسو څخه جدول جوړونه د جنس، سواد او شغل په اساس.

**4) ځوګوني ( مختلط ) جدول جوړونه ( Manifold Tabulation ):**

که چیري د دري څخه د زیاتو خصوصیاتو لرونکي جدول جوړوو، دا د مونیفولډ ټیبلیشن په نوم یادیږي.

مثال: د یو پوهنتون د محصلینو د ارقامو څخه جدول ترتیبول، د اوسیدو د اصلي هستوګنځي، فعلي هستوګنځي، جنس، ټولګي او داسي نورو په اساس.

دارقامو څخه په جدول جوړونه کي باید د احتیاط څخه کار واخیستل شي او لاندي ټکي په نظر کي ونیول شي:

- ✓ د جدول عنوان ترممکنه حده پوري باید لنډ ( مختصر) وي او د جدول ټول محتویات په ځان کي ولري.
- ✓ فرعي عنوانونه باید ورکړل شي که چیري د معلوماتو کومه برخه ورته ضرروت ولري.
- ✓ د جدول مختلیفي برخي باید په منطقي تسلسل په نظر کي نیولو سره جوړي شي.

د مثال په توګه د ولایاتو په نوم لیکنه کي باید د الفبا د حروفو ترتیب په نظر کي ونیول شي. نباتات د هغوي د ارزښت او مصرف په نظر کي نیولو سره ترتیب کړاي شي. د محصلینو عمرونه د کم عمر څخه شروع او تر ډیر عمر پوري ترتیب شي او داسي نور.

منبع یا لمنلیک باید د جدول په آخر کي ورکړل شي.

**تمرينات:**

1) د هيواد په يو پوهنتون کي 1200 تنه استادان دي چي د هغوي د جملې څخه 600 په کرهنه، 340 تنه په وترنري، 200 د ساينس او 60 تنه د انجنيري پوهنځيو پوري اړوند دي، او په هره پوهنځي کي د تحصيلي سويه، ليسانس، ماستر او دوکتورا ده. په همدې ترتيب د استادانو فعاليتونه په دريو کتګوريو ويشل شوي دي : تدريس، څیړنه او توسعه.

پورتني ارقام په يو مناسب جدول کي ترتيب کړي.

2) د احصائيې مرکزي اداري د في کيلوګرام غنمو مياشتني قيمت په افغانيو په 1358 کال کي په ګران هيواد کي په تـــــــــــــــــرتيب سره

7 – 7.64 – 7.92 – 7.92 – 7.64 – 7.50 – 7.50 – 64 .7 – 8.49 – 10.19 – 10.47 – 11.6

راپور ورکړي دي.

د پورته غنمو ماهوار قيمتونه د يو منظم جدول په شکل ترتيب کړي.

# دویم فصل

## د دفعاتو یا فریکونسي ویش

## Frequency Distribution

په جدول کي لومړنیو یا غیري ګروپي ارقامو د یو سیټ او مجموعي ترتیبول له یوې خوا دا رابښئي چي ارقام په ګروپونو یا صنفونو ویشل شوي، له بلې خوا دا باید وښودل شي چي ذکر شویو هر صنف او ګروپ پوري څو مشاهدي اړه لري. په دې ډول د جدول په واسطه د ارقامو صنف بندي او بیا د هر صنف د فریکونسیو ښودل، د دفعاتو د ویش په نوم یادیږي.

مثال : د کرهنې پوهنځې په فارم کې د 75 بوټو (مرچکو) لوړوالي په انچ سره مطالعه کوو:

17,8,23,24,26,13,31,16,14,35,6,11,12,11,15,21,10,3,4,1
9,35,36,19,40,28,17,12,2,27,31,11,21,16,34,39,1,7,12,1
3,10,6,13,22,8,21,24,22,26,28,17,6,5,15,11,16,28,4,3,1
9,27,35,37,14,2,9,8,16,26,13,12,16,14,27,31,6

فرضاً که موږ وغواړو له پورته ارقامو څخه 10 ګروپونه یا صنفونه جوړکړو، نو لومړي په مشاهدو کي د لوړ او ټیټ رقم ترمنځ تفاوت پیدا کوو چي هغه مساوي کیږي په 39=1-40 ، صنفي عرض یې مساوې دي له 39/10=3.9 سره. نو د کلاسونو صنفي عرض یې 4 نیسو چي له یو څخه شروع او تر 4 پوري ورسیږي. دکلاس انټروال وسعت یا سایزد لوړصنفي سرحد او ټیټ صنف سرحد ترمنځ د تفاوت څخه ترلاسه کیږي لکه په 1,2 جدول کي صنفي عرض داسي پیداکوو4=8.5-4.5=C باید ووایوچي ټولوصنفونوکي صنفي عرض سره مساوي

دي . د هر کلاس د بوټو تعداد به وشمیرل شي. او شمیر به یې د خطونو په واسطه چې Tally mark ورته وایي داسي وښودل شي چې لومړي څلور خطه لیکو او پنځم خط باندي نوموړي څلور خطونه قطع شي، لکه چې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي:

(1, 2) جدول: د75 بوټو (مرچکو) لوړوالي په انچ سره.

| کلاسونه Classes | ټالي Tally | فریکونسي Frequency | تجمعي فریکونسي Cumulative frequency | نسبي فریکونسي Relative Frequency | صنفي عرض Class interval | صنفي وسط Mid value | صنفي سرحد Class boundary |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 – 4 | 卌 \|\| | **7** | 7 | 9.30 | 4 | (1+4) ÷2 = 2.5 | 4.5 |
| 5 – 8 | 卌 \|\|\|\| | **9** | 7+9 = 16 | 12.00 | 4 | (5+8) ÷2 = 6.5 | 8.5 |
| 9 -12 | 卌卌 \| | 11 | 16+11 = 27 | 14.90 | 4 | (9+12) ÷2 = 10.5 | 12.5 |
| 13 -16 | 卌卌 \|\|\|\| | 14 | 27+14 = 41 | 18.90 | 4 | (13+16) ÷2 = 14.5 | 16.5 |
| 17 -20 | 卌 \| | **6** | 41+6 = 47 | 8.00 | 4 | (17+20) ÷2 = 18.5 | 20.5 |
| 21 -24 | 卌 \|\|\| | **8** | 47+8 = 55 | 10.90 | 4 | (21+24) ÷2 = 22.5 | 24.5 |
| 25 -28 | 卌 \|\|\|\| | **9** | 55+9 = 64 | 12.00 | 4 | (25+28) ÷2 = 26.5 | 28.5 |
| 29 -32 | \|\|\| | **3** | 64+3 = 67 | 4.00 | 4 | (29+32) ÷2 = 30.5 | 32.5 |
| 33 -36 | 卌 | **5** | 67+5 = 72 | 6.00 | 4 | (33+36) ÷2 = 34.5 | 36.5 |
| 37 -40 | \|\|\| | **3** | 72+3 = 75 | 4.00 | 4 | (37+40) ÷2 = 38.5 | 40.5 |
| | | 3 | | | | | |
| | | **75** | | 100.00 | | | |

د دفعاتو د وېش په جوړونه کي لاندي قواعد باید په نظر ونیسو:

**1**) د کلاسونو شمیر (Number of Classes ):

په عمومي توګه کلاسونه باید د 15 په شاوخوا کي وي، هیڅکله کلاسونه له 30 څخه زیات نه وي او نه هم له 6 څخه کم وي. که څه هم د دفعاتو په ویش کي صنفونه معین نه دي. ولي د کلاسونو شمیر د دفعاتو د ویش د ارقامو پوره معلومات ارایه کړاي شي.

دلته د صنفونو شمیر موږ کولاي شو د لوګاریتم په مرسته هم تعینوو او فورمول یې په لاندي ډول دي :

K = 1+ 3.322 LogN

**N** - دټولو مشاهدو شمیر ښئي

**Log** - د عدد لوګاریتم په قاعده د(۱۰).

**K**– د کلاسونو تعداد

د مثال په ډول، که چیري موږ 100 مشاهدي ولرو، نو د کلاسونو شمیر به یې :

K = 1+ 3.322 *2 = 1+ 6.644 = 7644 or 8

همدارنګه که چیري 500 مشاهدي ولرو، نو د کلاسونو شمیر به یې:

K = 1+ (3.322*2.699) = 1+ 8. 966 = 9. 966 or 10

د 1000 مشاهدو لپاره د کلاسونو شمیر:

K = 1+ (3.322*3) = 1+ 9.966= 10.966 or 11

2) **صنفي عرض** ( Class Interval ):

کلاس انتروال د ارقامو په فاصله او د کلاسونو په شمیر پوري اړه لري چي فاصله د مشاهدو د ټیټ رقم او لوړ رقم ترمنځ تفاوت ته ویل کیږي. کلاس انتروال باید مساوي وي، د مشاهدو د لوړ رقم منفي ټیټ رقم تقسیم د کلاسونو په شمیر باندي.

د کلاس انټرول د ښودلو لپاره لاندي فورمول استعمالیږي.

$$i = \frac{L - S}{C}$$

چیري چي :

i - کلاس انټروال

L - د مشاهدو لوړ رقم

S - د مشاهدو ټیټ رقم

C - د کلاسونو شمیر

3) **صنفي حدونه** ( Class Limits ):

د دفعاتو په ویش کي دا مهمه ده چي کلاس لیمټ یا د صنف دوه حدونه وپیژنو. د عیني صنف ټیټ حد او لوړ حد د کلاس د لیمټ څخه عبارت دي. د 4 – 1 په صنف کي 1 د همدي صنف ټیټ حد دي او 4 یې لوړ حد دي، یعني دا ښئي چي په دي صنف کي د ټیټ حد څخه کم رقم او لوړ حد څخه لوي رقم موجود نه دي.

4) **صنفي وسط** ( Midvalue or Midpoint ):

د صنفي عرض منځني نقطي د صنفي وسط په نوم يادېږي چي کولاي شو دا د عين صنف د لوړ حد جمع ټيټ حد تقسيم په **2** باندي تعين کړو. د **4-1** په صنف کي صنفي وسط داسي ټاکو:

$$\frac{1+4}{2} = 2.5$$

يعني د دې کلاس صنفي وسط **2.5** دي.

5) **صنفي سرحد**( Class Boundary ):

د مربوط صنف ټيټ حد او د مخکني صنف د لوړ حد اوسط د مربوط صنف لاندني سرحد او مربوطه صنف لوړ حد او د راتلونکي صنف ټيټ حد اوسط ته پورتني سرحد ويل کيږي.

6 ) **نسبي فريکونسي** (Relative Frequency):

نسبي فريکونسي د يو صنف د مربوطه فريکونسيو او مجموعي فريکونسي د نسبت څخه عبار ت دي.

7) **تجمعي فريکونسي** ( Cumulative Fequency ):

د يو صنف تر پورتني سرحده پوري د سلسلې د پيل او تر پايه پوري د فريکونسيو مجموعې ته د مربوط صنف متراکمه فريکونسي ويل کيږي.

کولاي شو چي ارقام په دوو طريقو سره صنف بندي کړو :

**1**. د صنف بندي غير متمادي ميتود (Inclusive Method of Grouping ):

په دې ميتود کي د هر صنف لوړ حد په نومو‌ړي صنف کي شامل دي، په لاندي مثال کي واضح کيږي.

(2, 2) جدول: د 100نباتاتو لوړوالي په سانتي متر سره.

**2**. د صنف بندي متمادې میتود( Exclusive method of Grouping):

| د نباتاتو شمېر | د يو نبات لوړ والي په سانتي متر |
|---|---|
| 16 | 10 - 19 |
| 24 | 20 – 29 |
| 25 | 30 – 39 |
| 10 | 40 - 49 |
| 25 | 50 – 59 |

په دي میتود کي د صنف لوړ حد په صنف کي شامل نه دي لکه لاندي ارقام په همدي توګه صنف بندي شوي دي.

**(3, 2)** جدول: د 100نباتاتو لوړوالي په سانتي متر سره.

| د نباتاتو شمېر | د يو نبات لوړوالي په سانتي متر |
|---|---|
| 16 | 10-20 |
| 24 | 20-30 |
| 25 | 30-40 |
| 10 | 40-50 |
| 25 | 50-60 |

په هغه صنفونو کي چي لومړي کلاس لوړ حد او د اخير کلاس کوچني حد معلوم نه وي، د خلاصو صنفونو په نوم سره یادیږي.

(4, 2)جدول: د 36 تنه محصلینو دسمستر د نهایي ازمویني نمري.

| صنفونه | فریکونسي (fi) |
|---|---|
| 10 - لږ | 4 |
| 10-20 | 8 |
| 20-30 | 14 |
| 30-40 | 6 |
| لوړ-40 | 4 |

## ګراف ښودنه (Graphic Representation):

ګراف د لیدو وړ هغه شکل یا تصویر ته وایي چي د احصائیېوي ارقامو په اساس ښودل شوي وي د ګراف پواسطه د دوه یا ډیرو پیښنو مقایسه یو له بل سره په اساني سره کیدي شي او په لاندي دوو شکلونو ښودل کیږي:

a) هستو ګرام (Histogram): د فریکونسي یا د دفعاتو د څپریدلو مستطیلي ګراف په احصائیه د هستوګرام په نوم یادیږي.

b) که چیري د هر مستطیل منځني نقطه یو له بل سره وصل کړو،هغه ته پولیګان (Polygon) وایي.

په لاندي ارقاموکي هستوګرام او پولیګان رسموو:

(5, 2) جدول: په 130میووکي دتخمونو شمیر.

| د میوي تخمونه | 17-19 | 20-22 | 23-25 | 26-28 | 29-31 | 32-34 | 35-37 | 38-40 | 41-43 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د میوي شمیر | 8 | 15 | 18 | 21 | 26 | 19 | 12 | 7 | 4 |




**1،2** شکل

**د هستوګرام رسمول په هغه صورت کي چي کلاس انتروال غيري مساوي وي:**

(6, 2) جدول: د 156 کورنيو ورځني عايد.

| د کورني ورځني عايد | د کورني شمير | Adjestment(10=1) | د فريکونسي غلظت Frequency density |
|---|---|---|---|
| 10-20 | 16 | 1 | 16 |
| 20-30 | 24 | 1 | 24 |
| 30-40 | 39 | 1 | 39 |
| 40-50 | 25 | 1 | 25 |
| 50-70 | 20 | 2 | 10 |
| 70-110 | 20 | 4 | 5 |
| 110-150 | 12 | 4 | 3 |




2, 2 شکل

**د ډیاګرام ښودنه (Diagrammatic Representation ):**

د ډیاګرام په مرسته د ارقامو ښودنه د **Diagrammatic Representation** په نوم یادیږي. او دیاګرام هغه وخت استعمالیږي کله چي دوه یا ډیر مقداري ارقام سره مقایسه کوو، او مشهور ډولونه یې په لاندي ډول دي:

**1. مستطیل ډوله ډیاګرام ( Bar diagram ):**

مستطیل ډوله ډیاګرام **Bar diagram** په دي ډول ډیاګرام کي د هر مستطیل لوړوالي په مستقیم ډول د عامل د لویوالي سره متناسب دي. د هر مستطیل دعرض او د مستطیلونو ترمینځ فاصله باید مساوي وي.

د مثال په توګه په لاندې جدول کي د یو ولایت آبي ځمکه د ډیاګرام په واسطه ښودل شوي ده.

(7, 2) جدول:په بيلابيلو کلونو کي داوبو لاندي ساحه په هکتارسره.

| کلونه | 1380 | 1381 | 1382 | 1383 | 1384 | 1385 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اوبو لاندي ساحه په هکتار | 15 | 17 | 18 | 18 | 20 | 22 |




3, 2 شکل

**2. مرکب مستطيل ډوله ډياګرام ( Component bar Diagram ):**

په دي حالت کي د مستطيل مرکبه برخه مستقيماً متناسب دي د عامل په لويوالي پوري. دلته هم بايد د مستطيل پراخوالي او د مستطيلونو تر مينځ فاصله مساوي وي. که چيري مرکبي برخي له دريو څخه ډيري وي دغه هندسي ډياګرام ډيرګټور نه دي.

(8, 2) جدول: د اوبو لګولو د منابع د سیستم فرعي ساحي چي په لاندي جدول کي ښودل شوي دي.

| کلونه | د اوبو لاندي ساحه په هکتار سره | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ټانکر | څاه | کانال | مجموعه |
| 1970 | 7 | 5 | 3 | 15 |
| 1971 | 7 | 6 | 4 | 17 |
| 1972 | 8 | 6 | 4 | 18 |
| 1973 | 8 | 6 | 4 | 18 |
| 1974 | 8 | 6 | 6 | 20 |
| 1975 | 9 | 6 | 7 | 22 |

مرکب مستطیل ډوله هندسي شکل د 3 ،6 جدول د ارقامو نمایندګي کوي چي په 3.3 شکل کي ئې کتلای شي.




4،2 شکل: – مرکب مستطیل ډوله ډیاګرام

### 3. ځوګوني مستطيل ډوله ډياګرام (**Multiple Bar Diagram**):

په دي ډول ډياګرام يا هندسي شکل کي د هر مستطيل لوړوالي په يو ګروپ مستطيلونو کي مستقيماً متناسب دي د ګروپ د انفرادي موادو سره. د مثال په ډول په تيرو کلونو کي د حبوباتو توليد، په مختليفو کلونو کي د باسواده خلکو ښودنه او يا هم د پارلمان ځوکيو ته د بيلا بيلو ولاياتو د سهميې انتخاب او داسي نور کيداي شي چي د ځوګوني بار ډياګرام په واسطه وښودل شي.

(9, 2) جدول**:** لاندي ارقام د يوې اداري د کارکوونکو ورځنۍ اجوره په مختليفو کتګوريو او کلونو کي ښئي.

| کلونه | نارينه | ښځينه | کوچنيان |
|---|---|---|---|
| 1950 | 0.75 | 0.50 | 0.30 |
| 1960 | 1.50 | 1.00 | 0.75 |
| 1970 | 2.50 | 2.00 | 1.50 |
| 1975 | 4.00 | 3.00 | 2.50 |

ځوګوني مستطيل ډوله ډياګرام د(9,2) جدول ارقامو څخه نماينده ګي کوي په **5,3** شکل کي

ورځنی اجوره (مزدوري)




**5،2 شکل: څوګوني مستطيل ډوله ډياګرام**

**4. دايروي ډياګرام ( Pie Diagram ):**

**دا ډول ډياګرام هغه وخت ډير مفيد دي کله چي دعواملو مرکبي برخي له دريو څخه ډيري وي دلته د مختلفو سکتورونو برخي په يوه دايره کي ښودل کيږي.**

**چي مستقيماً متناسب دي د مرکبو عواملو له ارزښت يا لويوالي سره که چيري m1 د لومړي مرکب ارزښت يا لويوالي وي او m د عواملو مجموعي ارزښت وي، نو:**

$$Q1 = 2\pi \frac{m1}{m} = 360 \frac{m1}{m}$$

**چيري چي $Q_1$ يوه زاويه ده د لومړي سکتور، همدارنګه ... $Q_2, Q_3$ کولي شو چي د $2\pi$ ضرب د $\frac{m2}{m}$ ، $\frac{m3}{m}$..... له لاري پيدا کړو. پس له دي چي...$Q_1$ , $Q_2$ لاس ته راوړل شي په مختلفو سکتورونو کي کولاي شو هغه په يوه دايره کي رسم کړو چي د مرکب هره برخه انفرادي نمايندګي کوي.**

**د دايري قطر متناسب دي د عواملو له مجموعي ارزښت سره.**

مثال: لاندي ارقام د عينو مينه په شهرک کي د يوه کور دجوړيدو په موادو پوري اړه لري تاسي نومړي ارقام په دايروي ګراف کي وښاياست. تفصيل يې په لاندي جدول کي ورکړل شوي دي.

(10, 2) جدول: د يو کور دجوړيدوځيني اړوند مواد.

| اقلام | قيمت په افغانيو | د زاويو بر خي (Angles of sectors) | د فيصدي په اساس |
|---|---|---|---|
| سمنټ | 26000 | $360 * \frac{26000}{100000} = 93.6^\circ$ | 100 *26000/100000 = 26% |
| ګاډر | 20000 | $360 * \frac{20000}{100000} = 72^\circ$ | 100 * 20000/100000 = 20% |
| اوسپنه | 19000 | $360 * \frac{19000}{100000} = 68.4^\circ$ | 100 * 19000/100000 = 19% |
| خښته | 15000 | $360 * \frac{15000}{100000} = 54^\circ$ | 100 * 15000/100000 = 15% |
| دکار ګرو مزدوري | 12000 | $360 * \frac{12000}{100000} = 43.2^\circ$ | 100 * 12000/100000 = 12% |
| متفرقه | 8000 | $360 * \frac{8000}{100000} = 28.8^\circ$ | 100 * 8000/100000 = 18% |
| جمله | 100000 | 360° | 100 |

د پورته جدول ارقام په دايروي ګراف کي په 6،**2** شکل کي ښودل شوي دي.




**6،2 شکل: دايروي ډياګرام**

### 5. تصويري ډياګرام (Picture diagram):

**چې دي ته فکتوريل يا چارت هم وايې، دلته هر عامل په تصوير سره ښئي د تصوير لوړوالي مستقيماً متناسب دي د عواملو له لويوالي يا ارزښت سره. د مثال په توګه د غنمو توليد کولاي شو چې د غنمو د وږي په اساس، د پوليسو شمير د يو عسکر په اساس او د تراکتورونو شمير د تراکتور په سايز سره وښيو.**




**7،2 شکل: تصويري ډياګرام**

**خطي دیاګرام (Line Diagram):**

دارقامو د ښودني يو آسانه دیاګرام دي، چي د عواملو فريکونسي د خط په شکل ښودل کيږي چي د **X** په محور متحول عامل په نښه کيږي او د **y** په محور د هغه فريکونسي ليکل کيږي او د مستقيم خط په واسطه نوموړي نقطي سره وصل کيږي چي د خط اوږدوالي د فريکونسي سره متناسب دي.

د مثال په توګه،په تيرو يوولسو کلونو کي د ارغنداب په ولسوالي کي د انارو توليد متريک (MT) ټن په في هکتارځمکه کي په لاندي ډول اټکل شوي دي، خطي ګراف يې رسم کړي:

(11, 2) جدول**:** په بيلا بيلو کلونو کي د توليد مقدار**.**

| کلونه | 1378 | 1379 | 1380 | 1381 | 1382 | 1383 | 1384 | 1385 | 1386 | 1387 | 1388 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| توليد MT | 200 | 285 | 225 | 250 | 240 | 195 | 210 | 225 | 250 | 230 | 235 |




**8, 2** شکل خطي ډياګرام

د ډیاګرام ګټې: یو ډیاګرام، یا هندسي شکل همیشه د عددي ارقامو په نسبت په سترګو واضح ښکاري، کله چې له یوه څخه زیات ډیاګرام موجود وي دا په آساني سره یو له بله مقایسه کیداي شي توپیر یې کیږي او د یو نا آشنا فرد لپاره هم آسانه دي چې ورباندې پوه شي.

**تمرینات:**

1- د احصایې په یوه صنفي ازموینه کې د 40 تنو محصلینو نمري د 50 څخه په لاندې توګه اټکل سوي.

44, 24, 22, 32, 37, 29, 28, 22, 20, 23, 37, 34, 30, 30, 32, 35, 43, 47, 42, 35, 23, 35, 33, 38, 46, 21, 20, 33, 34, 40, 44, 49, 27, 25, 30, 32, 36, 38, 21, 38

a. د پورته ارقامو څخه پنځه صنفونه جوړ کړي؟

b. د فعات یې په ټالي او هم ئی د ارقامو په بڼه وشمیري؟

c. کوم صنف ډیر لوړ دفعات لري او د ټولو مشاهداتو څو فیصده جوړوي؟

d. څو تنو محصلینو د 40 څخه زیاتي نمري اخیستي دي؟

e. د دفعاتو هستوګرام او پولیګان یې رسم کړي؟

2-د ډنډ په ولسوالي کې په 1357, 1358, 1359کلونو په جریان کې د غنمو تولید په ترتیب سره،77، 90،او 123 ټنه وه ساده جدول یې ترتیب او خطي ګراف یې رسم کړي.

3- د 100 کورنیو ورځني عاید په افغانیو سره په لاندې ډول اټکل شوي دي:

36,32,41,41,22,27,35,29,45,30,33,27,44,31,36,31,29,13,28,33,25,45,24,52,23,38,40,40,38,40,40,42,34,35,40,40,10,28,15,28,27,25,24,40,39,33,40,39,39,41,26,36,35,32,30,32,35,41,10,45,39,33,28,43,37,26,23,42,37,42,40,40,37,36,33,20,23,42,28,37,44,36,40,39,41,39,38,38,16,41,47,33,28,42,39,31,39,18,36,45

که چيري صنفي عرض يې **3** وي اخيري صنف يې 54-52 شي لاندي اجزاوي په کي حل کړي:

1. د فعات هم د ټالي او هم يې د ارقامو په بڼه وښياست.
2. کوم صنف لوړ دفعات جوړوي او څو فيصده کيږي.
3. څو کورني هره ورځ له 40 زيات عايد لري
4. څو کورني له **28** څخه کم عايد لري
5. که د هري کورني عايد 10 چنده شي د پنځم صنف مربوطه کورني به څومره عايد ولري

**4** – لاندي جدول د 65 کارګرانو د هفتي مزدوري په ډالرو سره په يو ساختماني شرکت کي ښيئ.

| 310.00 - 319.99 | 300.00 – 309.99 | 290.00 - 299.99 | 280.00 – 289.99 | 270.00 - 279.99 | 260.00 – 269.99 | 250.00 – 259.99 | مزدوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | 5 | 10 | 14 | 16 | 10 | 8 | کارګران |

a. د شپږم صنف کوچني حد وښئي ؟
b. د څلورم صنف لوړ حد وښئي ؟
c. د دريم صنف صنفي وسط پيدا کړي ؟
d. د دريم صنف فريکونسي څو فيصده ده؟
e. هغه صنف وښاياست چي لوړه فريکونسي ولري؟
f. پنځم صنف انټروال يې پيدا کړي؟
g. د دريم صنف فريکونسي پيداکړي؟

h. د پنځم صنف حد ونه وښئي ؟

i.  د هغه کارګرانو فیصدي و ښئي چي په هفته کي د 300.00 ډالرو څخه ډیري ګټي؟

j.او هم هغه چي د 280.000 ډالرو څخه زیاتي ګټي ؟

5  -د لاندي جدول ارقام په یوه ولسوالي کي د ویني د ګروپ تقسیم ښئي:

| مجموعه | AB | O | B | A | د ویني ګروپ |
|---|---|---|---|---|---|
| 1629 | 122 | 521 | 559 | 427 | نارینه |
| 1181 | 85 | 367 | 412 | 317 | ښځینه |
| 2810 | 207 | 888 | 971 | 744 | مجموعه |

تاسو نوموړي تقسیمات په پاي ډیاګرام Pie Diagram کښي وښایاست ؟

6-د ډنډ په ولسوالي کي د جوارو او غنمو اوسط حاصل په یوه هکتارکی(MT) سره په بیلابیلو کلونو کي په لاندي ډول اتکل شوي دي.

| 1384-85 | 1385-86 | 1386-87 | 1387-88 | کلونه |
|---|---|---|---|---|
| 0.52 | 1.38 | 1.41 | 1.64 | جوار |
| 1.38 | 2.02 | 1.91 | 2.26 | غنم |

پورتني ارقام په څوګوني بار ډیاګرا کي وښایاست.

7-لاندي ارقام د هیواد د انګورو د کرلو ساحه په بیلابیلو کلونو کي ښئي.

| 1960 | 1961 | 1962 | 1963 | 1964 | 1965 | کلونه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 20 | 22 | 27 | 30 | 32 | 34 | ساحه ( 100 جریبه ) |

پورتني ارقام په یو مناسب ډیاګرام کي وښایاست.

8- لاندي ارقام چي د تورو بانجانو د بوټو لوړوالي په سانتي متر سره ښئي

| په سانتي مترسره | 60-64 | 55-59 | 50-54 | 45-49 | 40-44 | 35-39 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ساحه ( 100 جریبه ) | 3 | 9 | 29 | 15 | 20 | 12 |

9-لاندي ارقام په 1378، 1379 او 1380 کلونو کي د هیواد د څلورو ولایتونو د ملي کرکت د لوبغاړو شمیر ښیي نوموړي ارقام په مرکب مستطیل ګراف کي وښایاست؟

| کلونه | ولایتونه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | لغمان | خوست | کابل | ننګرهار | مجموعه |
| 1378 | 4 | 14 | 14 | 8 | 40 |
| 1379 | 8 | 17 | 21 | 12 | 58 |
| 1380 | 4 | 10 | 18 | 16 | 48 |

10- لاندي ارقام د هیواد په 40 فابریکو کي کلني تولید په (M.t) سره ښیي تاسو له نوموړو ارقامو څخه لاندي جدول تکمیل او پاتي برخي یي ډکي کړي.

138 164 150 132 144 119 149 180 146 158
140 147 136 148 152 144 168 126 138 176
163 119 154 165 146 172 142 147 135 153
140 135 161 145 135 142 150 156 145 128

| صنفونه<br>X | فريكونسي | خط بندي<br>Tally | نسبي فريكونسي<br>Relative frequency | متراكمه فريكونسي<br>Cummulative Frequency | صنفي وسط<br>Midpoint | صنفي عرض<br>Class intervals | صنفي سرحد<br>Class boundary |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 118 -126 | | | | | | | |
| 127 -135 | | | | | | | |
| 136 -144 | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| 172 -180 | | | | | | | |

## دريم فصل

### د مرکزي مېلان داندازه ګيري مقياسونه

### Measures of Central Tendency

همېشه د دي توصيه کيږي چي د ارقامو ګروپ په يوې مشاهدې سره تهيه شي، په داسي حال کي چي هغه کوم مهم معلومات چي ارقام يې لري، له لاسه ورنکړي او له هغه څخه ډير مهم معلومات تر لا سه کړي چي دغه ارزښت کوم چي د يو ګروپ د ارزښت نماينده ګي کوي د مرکزي ميلان مقياس په اصطلاح سره ياديږي چي دغه ارزښت بايد د ګروپ د ارقامو نماينده يا بيلګه وي .

د مرکزې ميلان مقياسونه بيلابيل دي چي په لاندې ډول ذکر کيږي:

اوسط چي په عمومي توګه په دوه کته ګوريو ويشلاي شو:

1 – رياضيکي (Mathematical) اوسط

2– د موقعيت (Positionel) اوسط

رياضيکي اوسط په حسابي اوسط، هندسي اوسط او هارمونيک اوسط باندي ويشل شوي دي او د موقعيت په اساس اوسط په ميانه او موډ باندي ويشل کيږي:




1،3 شکل

## حسابې اوسط ( **Arithmetic Mean** ) :

**په غير صنف بندي شويو ارقامو کې حسابي اوسط**

Determination of Arithmetic Mean of Ungrouped Data

حسابي اوسط په دې ډول پيژندل کيږي چې ټولې مشاهدې جمع او بيا يې د مشاهدو په شمير باندې تقسيموو.

که چيرې $x_1$ , $x_2$ ... $x_n$ مشاهدې ولرو، نو حسابي اوسط يې په لاندې ډول پيدا کوو.

$$x' = \frac{1}{n}\,[x1 + x2 + x3 \ldots + xn] = \frac{\Sigma xi}{n}$$

نو په لاندې ډول يې هم ليکلاي شوو چې:

$$X' = \frac{\Sigma xi}{n}$$

دلته :

X' – حسابي اوسط

Σ - سيګما يا زيګما (يوناني توري دي) د جمع حاصل يا مجموعه

Xi - مشاهده يا رقم

N - د مشاهدو شمير

مثال : د يوې غوا د 10 ورځو شيدو اوسط په کيلو ګرام سره پيدا کړي؟

15, 18, 15, 18, 16, 9, 13, 20, 16, 17, 21, 19

$$x' = \frac{15 + 18 + 16 + 9 + 13 + 20 + 16 + 17 + 21 + 19}{10} = 16{,}4kg$$

**د فرضي اوسط په طريقه ( Linear Transformation Method ):**

که چيري د مشاهدو ارزښت لوړ او ډيري مشاهدي ولرو او د دوي په منځ کي تفاوت لږ وي، نو دLinear transformation method  ميتود کي محاسبه اسانه او د وخت سپما هم کيږي .

$d_i = X_1 - A$  چيري چي **A** ته اختياري اوسط ويل کيږي او د ټيټ او لوړ قيمت ترمنځ يو قيمت اخلي.

$$x' = A + d'$$

$$= A + \frac{\Sigma di}{n}$$

دلته:

$x'$ - حسابي اوسط

A-اختياري اوسط

(xi – A ) - تفاوت له اختياري اوسط څخه

په پورتني مثال کي A = 15 سره.

(1, 3) جدول: د يوې غوا د 10 ورځو شيدو اوسط په کيلو ګرام سره.

| مسلسل شميره | xi | di = (xi – A) |
|---|---|---|
| 1 | 15 | 0 |
| 2 | 18 | 3 |
| 3 | 16 | 1 |
| 4 | 9 | -6 |
| 5 | 13 | -2 |
| 6 | 20 | 5 |
| 7 | 16 | 1 |
| 8 | 17 | 2 |
| 9 | 21 | 6 |
| 10 | 19 | 4 |
| | | 14 |

$X' = A + \frac{\sum di}{n}$

$= 15 + \frac{14}{10}$

$= 16.4kg$

**فريکونسي لرونکي ارقاموکي د اوسط محاسبه** ( Discretie Frequency Distribution ):

که چيري $F_1, F_2, \ldots Fn$ n مشاهدې يا فريکونسي وي د $X_1, X_2 \ldots Xn$ بيلا بيلو ارزښتونو په ترتيب سره نو ليکو:

$X' = \frac{\sum fixi}{\sum fi}$

**(2, 3)** جدول: لاندي صنف بندي شوي ارقام په في يا يوه نبات کي د ګلانو شمير ښيي او سط يي محاسبه کړي؟

| د ګلانو شمیر xi | نباتات fi | fixi |
|---|---|---|
| 0 | 5 | 0 |
| 1 | 10 | 10 |
| 2 | 12 | 24 |
| 3 | 16 | 48 |
| 4 | 8 | 32 |
| 5 | 7 | 35 |
| 6 | 2 | 12 |
| | 60 | 161 |

$X' = \frac{\sum fixi}{\sum fi}$ = 161÷60=2.68

**په صنف بندي شويو ارقامو کي د حسابي اوسط محاسبه:**

Determination of Arithmetic mean of Grouped Data)

(

:Direct method (a

که چيري fn --- ,f1, f2 n مشاهدي يا فريکونسي وي د --- ,x1, x2

xn د صنفي کلاس انتروال عرض منځني ارزښت مطابق وی، نو حسابي اوسط يې

عبارت دي له:

$$x' = \frac{\Sigma fixi}{\Sigma fi} = \frac{\Sigma fixi}{N}$$

په لاندي درکړل شوو مشاهدو کي د پاڼو د عرض اوسط پیدا  : جدول(3 ,3)
کړي؟

| د پاڼو عرض په Cm | د پاڼو شمیر (fi) | صنفي وسط (xi) | fixi | di=xi-A /c | fidi |
|---|---|---|---|---|---|
| 2-4 | 7 | 3 | 21 | -2 | -14 |
| 4-6 | 10 | 5 | 50 | -1 | -10 |
| 6-8 | 19 | 7 | 133 | 0 | 0 |
| 8-10 | 15 | 9 | 135 | 1 | 15 |
| 10-12 | 9 | 11 | 99 | 2 | 18 |
| 12-14 | 3 | 13 | 39 | 3 | 9 |
| | 63 | | 477 | | 18 |

$X'$= 477/63=7.57cm

b - د فرضي اوسط په طریقه (Linear Transformation Method ):

$$x' = A + C\ \frac{\Sigma fidi}{N}$$

چیري چي   di=xi-A/c

دلته :

7=A

C= کلاس انتروال

نو له پورته  جدول څخه په استفادي سره لیکلای شو:

$X'$ =7+18x2/63=7.57

**د پورته اطميناني اوسط خصوصيات :**

د اطميناني اوسط خصوصيات عبارت دي له:

- هغه بايد درست فارمول ولري.
- د ټولو مشاهدو په اساس لاس ته راغلي وي .
- هغه بايد په آساني سره محاسبه شي .
- د الجبري عمليو تطبيق ورباندي کيدونکي وي .

**هندسي اوسط (Geometric Mean) :**

په يوه سلسله کي هندسي اوسط د سلسلي د عددونو د ضرب حاصل n ام جذر شخه عبارت دي که چيري x1,x2,x3....xn پوري **n** مشاهدي وي نو هندسي اوسط يي دلاندي فارمول په واسطه پيداکوو:

$$G.M = \sqrt[n]{x1.x2.x3 \ldots xn}$$

$$G.M = [x1.x2.x3 \ldots xn]^{1/n}$$

G.m – هندسي اوسط

n – دمشاهدو شمير

X – هر عدد يا مشاهده ده

که د لوګاريتم شخه استفاده وکړو نو پورتني فارمول په لاند ي توګه خلاصه کولي شوو

$$Log\ G.M = Log\ (X1.X2.X3 \ldots Xn)^{1/n}$$

$$Log\ G.M = 1/n[logx1 + Logx2 + \cdots + Logxn]$$

$$Log\ G.M = \frac{\Sigma(Logx)}{n}$$

$$G.M = Antilog\left[\frac{\Sigma(Logx)}{n}\right]$$

نو په دي اساس ليکلي شو چي هندسي اوسط د يو عامل د قيمتونودحسابي اوسط دلوګاريتمونودانتي لوګاريتم څخه عبارت دي.

مثال :په لاندي مشاهدو کي. هندسي اوسط (G.M )محاسبه کړي
6,8,11,12,21,13

$$G.M = (6*8*11*12*21*13)^{\frac{1}{6}}$$

Log G.M=1/6(log6+log8+log11+log12+log21+log13)
=1/6(o.7782+0.90311+1.0414+1.0792+1.3222+1.11
39) =1.0397
G.M=Antilog (1.0397) =10.96

په صنف بندي شويو ارقامو کي د هندسي اوسط محاسبه :

که چيري x1,x2,x3,………xn متحول عامل وي او f1,f2,f3,…fn په ترتيب سره د هغې فريکونسي وي، هندسي اوسط يي د لاندي فارمول په واسطه پيدا کولاي شوو:

$$G.M = (x1^{f1}, x2^{f2}, x3^{f3} \ldots\ldots xn^{fn})^{1/n}$$

نو:

Log G.M=1/N(f1logx1.f2logx2.f3logx3…..fn logxn)
G.M= antilog1/N(f1logx1.f2logx2.f3logx3….fnlogxn)

دلته $N= \Sigma fi$

(5, 3) جدول: په یوه مضمون کي د 50 تنو محصلینو نمري په لاندي ډول دي د هندسي اوسط څخه په استفادي سره وسطي نمره پیدا کړي.

| Classes | Frequency fi | Mid value xi | Log xi | fi log xi |
|---|---|---|---|---|
| 0-5 | 4 | 2.5 | 0.3979 | 1.5916 |
| 5-10 | 10 | 7.5 | 0.8751 | 8.7510 |
| 10-15 | 28 | 12.5 | 1.0969 | 30.7132 |
| 15-20 | 17 | 17.5 | 1.2430 | 21.1310 |
| 20-25 | 6 | 22.5 | 1.3522 | 8.1132 |
| 25-30 | 2 | 27.5 | 1.4393 | 2.8786 |
| | 67 | | | 73.1786 |

Log G.M= 1/67(73.1786) = 1.0922
G.M= antilog 1.0922 = G.M=12.37

مثال: په لاندي ارقامو کي هندسي اوسط وښیاست ؟

6.6, 7.7, 11.5, 10.6, 12.8

$$G.M = \sqrt[n]{x1.x2.x3\ldots xn}$$

$$G.M = \sqrt[5]{(6.6)(7.7)(11.5)(10.6)(12.8)} = 954$$

په یوه سلسله کي چي عددونه یي خلاف د صفر وي حسابي اوسط ، هندسي اوسط او هارمونیک اوسط په لاندي ډول یو د بل سره اړیکي لري.

$$A.M \geq G.M \geq H.M$$

## هارمونیک اوسط (Harmonic Mean):

هارمونیک یو ډول اوسط دي چي د استعمال محدود ځایونه لري او اکثرا د احصائیوي اشتباهاتو د مخنیوي لپاره ور څخه استفاده کیږي .له دي اوسط څخه معمولاً د ورځي یا په ساعت کي د تولید شوي محصولاتو د قیمتونو په تحلیل کي استعمالیږي. هارمونیک وسط د یوي سلسلي معکوس شویو عددونو حسابي اوسط معکوس ته هارمونیک ویل کیږي.

د بیلګي په ډول د (5) معکوس ⅕ دي او د (9)معکوس 9⁄1 دي او داسي نور.

په غیرصنف بندي شویو ارقامو کي د هارمونیک اوسط فارمول په لاندي ډول دي:

$$H.M = \frac{1}{1/n\left(\frac{1}{x1} + \frac{1}{x2} + \cdots \frac{1}{xn}\right)} = \frac{n}{\left(\frac{1}{x1} + \frac{1}{x2} \cdots + \frac{1}{xn}\right)} = \frac{n}{\Sigma(\frac{1}{x})}$$

مثال :لاندي ارقام د پیازو مقدار په کیلوګرام سره ښیي چي په في افغاني په شپږو مارکیټونو کي خرڅ شوي دي تاسو اوسط مقدار پیاز په في افغاني کي پیداکړي.

1.5 0.75 0.50 2.0 2.5 1.4

$$H.M = \frac{6}{\frac{1}{1.5} + \frac{1}{0.75} + \frac{1}{0.50} + \frac{1}{2.0} + \frac{1}{2.5} + \frac{1}{1.4}} = 1.07kg$$

په صنف بندي شوي ارقامو کي د هارمونیک اوسط محاسبه :

Dertermination of Harmonic Mean from Grouped Data

که چیري X1.X2.X3…Xn د n مشاهدو ارزښت وي کـــــــــــوم چي د

F1,F2,F3,…Fn فریکونسي په ترتیب سره ولري.

نو:

$$H.M = \frac{1}{1/N\left[\frac{f1}{x1} + \frac{f2}{x2} + \frac{f3}{x3} + \cdots \frac{fn}{xn}\right]} = \frac{N}{\Sigma \frac{f}{x}}$$

دلته: N=Σfi

**(5, 3)** جدول: په لاندي صنف بندي ارقامو کي هارمونیک اوسط محاسبه کړي.

| Classes | Frequency fi | صنفي وسط xi | $\frac{fi}{xi}$ |
|---|---|---|---|
| 3-6 | 6 | 4.5 | 1.33 |
| 7-10 | 9 | 8.5 | 1.06 |
| 11-14 | 14 | 12.5 | 1.12 |
| 15-18 | 20 | 16.5 | 1.21 |
| 19-22 | 10 | 20.5 | 0.49 |
| 23-26 | 2 | 24.5 | 0.08 |
| Total | 61 | | 5.29 |

H.M=61/5.29=11.5

میانه ( **Median** ) :

میانه هم د مرکزي میلان د مقیاس واحد دي او په غیر صنف بندي شویو ارقامو کي د میاني پیژندنه دارنگه کیږي چي لومړي ارقام په صعودي ډول تنظیموي او میانه په

دوه مساوي برخو ویشو یا په بل عبارت 50% مشاهدي به د میانه رقم څخه کوچني او 50% مشاهدي به د میانه رقم څخه لوي وي .

په غیر صنف بندي شویو ارقامو کي میانه ( Determination of Median from Ungrouped Data ):

**a-** که چیري مشاهدات طاق وي:

مثال: په یوساعته ازموینه کي د شاگردانو د لاندي نمرو میانه پیدا کړي؟

6, 9,13,4,11,8,12,9.5,7

لومړي ارقام د ارزښت په اساس له کوچني څخه تر لوي پوري ترتیب کوو او لیکو چي:

4, 6, 7,8,9,9.5,11,12,13

4, 6, 7, 8, 9, (9.5), 11, 12, 13 → Med.

د میاني عد د $= \frac{n+1}{2} = \frac{9+1}{2} = 5$

چیري چي:

n− د مشاهدو شمیر ښئي.

د مشاهدو پنځم رقم چي 9 کیږي، د میاني څخه عبارت ده.

(b که مشاهدات جفت وي:

یعني که نمري عبارت وي له: 6,9,13,4,11,8,12,9.5,7,8.58

د ارقامو له صعودي ترتیبولو څخه وروسته لرو چي :

4, 6, 7, 8, 8.5, 9, 9.5, 11, 12, 13

د میاني نمبر = $\frac{n+1}{2} = \frac{10+1}{2} = 5.5$ .

میانه رقم: ( شپږم رقم− پنځم رقم )0.5+ پنځم رقم

5+0.5 (8, 5-9) =8.75

اویا هم په نوموړوارقاموکي دوه مرکزي رقمونه جمع او بیا یې په دوه تقسیم کړو:

$$\frac{8.5+9}{2} = 8.75$$

مثال : په لاندې دوه سلسله یې ارقامو کي میانه(.Med ) محاسبه کړي:

A - 38, 34, 39, 35, 31, 37, 30, 40

$$Med. = \frac{n+1}{2} = \frac{9+1}{2} = 5$$

پنځم حد یې عبارت دي د میاني څخه:

B-28, 29,30,31,33,35,36,36

$$Med. = \frac{\text{پنځم حد} + \text{څلورم حد}}{2} = \frac{31+33}{2} = 32$$

نو میانه عبارت ده له **32** څخه.

**د میاني ګرافیکي ښودنه ( Graphic Location of Median ):**

د میاني ښودنه په ګراف کي په لاندي دوو طریقو سره ښودلای شو:

دګراف د رسم کولو لپاره د **y** په محور تجمعي فریکونسي په نښه کوواود **x** په محورباندي متحول عامل یا دصنفونوټیټ او لوړ حدونه لیکواو بیایي ګراف رسمووچي داډول ګراف ته دتجمعي فریکونسي منحني(Curve or ogive) هم وایي.

اول : د يوي منحني د ترسيم پواسطه (more than or less than).

دوهم : ددوو منحني ګانو د ترسيم په واسطه .

(3 ،7) جدول: لاندي صنف بندي ارقامو کي ميانه د ګراف په شکل کي ښودل کيږي.

| متحول عامل | 10-20 | 20-30 | 30-40 | 40-50 | 50-60 | 60-70 | 70-80 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فريکونسي | 4 | 6 | 10 | 15 | 11 | 7 | 3 |

| کم له منحني (**Less than ogive**) | | ډير له منحني (**More than ogive**) | |
|---|---|---|---|
| متحول **variable x** | **Cumulative frequency** تجمعي فريکونسي | متحول **variable x** | **Cumulative frequency** تجمعي فريکونسي |
| 20 | 4 | 10 | 56 |
| 30 | 10 | 20 | 52 |
| 40 | 20 | 30 | 46 |
| 50 | 35 | 40 | 36 |
| 60 | 46 | 50 | 21 |
| 70 | 53 | 60 | 10 |
| 80 | 56 | 70 | 3 |
| | | 80 | 0 |

$$Med. = \frac{n+1}{2} = \frac{56+1}{2} = \frac{57}{2} = 28.5$$

$$Median = L + \frac{\frac{N+1}{2} - m}{f} * C$$

$$Med. = 40 + \frac{28.5-20}{15} * 10 = 45.33$$

**لومړي میتود** : موږ یوه منحني د **less than ogive** په میتود کې رسموو چې د هغه په اساس موږ کولای شو د مياني ارزښت پیدا کړو. د **y** په محور **28.5** نقطه په نښه کوو او په هغې نقطه یو عمود رسموو او له هغې نقطې څخه چې په منحني رسمیږي د **x** په محور رسموو چې دا د میډیان یا مياني رقم دي.




2, 3 شکل

**دوهم میتود** : په دوهم میتود کې دوه منحني ګاني رسموو یوه د less than ogive په طریقه او بله more than ogive په طریقه له هغې نقطې څخه چې نوموړي منحني ګاني یوبل قطع کوي یوعمود د **x** په محور رسم کوو دغه نقطه چې د **x** په محور باندي د عمود پواسطه قطع کیږي د مياني یا median قیمت په لاس راکوي.




3, 3 شکل

**په صنف بندي شويو ارقامو کي ميانه** ( Determination of Median from Grouped ):

**که چيري $f_1, f_2 \ldots f_n$ په ترتيب سره د کلاسونو د صنفي وسط مطابق فريکونسي راکړل شوي وي، نو ميانه د لاندي فورمول پواسطه پيدا کولاي شوو:**

$$Median = L + \frac{\frac{N+1}{2} - m}{f} * C$$

**په پورتني فارمول کي:**

**L** – **د مياني د کلاس کوچني حد**

**c** – **د مياني د کلاس انتروال**

$\frac{N+1}{2}$ – **د مياني نمبر**

**f** – د مياني د كلاس فريكونسي

**m** – متراكمه فريكونسي

**مثال :** لاندي مشاهدات چي دماشومانو وزن ښئي په يو خاص محيط کي ميانه ئي پيداکړي .

جدول (6,3)

| د ماشومانووزن په (**kg**) | د ماشومانو شمير | متراكمه فريكونسي |
|---|---|---|
| 0-4 | 3 | 3 |
| 4-8 | **19** | 22 |
| 8-12 | 8 | 30 |
| 12-16 | 20 | 50 |
| 16-20 | 16 | 66 |
| 20-24 | 7 | 73 |
| | 73 | |

څرنګه چي 37 موقعيت لري د **30** او**50** په مابين کي نو ليکو چي د مياني کلاس **( 12-16)** دي.

$\frac{73+1}{2} = \frac{n+1}{2} = 37$

12 – L

4 – c

37 – N +1/2

20 – f

30 -m

$$\text{Med.} = 12 + \frac{37.30}{20} * 4 = 13.4$$

موډ ( Mode ):

مود په یوسیټ ارقامویا مشاهدوکي هغه رقم دي چي زیات تکرارشوي وي.

په غیرصنف بندي شویو ارقامو کي موډ پیدا کول ( Determination of Mode from Ungrouped Data ):

مثال: د20 تنه شاګردانود قد لوړوالي په انچ سره در کړل شوي دي موډېي پیدا کړي.

60,65,64,58,69,72,64,65,60,61,67,64,63,67,64,68,63,64,66

دا چي 64 عدد مکرراً تکرار شوي دي، نو لیکو چي:

مود = 64

کیداي شي په یو سیټ ارقامو کي موډ هیڅ وجود ونه لري او یا هم یو یا دوه او یا څو ګوني موډ وجود ولري. د بیلګې په ډول د ارقامو یا مشاهدو لاندي ګروپونه په نظرکي نیسو:

A: 9, 8, 5,3,2,1,6,4,7
B: 8, 9, 11, 10,10,7,6,12
C: 8,10,10,9,12,7,11,11
D: 80,70,16,20,20,45,50,65,80,50

د A ګروپ په ارقامو کي موډ وجودنه لري او د B ګروپ ارقامو کي د 10 رقم مود دي او د C ګروپ ارقامو کي 10 او 11 موډ دي او د D ګروپ په ارقامو کي 20 ,50 ,80 رقم موډ دي.

**په ګراف کې د موډ ښودنه ( Graphic location of Mode ):**

د فریکونسي په ویش کې د موډ رقم کولای شو په ګراف کې هم وښیو، نو د دې لپاره لومړي د ارقامو Histogram رسم کوو. څرنګه چې د موډ کلاس لوړترین مستطیل لري نو موږ کولای شو چې په لاندي توګه په هغه کې موډ پیدا کړو.

1- یو خط د لوړترین مستطیل د یو کونج څخه رسموو د متصل مستطیل پورتني برخې یو کونج سره.

2- دوهم خطه د لوړترین مستطیل د بل کنج څخه رسموو د متصل مستطیل د پورتني برخې د دوهم کنج سره.

3- وروسته یو عمود رسموو چې د نوموړي خطونو د تقاطع نقطه د **x** له محور سره وصل کړو کوم چې د موډ رقم یا ارزښت ښيي.

(8, 3) جدول **:** لاندي ارقام د غنمو د دانو شمیر په یو دانه وږي کې ښیئ تاسو د نوموړو ارقامو موډ په ګراف کې وښایاست.

| د غنمو وږي | د غنمو د دانو شمیر |
|---|---|
| 0-10 | 1 |
| 10-20 | 5 |
| 20-30 | 11 |
| 30-40 | 24 |
| 40-50 | 30 |
| 50-60 | 20 |
| 60-70 | 15 |
| 70-80 | 7 |
| 80-90 | 3 |

$$\text{Mode} = L + \frac{f - fp}{2f - fp - fs} * C$$

$$\text{Mode} = 40 + \frac{30 - 20}{60 - 24 - 20} * 10 = 40 + 3.75 = 43.75$$

**گرافيکي موقعيت ( Graphic location ):**

څرنگه د مود خط د**x** محورد 43.75 نقطه کي قطع کړيدي نود مود رقم يا ارزښت هم 43.75 دي.




دغنمو وږي

**4, 3** شکل

**په صنف بندي شوي ارقامو کي موډ (Determination of mode from grouped data):**

که چيري **$f_1, f_2 ... f_n$** په ترتيب سره دکلاسونو دصنفي وسط مطابق فريکونسي راکړل شوي وي نومود دلاندي فارمول پواسطه پيداکولاي شو.

$$Mode = L + \frac{f - fp}{2f - fp - fs} * c$$

**L** – د موډ د کلاس ټيټ حد

**f** – د موډ د کلاس فریکونسي

fp – د موډ د کلاس څخه لوړه فریکونسي

fs – د موډ د کلاس څخه ټیټه فریکونسي

c – د موډ د کلاس– کلاس انتروال

او د مود کلاس هغه دي چي لوړه فریکونسي ولري

**(9, 3)جدول:** په لاندي صنف بندي شوي ارقاموکي موډ پیدا کړي.

| ورځني مزدوري | دمزدورانوشمیر |
|---|---|
| 2-4 | 29 |
| 4-6 | 43 |
| 6-8 | 75 |
| 8-10 | 135 |
| 10-12 | 90 |
| 12-14 | 60 |
| 14-16 | 35 |
| 16-18 | 33 |

$$\text{Mode}=L+\frac{f-fp}{2f-fp-fs}*c$$

fs=90 fp=75 f=135 L=8

$$\text{Mod.}=8+\frac{135-75}{270-75-90}*2=9.14$$

**کارل پیرسن د ساده حسابي اوسط ، میاني او موډ اړیکي په لاندي ډول ښودلي دي:**

$$\text{MODE} = 3\text{MEDIAN} - 2\text{MEAN}$$

## تمرینات:

**1**: په لاندي ارقامو کي حسابي اوسط ، میانه او موډ محاسبه کړي؟

51.6 48.7 50.3 49.5 48.9

**2**: په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي حسابي اوسط ، میانه اوموډ محاسبه کړي؟

| لوړوالي په اینچ | 15 – 19 | 20 –24 | 25 – 29 | 30 – 34 | 35 – 39 | 44 – 40 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فریکونسي | 4 | 20 | 38 | 24 | 10 | 9 |

**3**: د غنمو حاصل په لسو مساوي فارمو کي په لاندي ډول راپور ورکړل سوي دي که چیري د هر فارم مساحت 242 متره مربع وي د في جریب اوسط حاصل پیداکړي؟

| فارمونه | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حاصل | 60 | 40 | 50 | 45 | 60 | 55 | 65 | 50 | 65 | 55 |

**4**: لاندي ارقام د 85 نباتاتو لوړوالي په سانتي متر ښییئ نو د دي نباتاتو د قد اوسط ، میانه او موډ پیدا کړي؟

| د نباتاتو لوړوالي | 32 – 30 | 35 – 33 | 38 – 36 | 41 – 39 | 44 – 42 | 47 – 45 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د نباتاتو شمیر | 8 | 12 | 20 | 29 | 10 | 5 |

**5**: لاندي ارقام په يوه ښار کي د 190کورنيوماياشتني عايد ښيئ ، حسابي اوسط يې پيدا کړي؟

| عايد | 20000– لږ | 20000-40000 | 40000-80000 | 80000-160000 | 160000-320000 | 320000 زيات– |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کورني | 64 | 45 | 32 | 26 | 10 | 13 |

**6**: د يوه تن محصل د سميستر په اخيرني ازموينه کي په بيلا بيلو مضامينو کي په لاندي توګه د لسو څخه نمري اخيستي دي د محصل د همدي سميستر اوسط نمري پيدا کړي؟

محصلينو نمري دي ميانه يي پيدا کړي

| نمري (**xi**) | 5 | 10 | 15 | 20 | 25 | 30 | 35 | 40 | 45 | 50 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دمحصلينو شمير (**fi**) | 20 | 43 | 75 | 76 | 72 | 45 | 39 | 9 | 8 | 6 |

**8**: په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي هندسي اوسط (G. M) او هارمونيک اوسط (H. M) پيدا کړي.

| توليد په ټن | 35-40 | 30-35 | 25-30 | 20-25 | 15-20 | 10-15 | 5-10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دفابريکو شمير | 1 | 4 | 7 | 23 | 19 | 9 | 5 |

**9 :** په لاندي غير صنف بندي شوي ارقامو کي هندسي اوسط او هارمونيک اوسط محاسبه کړي

12,13,14,12,14,15,12,14,13,14,14,15,12,11,16

**10 :** لاندي ارقام د 70 تنو کارګرو مياشتني عايد ښيي.

| عايد | 40-50 | 30-40 | 20-30 | 10-20 | 0-10 |
|---|---|---|---|---|---|
| کارګر | 12 | 17 | 19 | 14 | 8 |

**A.** پيداکړي چي ډير کارګران په کومه اندازه عايد لري.

**B.** په ارقامو کي حسابي اوسط ، ميانه او موډ محاسبه کړي.

**C.** د دفعاتو ګراف ( هستوګرام او پوليګان ) رسم کړي.

د څلورم صنف مربوطه مشاهدي د ټولو مشاهدو څو فيصده

**D.**جوړوي.

د پنځم صنف لوړ سرحد ، صنفي وسط او صنفي عرض په بيلابيله

**E.**توګه پيداکړي.

**F.** د **Mode = 3Median – 2Mean**

قاعدي له مخي د دريو واړو رابطه وښياست؟

**11**: لاندي ارقام په هيواد کي د **100** فابريکو کلني توليد په ټن سره ښيي ميانه او موډ يي محاسبه کړي.

| توليد په ټن سره | 70-80 | 60-70 | 50-60 | 40-50 | 30-40 |
|---|---|---|---|---|---|
| فابريکي | 8 | 20 | 34 | 26 | 12 |

12 : په يوه مشخص کال کي په يوه ښار کي د اوربښت ( باران) اوسط محاسبه کړي.

| اوربښت په سانتي متر سره | ډير-10 | 8-10 | 6-8 | 4-6 | 2-4 | 2 - لږ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ورځي | 12 | 8 | 26 | 20 | 14 | 10 |

# څلورم فصل

## په ارقامو کي د انحراف د درجې مقیاسونه یا د خپوروالي میلان
## Measures of Dispersion

په تیر فصل کي مو د مرکزي میلان مقیاسونه ولوستل چي یو شمیر مشاهدو کي مرکزي رقم یا ارزښت معلومیده د مشاهدو د مرکزي رقم یا ارزښت استعمال د هغو ډیر مهم خصوصیات په پام کي نه نیول. نو د دې لپاره موږ ته ضرور ده چي داسي احصائیوې مقیاسونه محاسبه کړو کوم چي د ارقامو له منځه وړي خصوصیات څرگند کړي. د مرکزي میلان مقیاسونه په عمومي توگه د مشاهدو د ارزښت لیول ښئي، مگر هغه نشي کولای چي پوره وضاحت یې وکړي، لکه په څو گرو په مشاهدو کي ممکن اوسط مساوي وي مگر عوامل یې د ارزښت له نقطي نظره ډیر متفاوت وي.

د بیلگي په ډول لاندي دري گروپ مشاهدي چي اوسط د ټولو مساوي دي.

| گروپ | | | | | | مجموعه | اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| X | 10 | 10 | 10 | 10 | 10 | 50 | 10 |
| Y | 12 | 14 | 8 | 6 | 10 | 50 | 10 |
| Z | 27 | 3 | 5 | 10 | 5 | 50 | 10 |

لیدل کیږي چي د **x** د گروپ ټولو ارقامو اوسط سره مساوي دي مگر د **y** او **z** د گروپ ار قام له اوسط سره تفاوت یا فرق چي دغه له اوسط سره تفاوت ته انحراف یا د خپور والي میلان (dispersion)وایي.

اوياهم د كرنيز اقتصاد اوترويج په ديپارټمنټ كي دوه تنه محصلين غواړي چي په علمي كادر كي د پاتي كيدو لپاره ازموينه وركړي چي دوي بايد څلور مضامين لكه كرنيز اقتصاد، كرنيز ترويج ، منجمنټ او اداره او د كرني سياست او پاليسي تدريس كړي.

كومي نمري چي دوي تر لاسه كړي دي له (100 څخه) 10،20،80،90 او 45،55،40،60 دي په ترتيب سره لومړي محصل په دوه مضامينو كي ډير ضعيف په نسبت د دوه نورو مضامينو، ولي دوهم محصل په ټولو مضامينو كي اوسط نمري اخيستي دي. په لومړي مرحله كي ډير تفاوت موجود دي په نمرو كي په داسي حال كي چي اوسط د دواړه 50 دي.

د لومړي محصل د نمرو فاصله 80=10-90 ده او ددوهم محصل -60 40=20 ده نو د مركزى ميلان مقياسونه د دارنگه عواملو نمايندگي په درست ډول نشوه كولاي.

د Neiswanger پروفيسور له قوله دوه گروپه مشاهدات ممكن متفاوته وي او يو عمومي اوسطه ميانه او مود ولري. نو د مركزي ميلان د مقيا س په اساس د دوي ارزښت ډير متفاوته دي.

اوسطه د يو سلسله ارقامو نماينده پيدا كوي او Dispersion يا د خپوروالي ميلان دا راښيي چي د اقامو پراگند– گي يا خپوروالي ددوي په خپل منځ كي او يا هم د اوسطه څخه څومره فاصله لري.

Measures of dispersion يا په ارقامو كي د انحراف د درجي مقياسونه:

1. فاصله **(Range)** :
2. کوارتل انحراف (Quartile deviation or semi-inter Quartile Range) :
3. وسطي انحراف (Mean deviation) :
4. میزاني یا معیاري انحراف (Standard deviation):
5. وریانس (Variance):
6. د تغیراتو ضریب (Coefficient of Variation):

**فاصله** ( Range ):

په یو سلسله ارقاموکي د لوړ رقم او ټیټ رقم ترمنځ تفاوت ته ویل کیږي.

او په غیر صنف بندي شویو ارقامو کي یي په لاندي ډول پیدا کولاي شو.

**مثال:** د **15** وزو وزن په (kg) درکول شوي تاسي یې رنج یا فاصله پیدا کړي.

30,25,14,42,18,26,21,11,35,32,29,23,20,19,13
Range = 49 – 11 = 38

دا چي فاصله د دوه ارقامو (لوي او کوچني رقم) تابع ده نو ځکه په عملي ډول ډیر استعمال نه لري که څه هم د فاصلي محاسبه ډیره اسانه ده او په هغه وخت کي ډیره د استفادي وړ ده کله چي ارقام همجنس وي. فاصله د چارټ په جوړیدو کي او هم د ورځي د حرارت د درجي ، د اوربښت ښودلو او داسي نورو مواردو کي ورڅخه استفاده کیږي.

**په صنف بندي شویو ارقامو کي د فاصلي محاسبه کیدل:**

په صنف بندي شویو ارقامو کي د فاصلي د پیداکولو لپاره د لاندي فارمول ځخه استفاده کوو.

**Range =** د لوړ کلاس لوړ حد – د ټیټ کلاس ټیټ حد

**(1, 4)** جدول **:** په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي فاصله محاسبه کړي؟

| صنفونه | 91-95 | 86-90 | 81-85 | 76-80 | 71-75 |
|---|---|---|---|---|---|
| فریکونسي | 8 | 7 | 5 | 3 | 1 |

**حل:**

**ټیټ کلاس** ( 71-75)

لوړ کلاس (91-95)

د ټیټ کلاس ټیټ حد 71

د لوړ کلاس لوړ حد 95

نو لیکو چي: Range= 95 – 71 = 24

**کوارتیل انحراف** (Quartile deviation or semi-inter Quartile Range):

کوارتیل (چاریک) انحراف هم په ارقامو کي د خپور والي یو معیار دي چي په دغه طریقه دحل کي مور ټول ارقام په څلور برخو ویشو وروسته بیا تر ټولو ټیټ حد لومړي چاریک او پورته چاریک (Uper and Lower quartile) بیخي

حذف او دوه پاتي په محاسبه کي شاملوو. هر چاريک د ټولو ارقامو 25% بر خه جوړوي.

يا هم ټول ارقام په څلورو برخو ويشي کله چي بيل شول هر يو يي چاريک يا څلورمه برخه (Quartile) يا 25% کيږي يعني کوارتل انحراف هم د ارقامو د خپوروالي د اندازي د معلومولو يو واحد دي چي په يو سلسله ارقامو کي د دوه کوارتل يعني لوي کوارتل او کوچني کوارتل په اساس تعينيږي.

چي دغه د لوي کوارتل (3Q) او کوچني کوارتل (1Q) ترمنځ نيمايي تفاوت دي.ددغه دوه کوارتلونو(Lower and upper) ترمنځ تفاوت ته interquartile range وايي او د interquartile range نيمايي د semi-interquartile څخه عبارت دي نو بنأ ليکو چي کوارتيل انحراف هم د Semi- interquartile range په څير ښودل کيږي.

په لاندي شکل کي (3Q،2Q،1Q)منحني په (4) برخو ويشلي ده. لمړي برخه دويش تر 1Q پوري (25% ) له 1Q څخه تر 2Q پوري25% او هم داسي نور. په واقيعت کي 50% د عامل د 1Q او 3Q په منځ کي واقع دي. د 1Qاو 3Q ترمنځ فاصلي ته يعني 1Q=3Q ته داخلي کوارتل فاصله وايي او کله چي نوموړي فاصله په دوه تقسيم کړو ديته نيم کوارتل فاصله يا کوارتل انحراف وايي.




1,4شکل

$$\text{Quartile deviation or semi} - \text{inter Quartile Range} = \frac{Q_3 - Q_1}{2} \quad or \quad Q.D = \frac{Q_3 - Q_1}{2}$$

$Q_1$= لمړي چاريک

$Q_3$= دريم چاريک

**په غير صنف بندي شويو ارقامو کي د Q.D محاسبه:**

مثال لاندي مشاهدي چي يو قسم نبات بنئي په مساوي پلاټونو تاسو Q.D محاسبه کړي.

13, 9, 16, 4, 8, 19, 7, 23, 21, 12

لومړي ارقام په صعودي ډول ترتيب کوو: 4,7,8,9,12,13,16,19,21,23

$$Q_1 = \frac{10+1}{4} \quad \frac{n+1}{4} \quad = = 2.75$$

(دریم ارزښت− دوهم ارزښت)

$Q_1$ = دوهم ارزښت+0.75

=7+ 0.75(7-8) =7+ (0.75) (1) =7+0.75= 7.75

$Q_1$= 7.75

$$Q_3 = \frac{3n+1}{4} = \frac{30+1}{4} = 7.75$$

$Q_3$= اووم ارزښت+0.75(اتم ارزښت− اووم ارزښت)

=16+0.75(16-19) =16+0.75(3)

=16+2.25=18.25

$Q_3$=18.25

$$Q.D = \frac{Q_3 - Q_1}{2}$$

$$Q.D = \frac{18.25 - 7.75}{2} = 5.25$$

**په صنف بندي شويو ارقامو کي د Q.D محاسبه کيدل :**

که چيري **f1,f2...fn** په ترتيب سره د کلاسونودصنفي وسطه مطابق فريکونسي راکړل شوي وي نو دلومړي **Quartile** لپاره فرمول داسي وضع کيږي.

$$Q_1 = L_1 + \frac{\frac{N+1}{4} - m1}{fi} * C_1$$

په پورتني فارمول کي:

**L1** − دکوارتل دکلاس تيټ حد

**N**− ددفعاتو مجموعه يا $\sum$ **fi**

$\frac{N+1}{4}$ – دلمړي کوارتل نمبر

**m1**- د لمړي کوارتل څخه د مخکني کلاس متراکمه فريکونسي

**fi** - د لمړي کوارتل د کلاس فريکونسي

**C1** – د لمړي کوارتل د کلاس – د کلاس – انتروال

همدارنګه دريم کوارتل دلاسته راوړولپاره ليکو چي :

$$Q_3 = L_3 + \frac{\frac{3N+1}{4} - m3}{f3} * C_3$$

چي $Q_3$ د لومړي کوارتل په څير ددريم کوارتل مشخصات ښيي.

(2, 4) جدول: په يوه ازموينه کي 80 تنه محصلينوپه لاندي توګه نمري اخيستي دي تاسو ئي Q.D محاسبه کړي.

| دشاګردانو نمري | دشاګردانو شمير | متراکمه فريکونسي |
|---|---|---|
| 0 - 5 | 3 | 3 |
| 5-10 | 10 | 13 |
| 10-15 | 18 | 31 |
| 15-20 | 25 | 56 |
| 20-25 | 9 | 65 |
| 25-30 | 8 | 73 |
| 30-35 | 7 | 80 |

$\frac{N+1}{4} Q_1 = = \frac{80+1}{4} = 20.25$

(10-15) لمړي کوارتل دي ځکه چي 20.25 په همدي کلاس کي موقعيت لري.

$+\frac{20.25-13}{18} * 5 = 12.05 \, Q_1 = 10$

$Q_1 = 12.05$

$Q_3 = \frac{3n+1}{4} = \frac{3*80+1}{4} = 60.25$

(20-25) دريم كوارتيل كلاس دي ځكه چي 60, 25 په همدي كلاس كي موقعيت لري.

$Q_3 = 20 + \frac{60.25-56}{9} * 5 = 22.36$

$Q_3 = 22.36$

$Q.D = \frac{Q_3 - Q_1}{2} = \frac{22.36-12.05}{2} = 5.18$

**وسطي انحراف (Mean Deviation ):**

وسطي انحراف Mean deviation يا M.D دارقامو په يوه سلسله كي ددوي تفاوت ښيې له اوسطه څخه بيدون ددوي د رياضيكي علامي په نظر كي نيولو سره چي دغه وسطي انحراف له مركزي ارزښت څخه تر لاسه كيږي. يا په بل عبارت وسطي انحراف له مركزي ارزښت څخه د مطلقه تفاوتونو مجموعه جمع كوو او د ټولو ارقامو په شمير(N) يې ويشو، مگر مركزي ارزښت به څه شي وي؟ مركزي ارزښت ممكن هر اوسطه، ميانه او مود وي، په عمومي توگه مركزي ارزښت له حسابي اوسطه څخه سنجش كيږي. وسطي انحراف كولي شو دلاندي فارمول په واسطه وښيو:

(له اوسطه څخه) $M.D = \frac{1}{n}\Sigma/xi - x'/$

دلته:

M.D- وسطي انحراف

$xi$ - هره مشاهده

$x'$ - دارقامو حسابي اوسط

**n**- د ټولو ارقامو شمير

/ / – دمطلقه ارزښت علامه

**1** مثال: په لاندي ارقامو کي M.D له اوسطه څخه پيداکړي

14،4, 9, 10, 7, 8, 6, 14

نو لومړي يې حسا بي اوسطه پيدا کوو، بيا دهر مشاهدي دعمومي اوسطه مطلقه تفاوت پيدااو په **n** يې ويشو.

**(3,4)** جدول: په لاندي ارقامو کي او سط محاسبه کړي.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| xi | 4 | 9 | 10 | 14 | 7 | 8 | 6 | 14 | 72 |
| /Xi-x/ | 5 | 0 | 1 | 5 | 2 | 1 | 3 | 5 | 22 |
| $X'$ = 9 , M.D = 22/8 = 2.75 (له اوسط څخه) | | | | | | | | | |

**2**-مثال: په لاندي ارقامو کي وسطي انحراف (D.M) محاسبه کړي؟

2, 3, 6,8,11

**لمړي حسابي اوسط پيدا کوو:**

$$X' = \frac{\sum xi}{n} = \frac{2+3+6+8+11}{5} = 6$$

$$M.D = \frac{/2-6/+/3-6/+/6-6/+/8-6/+/11-6/}{5}$$
$$= \frac{/-4/+/-3/+/0/+/2/+/5/}{5} = \frac{4+3+0+2+5}{5} = 2.8$$

**3-** مثال: په لاندي دوه سلسله ارقامو کي وسطي انحراف پیدا کړي؟

A- 12,6,7,3,15,10,18,5

$$X' = \frac{\sum xi}{n}$$

حسابي اوسط يي پیدا کوو:

$$X' = \frac{12+6+7+3+15+10+18+5}{8} = \frac{76}{8} = 9.5$$

$$M.D = \frac{/12-9.5/+/6-9.5/+/7-9.5/+/3-9.5/+/15-9.5/+/10-9.5/+/18-9.5/+/5-9.5/}{8}$$

$$= \frac{2.5+3.5+2.5+6.5+5.5+0.5+8.5+4.5}{8} = \frac{34}{8} = 4.25$$

B- 9,3,8,8,9,8,9,18

$$x = \frac{9+3+8+8+9+8+9+18}{8} = \frac{72}{8} = 9$$

$$M.D = \frac{/9-9/+/3-9/+/8-9/+/8-9/+/9-9/+/8-9/+/9-9/+/18-9/}{8}$$

$$= \frac{0+6+1+1+0+1+0+9}{8} = 2.25$$

**ليدل کيږي چي د B ارقامو کي انحراف کم دي نسبت د A ارقامو ته.**

**که چيري ارقام طبقه بندي شوي وي د وسطي انحراف سنجش لپاره د لاندي فارمول څخه استفاده کوو**

(له اوسطه څخه) $M.D = \frac{1}{N}\sum fi\,/\,xi - x\,/$

دلته هم:

**M.D** – وسطي انحراف

**fi** – دفعات

**xi** – صنفي وسط

**-** $\sum$ مجموعه

**(4, 4)** جدول: په لاندي صنف بندي شوي مشاهدو کي M.D محاسبه کړي.

| هره ورخ دشیدو حاصل (kg) | د شیدو د غواګانو شمیر fi | صنفي وسط $xi$ | $fixi$ | $Xi - X'$ | $fi\|xi - x'\|$ |
|---|---|---|---|---|---|
| 0-2 | 6 | 1 | 6 | 5.66 | 33.96 |
| 2-4 | 10 | 3 | 30 | 3.66 | 36.60 |
| 4-6 | 14 | 5 | 70 | 1.66 | 23.24 |
| 6-8 | 18 | 7 | 126 | 0.34 | 6.12 |
| 8-10 | 11 | 9 | 99 | 2.34 | 25.74 |
| 10-12 | 7 | 11 | 77 | 4.34 | 30.38 |
| 12-14 | 5 | 13 | 65 | 6.34 | 31.70 |
| | N = 71<br>یا $\sum fi$ =71 | | $.xi = 473$ | | 187.74 |

X'=473/71=6.66

له اوسط څخهM.D=187.74/71=2.64

**(5, 4)** جدول: لاندي صنف بندي شوي ارقام د سل تنه شاګردانو د وني يا قد اندازه په انچ سره ښئي وسطي انحراف يي پيدا کړي؟

| د قد اندازه (inches) | شاګردان fi | صنفي وسط xi | fixi | /xi- $X'$/ | fi/xi- $X'$/ |
|---|---|---|---|---|---|
| 60 -62 | 5 | 61 | 305 | 6.45 | 32.25 |
| 63-65 | 18 | 64 | 1152 | 3.45 | 62.10 |
| 66-68 | 42 | 67 | 2814 | 0.45 | 18.90 |
| 69-71 | 27 | 70 | 1890 | 2.55 | 68.85 |
| 72-74 | 8 | 73 | 584 | 3.55 | 44.40 |
| | N=100 | | ∑fi.xi=6745 | | Σfi(xi- $X'$)=226.50 |

$X' = \frac{\Sigma fi\,xi}{\Sigma fi} = \frac{6745}{100} = 67.45$

$M.D = \frac{\Sigma fi/xi - X'/}{N} = \frac{226.5}{100} = 2.26\ inch$

همدارنګه مونږ کولاي شو چي دمياني(**Med.**)موډ( **Mod.**) اويا نورو اوسطونو لپاره هم محاسبه کړو چي په فورمول کي د اوسط (**Mean**) پر ځای ميانه او يا موډ ليکو.

**ميزاني يا معياري انحراف (Standard Deviatio):**

د يو سلسله ارقامو په يو سيټ کي معياري انحراف عبارت دي د هرې مشاهدي مربع له حسابي اوسط څخه سنجول کيږي او د هغوي جذر مربع په لاس راوړل کيږي د معياري انحراف په محاسبه کي لومړي حسابي اوسط پيدا کوو او بيا د هري مشاهدي تفاوت له حسابي اوسط څخه پيدا او هغه مربع کوو، د مربع شوي تفاوتونو مجموعه د ارقامو په شمير (**n**) باندي ويشو.

که ارقام غير صنف بندي وي ، د معياري انحراف فارمول عبارت دي له: دادي

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{n}\Sigma(xi - X')^2}$$

د پورته فارمول په ساده کولو سره : ليکلي شو چي

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{n}\left[\Sigma xi^2 - \frac{(\sum xi)^2}{n}\right]}$$

دلته :

**S.D**– ميزاني انحراف

**Xi** – دغير صنف بندي شوي ارقامو هره مشاهده.

**X'** – دغير صنف بندي شوي ارقاموحسابي اوسط.

**n** – ټول مشاهدات.

$\sum$ – مجموعه

**1**.مثال: لاندي ارقامو کي ميزاني انحراف(s.d) محاسبه کړي.

8,10,10,10,12,13,15,15,17,20

لمړي راکړل شوي ارقام هر يو مربع کوو او بيا يې د مربعاتو مجموعه په لاس راوړو.

Xi=8+10+10+10+12+13+15+15+17+20=130

$Xi^2$=64,100,100,100,144,169,225,225,289,400=1816

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{n}\left[\Sigma xi^2 - \frac{(\sum xi)^2}{n}\right]} = \sqrt{\frac{1}{10}\left[1816 - \frac{(130)^2}{10}\right]} = \sqrt{\frac{1}{10}[1816 - 1690]}$$

$$= \frac{\sqrt{126}}{10} = \sqrt{12.6} =$$

**2.** مثال: (10) گلداني لرو چي په هره يوه كي د گلانو (20) تخمونه اچول شويدي او په هره گلداني كي په لاندي شمير گلان شنه شويدي (S.D) ميزاني انحراف يي محاسبه كړي

15,13,10,17,8,12,14,11,13,15

Xi=15,13,10,17,8,12,14,11,13,15=128

$Xi^2$= 225,169,100,189,64,144,196,121,169,225=1702

$$S.D=\sqrt{\frac{1}{10}\left[1702-\frac{(128)^2}{10}\right]}=2.52$$

په صنف بندي شويو ارقامو كي د ميزاني انحراف (Standard Deviation) فارمول په لاندي ډول دي.

$$\mathbf{S.}D = \sqrt{\frac{1}{N}\Sigma fi\left(xi - x'\right)^2}$$

د پورته فارمول په ساده كولو سره ليكلي شو چي :

$$\mathbf{S.}D = \sqrt{\frac{1}{N}\left[\Sigma fixi^2 - \frac{(\Sigma fixi)^2}{N}\right]}$$

دلته :

**S.D** – ميزاني انحراف.

**fi**– دفعات .

**Xi**– دهر كلاس صنفي وسط.

**X'**– دصنف بندي شويو ارقامو حسابي اوسط.

**N**– ددفعاتو مجموعه.

$\sum$ – مجموعه

(6, 4) جدول: لاندي مشاهدي دنيالونو وده په سانتي متر سره ښـــي S.D يي محاسبه کړي.

| دنیالونووده په (cm) | دنيالونوشمير fi | صنفي وسط xi | $fixi$ | $fi.xi^2$ |
|---|---|---|---|---|
| 7-9 | 8 | 8 | 64 | 512 |
| 9-11 | 18 | 10 | 180 | 1800 |
| 11-13 | 25 | 12 | 300 | 3600 |
| 13-15 | 15 | 14 | 210 | 2940 |
| 15-17 | 6 | 16 | 96 | 1536 |
| | 72 | | 850 | Total 10388 |

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{72}\left[10388 - \frac{(850)^2}{72}\right]} = 2.22$$

د فرضي اوسط په طريقه د ميزاني يا معياري انحراف محاسبه

By Linear Transformation Method

$$S.D = C * \sqrt{\frac{1}{N}\left[\sum fidi - \frac{(\sum fidi)^2}{N}\right]}$$

$$di = \frac{xi - A}{C}$$

دلته

A-اختياري اوسط

C-کلاس انټروال

xi-هره مشاهده

**(7, 4)** جدول: په لاندي صنف بندي شوي ارقاموکي **S.D** محاسبه کړي؟

| کلاسونه | فریکونسيfi | xi | di | fidi | $fidi^2$ |
|---|---|---|---|---|---|
| 0-10 | 10 | 5 | -3 | -30 | 90 |
| 10-20 | 12 | 15 | -2 | -24 | 48 |
| 20-30 | 18 | 25 | -1 | -8 | 18 |
| 30-40 | 25 | 35 | 0 | 0 | 0 |
| 40-50 | 16 | 45 | 1 | 16 | 16 |
| 50-60 | 14 | 55 | 2 | 28 | 56 |
| 60-70 | 8 | 65 | 3 | 24 | 72 |
| | 103 | | | 6 | 300 |

$$S.D = C * \sqrt{\frac{1}{N}\left[\Sigma fidi^2 - \frac{(\Sigma fidi)^2}{N}\right]}$$

$$S.D = 10 * \sqrt{\frac{1}{103}\left[300 - \frac{(6)^2}{103}\right]}$$

$$S.D = 10 * \sqrt{\frac{1}{103}(300 - 0.36)} = \sqrt{2.909} = 10 * 1.73 = 17.3$$

**وریـنس (Variance):**

د معیاري یا میزاني انحراف جذر عبارت له وریـنس څخه دي او په هره اندازه چي وریـنس لوي عدد وي نو په ارقامو کي خپوروالي يي زيات وي او که وریـنس کوچني عدد وي نو په ارقامو کي خپوروالي يي کم وي.

په غير صنف بندي شوي ارقا مو کي دوریـنس فارمول عبارت دي له:

$$s^2 = \frac{\Sigma(Xi - \bar{X})^2}{n}$$

مثال: په لاندي ارقامو کي ورينس پيداکړي.

6, 9,12,15,18

حل: لومړي دارقا مو حسابي اوسط پيدا کوو.

$$Mean = \frac{\sum Xi}{n}$$

$$X' = \frac{6+9+12+15+18}{5} = \frac{60}{5} = 12$$

اوس له هر رقم څخه حسابي اوسط منفي اوبيايي مربع کوو، په nيي ويشو او دهغو مربع جذر په لاس راوړو:

(8, 4) جدول: په غير صنف بندي ارقا موکي دورينس محاسبه.

| xi | (xi- X') | $(xi- X')^2$ |
|---|---|---|
| 6 | -6 | 36 |
| 9 | -3 | 9 |
| 12 | 0 | 0 |
| 15 | 3 | 9 |
| 18 | 6 | 36 |
| 60 | | 90 |

$$s^2 = \frac{\sum(xi - X')^2}{n} = \frac{90}{50} = 18$$

**په صنف بندي شوي ارقا موکي دورينس فار مول عبارت دي له:**

$$s^2 = \frac{\sum fi(Xi - X')^2}{\sum fi}$$

(9, 4) جدول: په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي ورينس محاسبه کړي.

| صنفونه | فريکونسي fi | صنفي وسط xi | fixi | xi- X’ | (xi- X’)$^2$ | fi(xi- X’)$^2$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 51-55 | 5 | 53 | 265 | -13.9 | 193.21 | 966.05 |
| 56-60 | 8 | 58 | 464 | -8.9 | 79.21 | 633.68 |
| 61-65 | 9 | 63 | 567 | -3.9 | 15.21 | 136.89 |
| 66-70 | 11 | 68 | 748 | 1.1 | 1.21 | 13.31 |
| 71-75 | 8 | 73 | 584 | 6.1 | 37.21 | 297.68 |
| 76-80 | 6 | 78 | 468 | 11.1 | 123.21 | 739.26 |
| 81-85 | 3 | 83 | 249 | 16.1 | 259.21 | 777.63 |
| | 50 | | 3345 | | | 3564.5 |

**حل:** لومړي د صنف بندي شويو ارقامو حسابي اوسط پيدا کوو.

$$Mean = \frac{\Sigma fi(Xi - X')^2}{\Sigma fi} = \frac{3345}{50} = 66.9$$

اوس يي ورينس محاسبه کوو:

$$s^2 = \frac{\Sigma fi(Xi - X')^2}{\Sigma fi} = \frac{3564.5}{50} = 71.29$$

**د ميزاني انحراف او وسطي انحراف ترمنځ توپير:**

1) د وسطي انحراف په محاسبه کي رياضيکي علامي په نظرکي نه نيول کيږي او دميزاني انحراف په محاسبه کي رياضيکي علامي په نظرکي نيول کيږي.

2) وسطي انحراف له اوسط ، مياني او موډ څخه محاسبه کيږي ولي ميزاني انحراف يوازي له حسابي اوسط څخه تر لاسه کيږي.

## د تغیراتو ضریب یا نسبي انحراف (Coefficient of variation) :

کله کله ضرورت پیښیږي چې په یوه سلسله ارقامو کې تفاوت له اوسط څخه معلوم کړو. نو د تغیراتو  ضریب یا نسبي انحراف **(C.V)** چې د فیصدي په اساس یې له میزاني انحراف (**S.D** )او له اوسط **(Mean)** څخه  محاسبه کیږي ، هغه ارقام چې د تغیراتو ضریب یې کوچني وي ثابت دي په نسبت د هغه ارقامو چې د تغیراتو ضریب یې لوی وي. دا چې د تغیراتو ضریب (C.**V**) یو مستقل واحد دي نو د هغه دوه سلسله ارقامو مقایسه کولو لپاره استعما لیږي چې دانداژه کولوواحدونه یې یو ډول نه وي او فارمول یې په لاندې ډول دي.

**یادونه: که د اندازه کولو واحدونه یې یو ډول وي یا هم کولي شو چې ددوه سلسله ارقامو د مقایسه کولو لپاره د تغیرات ضریب څخه استفاده وکړو.**

$$C.V = \frac{\text{Standard Deviation}}{Mean} * 100 = \frac{Sd}{x'} * 100$$

**یا**

$$\text{ضریب تفاوت} \ (C.V) = \frac{\text{میزاني انحراف}}{\text{اوسط}} * 100$$

(10, 4) جدول**:** د **A**او**B** دوو کاندیدانو په مختلفو یو ساعته ازموینو کې نمرې په لاندې توګه ترلاسه کړې دي تاسو معلومه کړي چې دکوم کاندید نمرې ثابتې دي.

| کاندید | یوساعته ازموینه 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| A | 9.0 | 8.0 | 7.5 | 8.5 | 9.0 | 8.0 |
| B | 5.5 | 9.5 | 6.5 | 8.5 | 10.0 | 8.0 |

د A کاندید: Mean = 8.33 S.D= **0.55** $C.V = \frac{0.55}{8.33} x100$ = 6.60

د B کاندید: Mean = 8 S.D = 1.58 $C.V = \frac{1.58}{8} x100$ =19.8

لیدل کیږي چي د **A** کاندید نمري ثابتي دي ځکه چي د تفاوت ضریب(**C.V**) قیمت یي تیټ دي.

❖ **احصائیوي نفوس** (Statistical population) :

د زیروح او غیر زیروح اشیاوو مجموعه د Statistical population په نوم یادیږي. د مثال په توګه یو لوي ګروپ د ارقامو چي وزن او لوړوالي وښیي او یا داسي نور ارقام په احصائیه کي د احصائیوي نفوس یا د Statistical population په نوم یادیږي .

❖ **نمونه** ( Sample):

څرنګه چي همیشه د نفوس یا جمیعت د ټولو خصوصیاتو مطالعه کول نا ممکن دي ځکه چي دا ډ یرو پیسو او وخت ته اړتیا لري نو د دي لپاره مونږ باید د خپلي مطالعي لپاره د ټول نفوس یا جمیعت څخه یوه برخه انتخاب کړو چي د جمیعت د غي برخي ته نمونه (sample) ویل کیږي. که څه هم نمونه باید تر ممکن حده پوري د جمیعت د واقعي خصوصیاتو نماینده ګي وکړي.

دنموني اخستل له جمیعت څخه باید په اطمنان او تصادفي ډول سره وي، نو د هري مساوي اندازي نموني را اخستلو لپاره باید مساوي احتمال انتخاب شي. که چیري د

سمپل د مشاهدو اوسطه او د جمیعت اوسطه سره مساوي نه وي د دوي ترمنځ تفاوت ته Sampling error وایي.

د مثال په ډول که چیري موږ ټولي ممکنه نموني په مساوي اندازي را واخلونو د نمونو د مشاهدو د ویش اوسط د Sampling distribution په نامه یادیږي .

د ټولو مساوي اندازو نمونو اوسط د جمیعت یا نفوس د اوسط څخه اټکل کیږي او د دغه نمونو د میزاني انحراف اوسط د Standard error of mean په نوم یادیږي.

دا به مشکله وي چي په عمومي توګه ټولي ممکنه نموني مطالعه کړو، موږ باید په یوه ساده نمونه انتخاب کړو.

د یوي ساده نموني یا Sample په اساس Standard error of mean په لاندي ډول ښودل کیږي.

$$S.E.(X') = \frac{\sigma}{\sqrt{n}}$$

دلته :

$\sigma$ – میزاني انحراف (S.D) دي.

**X'**– دنموني یا Sample اوسطه دي.

**n**– د نموني یا Sample سایز دي.

په پورتني معادله کي که چیري $\sigma$ معلوم نه وي مونږ کولي شو چي دSample له مشاهدو څخه هغه په لاندي ډول پیداکړو.

لومړي حالت: که چیري n ( Sample) لوړ قیمت ولري (n>30) نولیکو چي:

$$S.E.(X') = \frac{S}{\sqrt{n}}$$

چيري چي د

$$s = \sqrt{\frac{1}{n}\Sigma(xi - x')2}$$

دوهم حالت: که چيري n د (Sample) کوچني قيمت ولري (n < 30)

نوليکو چي:

$$S.E(X') = \frac{S}{\sqrt{n}}$$

چيري چي:

$$s = \sqrt{\frac{1}{n-1}\Sigma(xi - x')2}$$

**تمرينات**

**1**: د کرهني پوهنځي په ځيړنيز فارم کي د حمل په مياشت کي د باران د اوربښت ارقام په سانتي متر سره ثبت شوي دي تاسو يې وسطي انحراف (M.D) د مياني (Med.) او موډ (Mod.) څخه پيدا کړئ.

85,22,23,26,48,78,76,91,56,76,76,90,92,93,84,80,54,62,70,100,60,76,16,18,32,18,34,46,

**2**: لاندي ارقام د تخمونو مقدار په في واحد ميوه کي نسبي تاسو يي ميزاني انحراف (S.D) او ورينس يي محاسبه کړئ. 12, 14, 17, 20, 25, 6, 7, 9, 11

**3**: د کرنيز اقتصاد د ډيپارټمينت **10**تنه محصلينو د مارکيټينګ په مضمون کي د ( **100**څخه) نمري اخيستي دي تاسو يې ويرينس پيدا کړئ.

| د شاګردانو شمير | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نمري | 5 | 10 | 15 | 20 | 25 | 40 | 42 | 48 | 70 | 80 |

**4**: لاندي ارقام د يوه مکتب د شاګردانو قد په سانتي مترسره ښيئ تاسو يي کوارتل انحراف (**Q.D**) محاسبه کړئ.

**125,128,122,132,126,122,114,127,119,130**

**5**: لاندي صنف بندي شوي ارقام د انګورو حاصل په کيلو ګرام د يوي ساحي په مختلفو باغو کي راکړل سوي وسطي انحراف (M.D) يي له ( Mod. ) څخه محاسبه کړئ .

| 800-700 | 700-600 | 600-500 | 500-400 | 400-3000 | دانګورو حاصل |
|---|---|---|---|---|---|
| 3 | 9 | 19 | 16 | 8 | باغونه |

**6**: په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي يوازي فاصله يي پيدا کړئ.

| 95 – 91 | 90 – 86 | 85 – 81 | 80 –76 | 75 –71 | صنفونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 10 | 8 | 6 | 4 | 2 | فريکونسي |

**7** : په لاندي صنف بندي شويو ارقامو کي وسطي انحراف له حسابي اوسط ، مياني او موډ څخه محاسبه کړي.

| فرکونسي fi | | صنفي وسط xi | متراکمه فريکونسي Cumulative Frequency | $\lvert xi-\bar{x}\rvert$ | $\lvert xi-median\rvert$ | $\lvert xi-\text{mod}\,e\rvert$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 - 8 | 3 | | | | | |
| 8 - 12 | 7 | | | | | |
| 12 - 16 | 10 | | | | | |
| 16 - 20 | 8 | | | | | |
| 20 - 24 | 5 | | | | | |
| 24 - 28 | 3 | | | | | |
| 28 - 32 | 1 | | | | | |

**8** :لاندي ارقام دهيواد دتيرو **20** کلونوکي د تازه او وچي ميوي صادرات په ميلون ټن سره اټکل شوي دي .

94,96,98,93,95,94,94,87,90,81,84,86,85,81,80,74,75,110,109,99

لاندي اجزاوي په کي حل کړي.

**a**) فاصله يي پيداکړي؟

**b**) وسطي انحراف( **M.D** )يي له اوسط او مياني څخه پيداکړي؟

**c**) دتغيراتو ضريب يا نسبي انحراف (**C.V** )يي محاسبه کړي ؟

**9**: په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي ميزاني انحراف (**s. d**) محاسبه کړي.

| کلاسونه | 30-20 | 40-30 | 50-40 | 60-50 | 70-60 | 80-70 | 90-80 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فريکونسي | 8 | 14 | 28 | 16 | 10 | 20 | 10 |

**10**:د کرکيټ د دوو ټيمونو نمري په لسو منډوکي په لاندي ډول دي.

A = 204, 68,150,30,70,95,60,76,24

B = 99, 190, 130, 94,80,89,69,85,65,40

تاسو وښياست چي د A ټيم او که د B د ټيم نمري ثابتي دي که د هر ټيم نمري ثابتي وي دليل يي وواياست.

**11**: د کرني وزارت د هيواد د غلودانو محصول په مليون ټن سره په تيرو **30** کلونو کي په لاندي توګه راپور ورکړيدي.

87,92,90,85,99,105,69,89,80,59,75,74,80,81,85

,86,84,81,90,87,92,94,95,93,98,96,94,99,109,99

په پورتنيو ارقامو کي:

**a**) وسطي انحراف(**M.D**) يي سنجش کړي.

**b**) ميزاني انحراف ( **S.D** ) يي سنجش کړي.

**c**) د تغيراتو ضريب يي (**C.V**) محاسبه کړي.

**12**: لاندي دوه سيټه ارقام چي د **14** شيانو وزن په کيلوګرام او لوړوالي په سانتي متر سره ښيي.

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وزن | 83.9 | 99.0 | 63.8 | 71.3 | 65.3 | 79.6 | 70.3 | 69.2 | 56.4 | 66.2 | 88.7 | 59.7 |
| | 64.6 | 78.8 | | | | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړوالي | 185 | 180 | 173 | 168 | 175 | 183 | 184 | 174 | 164 | 169 | 205 | 161 | 177 |
| | 174 | | | | | | | | | | | | |

**a**) تاسو د هر ګروپ لپاره وسط، ميانه، ورينس، ميزاني انحراف او د انحراف ضريب يي محاسبه کړي.

**b**) وښاياست چي د کوم سيټ ارقام ثابت دي، د وزن او که د لوړوالي؟

**13**: د يو خاص جنس قيمت د فراه او نيمروز په دوه ښارونو کي د **2** کلونو لپاره په لاندي ډول ور کړل شوي دي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د فراه په ښار کي د جنس قيمت | **10** | **20** | **18** | **12** | **15** |
| د نيمروز په ښار کي د جنس قيمت | **22** | **19** | **23** | **16** | |

د پورتنيو ارقامو په نظرکي نيولو سره معلومه کړي چي په کوم ښار کي د جنس قيمت ثابت دي.

14 **:**په يوه ښار کي 250000 وګړي ژوند کوي 5 کاله وروسته د وګړيو شمير 300000 تنو ته ورسيده کلني متوسط تغير يي په فيصدي سره وښياست.

15 **:**دوه سلسله ارقامو کي د تغيراتو ضريب (**C.V**) يي په ترتيب سره **75%** او **90%** دي او معياري انحراف **(S.D)** يې په ترتيب سره 15 او18 دي، د دوي اوسط پيدا کړي؟

## پنځم فصل

## احتمالات

## (Probability)

احتمالات زمونږ د ژوند یوه برخه ده مونږ په یوه داسي نړي کي ژوند کوو چي د راتلونکي پیش ګویي په واقعي توګه نشو کولای نو ځکه مونږ ته د احتمالاتو د تیوري د مطالعي ضرورت دي. احتمالات دیوي حادثي د واقع کیدو او یا نه واقع کیدو چانس ته وایي .

د بیلګي په دول: احتمال لري سږ کال به دغنمو حاصلات لوړ وي، ممکن دافغانستان ملي کرکیټ لوبغاړي په نړیواله لوبه کي ګټون وکړي.

دپورتنیو دواړو بیانیه جملو حادثي پوره یقیني نه دي چي واقع شي چي دا په غیر یقیني توګه بیانوي لکه احتمال لري. چي دا په فریکونسي سره اندازه کوي. د یوي حادثي واقع کیدو د چانس احتمال د یو او صفر په منځ کي قرار لري. که چیري دیوي واقعي یا حادثي واقع کیدل یقیني وي نو دهغه احتمال به یو وي اوکه دهغه حادثي واقع کیدل غیر یقیني وي نو دواقع کیدو احتمال به یي صفر وي.

**د احتمال تعریف:**

$$\text{دیوی حادثی دواقع کیدواحتمال} = \frac{\text{دحادثی دمساعدو پیښوشمیر}}{\text{دحادثی دټولوممکنه پیښوشمیر}}$$

دا تعریف د **(Priori)**احتمال په نوم سره هم یادیږي دا ځکه چي احتمال د حادثي له واقع کیدو څخه د مخه څرګندیږي په ځینو حالاتو کي دا ډیره مشکله ده

چي د دي ميتود په مرسته ټولي ممکنه پيښي وشميرو او يا يي په اړوند فکر وکړو د مثال په ډول کله چي موږ وايو نن ورځ د اوربښت احتمال سته د پورته تعريف پربنا د ټولو احتمالي پيښو مجموعي شمير به اکثره دوه وي او د حادثي لپاره د مساعدو پيښوشمير به يو وي نو ځکه د نن ورځي د باران د اوريدلو احتمال $\frac{1}{2}$ دي خو دا صحت نلري ځکه په باراني موسم کي د اوربښت احتمال د نورو ورځو په پرتله ډير زيات دي. په يقيني حالاتو کي موږ په زغرده ويلاي شو چي نن ورځ به باران وي نو له دي کبله د $\frac{1}{2}$ احتمال حقيقت نلري دي ته ورته دا وينا چي سبا به يو سړي مړ سي احتمال يي $\frac{1}{2}$ دي که څه هم دا د احتمال په رياضيکي تعريف بنا دي برسيره پردي يو څوک بايد د يوي ځانګړي پيښي يا حادثي متاثره کوونکي حالات د همدي حادثي د احتمال تر موندني د مخه وپيژني.

که چيري يوه حادثه وکولاي شي چي د (a) په حالاتو کي واقع سي او د (b) په حالاتو کي ونه شي کړاي واقع سي نو پدي صورت کي د يو حادثي دواقع کيدو احتمال له $\frac{a}{a+b}$ او د نه واقع کيدو احتمال يي د $\frac{a}{a+b}$ څخه عبارت دي که چيري $p=\frac{a}{a+b}$ او $q=\frac{a}{a+b}$ سي نو $p+q=1$ سره کيږي. د p قيمت هميشه د صفر او يو (0 – 1) ترمنځ وي اوس که چيري $p=1$ او $q=0$ نو د حادثي واقع کيدل به يقيني وي او که $p=0$ او $q=1$ وي نو حادثه به يقينا واقع نه شي.

**لمړي مثال:** د قطعو له يو درجن څخه د يوه توس د را اخستلو احتمال و مومي:

4 = د يوه توس د را ايستلو لپاره د ټولو مساعدو پيښو شمير

**52** = د ټولو ممکنه احتمالي پيښو شمير

$=\frac{4}{52}=\frac{1}{13}$ نو په دي صورت کي ديوه توس د درا ايستلو احتمال دوهم مثال:

په یوه لوښي کي (10) سره ، (15) تور او (20) **سپين توپونه پراته دي او په اټکلي** ډول یو توپ د ذکرشوي لوښي څخه را اخستل کیږي نو پدي صورت کي به د تور توپ احتمال څومره وي؟

د یوه تور توپ د را ایستلو لپاره د ټولو مساعدو پیښو شمیر 45 دي.

$$\frac{15}{45}=\frac{1}{3}$$ = دیوه تور توپ احتمال

:Terminology

مخکي له دي چي مونږ په تفصیل سره احتمالات مطالعه کړو ضرور ده چي دلاندي اصطلاحاتوسره ځانونه آشنا کړو کوم چي په دي فصل کي مطالعه کیږي.

1. ساده حادثي (Simple Event):

واقع کیدل یا نه واقع کیدل دیوي حادثي د ساده حادثي په نوم یادیږي. دبیلگي په دول لري کول دیوي ورقي له قطو څخه یوه simple حادثه ده یا تولد دیوه ماشوم هلک یا جیني .

2.مرکبي حادثي (Mixed or compound Event)

واقع کیدل ددوه یا زیاتو حادثوپه واقعي توگه د مرکبو حادثو په نامه یادیږي دمثال په توگه که چیري د یوه میز پر سر شپږ تور توپه څلور سپين توپونه ایښودل شوي وي تصادفا مونږ دوه توپونه وغورځو نو دغه حادثي یعني دواړه توپونه به تور یا سپين یا یو تور او یو سپین وي چي دي ته مرکب حادثي وایي چي دا بیا په دوه برخو ویشل کیږي.

i. **مستقلي حادثي** ( Independent Events):

که دیوي حادثي وقع کیدل په بله حادثه باندي کومه اغیزه ونلري د  مستقله حادثو په نوم یادیږي مثال دیوي سکي پورته اچول دوه ځله نتیجه به یي هم دوه ځله مستقله  وي

ii. **متکي حادثي** ( Dependent Events ):

که چیري دیوي حادثي واقع کیدل په بله حادثه باندي اغیزه ولري نو وایو چي دوهمه حادثه دلومړي حادثي تابع ده .

دمثال په توګه که چیري یوه پره دقطعو څخه وغورځول شي او هغه بیرته ورسره یو ځای نکړو د دوهمي پري غورځونه دفعتا د لومړي لویدني تابع ده .

**تبادیل** ( Permutation):

داحتمالاتو د تیوري له مطالعي څخه پخوا باید د تبادیل او تراکیب په هکله معلومات تر لاسه کړو .

د تبادیل (Permutation) کلمه ترتیب او تنظیمولو ته وایي . او تراکیب (combination) ګروپ ته وایي . تبادیل د یو سیټ اشیا ، اعداد، شکلونه په بیلا بیلو ډولو ترکیب او تنظیمولو کي چي د ا شیاو تکرارنه وي راغلي ، که چیري کوم شکل کي شیان په عین شکل راغلي نو تبایل غیر موثروي . تبادیل  په دي ډول طرح کیږي چي ټولي هغه لاري پیدا کړي چي یوه حادثه واقع کیدي شي .

د مثال په ډول د غنمو 3 قسمه ورایټي لرو مونږ کولي شوچي په لاندي توګه یي ترتیب او تنظیم کړو.

ABC, ACB, BAC, BCA, CAB, CBA

که غواړو چي د بیلا بیلو لارو مجموعه وښیو کوم چي د غنمو ورایټي پکي ترتیب او تنظیم کړو چي دا کولي شو د لاندي 3 هندسي شکلونو په مرسته وښیو.

## 3 هندسي شکلونه




دا باید په پام کي ولرو چي د دري وراتیو څخه یوه هم د یو ځل څخه زیاته په یو ترکیب کي نه معلومیږي. نو مونږ کولي شو چي د شیانو د ترکیب بیلا بیلي لاري وپیژنو چي همدي په نوبت سره ترتیبولو ته تبادیل یا Permutation وایي.

npr د تبادیل نمبر ښیئ ، **n** د اصلي ګروپ اشیا، اجزا یا د شکلونو شمیردي (r) په یو وخت کي د ګروپونو ښودنه ده دا به ډیره مشکله وي چي تبادیل ولیکو نو د دي لپاره د لاندي فارمول څخه استفاده کوو.

$$n_pr=\sqrt{\frac{n!}{(n-r)!}}$$

**که چیري** r = n نو:

$n_pr=\frac{n!}{(n-n)!}=n!$

**یا**

$n_pn=n!$

**تراکیب** ( Combination) :

د N د بیلا بیلو اشیاو شکلونو ترکیب چي یو وخت کي **r** ورڅخه اخیستل شوي وي پدي مفهوم چي r د n ارقامو یوه برخه ده چي په تنظیمولو کي یې نوبت په نظر کي ونیول شي د ( r) n سره ښودل کیږي او فرمول یې په لاندي دول دي :

$n_cr = \frac{n!}{r!(n-r)!}$

1.**مثال:** غوارووپه یوصنف کي د لس تنه شاگردانو له جملي څخه یوائي څلور تنه یې د مشري لپاره تعین کړو له څو لارو کولاي شو :

$10_C4=\frac{10!}{4!(10-4)!}=\frac{10!}{4!6!}=\frac{10.9.8.7.6.5.4.3.2.1}{4.3.2.1.6.5.4.3.2.1}=210$

2.**مثال:** په یو بوتل کي د هندواني 20 تخمونه اچول شوي دي غوارو چي د یوي تجربي لپاره 6 داني تخمونه له بوتل څخه راواخلو له څو لارو کولي شو چي عملیه بشپړ کړو.

6 داني تخمونه کولي شوچي د 20 داني تخمونو له جملي څخه د = 20C6 20C60 38760 ممکنه لارو څخه تعین کړو.

(1, 5) جدول د ترکیب او تبادیل تر منځ اړیکي:

| داشیاو شمیر (n) | په یووخت کي اخستل (r) | تراکیب ( $n_c r$) | تبادیل ( $n_p r$) |
|---|---|---|---|
| AB<br>ABC<br>ABC | 2<br>2<br>3 | AB<br>AB/AC/BC<br>ABC | AB,BA<br>AB,BA,CA,AC,BC,CB<br>ABC,ACB,BCA,CAB,CBA,CAB |

## د غیرهمزمان حادثو لپاره د جمع قانون

## Additional Law of Probability for Mutually Exclusive Events

غیر همزمان حادثي هغه حادثو ته ویل کیږي چي که چیري یوه حادثه واقع شي د بلي حادثي د واقع کیدو مخ نیوي کوي. د بیلګي په ډول که چیري په یو بکس کي (5) تور (10) سپین او (15) سره د والیبال توپونه موجود وي په تصادفي ډول یو توپ ولویږي آیا دا لویدلي توپ به تور او که سپین وي؟ دلته دوه حادثي دي که چیري سپین توپ ولویدي نو تور توپ به نه لویږي همدارنګه که چیري تور توپ ولویدي نو سپین توپ به نه لویږي نو ځکه دغه دواړه حادثو ته غیرهمزمان حادثي وایي.

که چیري (A) او (B) دوه غیر همزمان حادثي وي. د دي دواړو غیر همزمان حادثو څخه د یوي واقع کیدل مساوي دي د دوي د انفرادي احتمال له مجموعي څخه.

$$P(A \cup B) = P(A) + P(B)$$

مثال: که چیري په یوه ټولګي کې (6) داني تور قلمان (4) داني شنه قلمان او (2) داني سره قلمان ایښودل شوي وي تصادفاً یو دانه قلم را واخلو څومره احتمال لري چې نوموړي به شین یا سور قلم وي.

**حل:**

$12 = 6 + 4 + 2 =$ د ټولو قلمانو مجموعه

د شنه قلم احتمال $= P(B) = \frac{4}{12} = \frac{1}{3}$

د سره قلم احتمال $= P(G) = \frac{2}{12} = \frac{1}{6}$

د دي احتمال چې نوموړي قلم به شین یا سور وي $= P(B$ یا $G) = P(B \cup G)$

اوس د احتمال د جمع د قانون په اساس لیکو چې:

$$P(B \cup G) = P(B) + P(G) = \frac{1}{3} + \frac{1}{6} = \frac{1}{2}$$

**د همزمان حادثو لپاره د جمع قانون**

## Additive law of Probability wen Events are not Mutually Exclusive

که چیري د A او B دوه همزمان حادثې وي حد اقل د هغوي څخه د یوي حادثې واقع کیدل د بیلګي په ډول AUB واقع کیدو احتمال په لاندي ډول ښودل کیږي.

$P(AUB)= P(A)+P(B)-P(A \cdot B)$

**1.مثال:** که له یو درجن قطعو څخه یوه دانه پره په تصادفي ډول لیري کړو څومره احتمال لري چي نوموړي پره به لال یا ماتکه وي

د لال دپري احتمال = $P(A) = 13/52 = 1/4$

د ماتکي د پري احتمال = $P(B) = 4/52 = 1/13$

د لال یا ماتکي احتمال = $P(A)+P(B) - P(A*B)$

$$\left(\frac{1}{4}+\frac{1}{13}\right)-\left(\frac{1}{52}\right)=\frac{16}{52}=\frac{4}{13}$$

2. که په یوه ولسوالي کي د نارینه وو د نفوس څخه 4% د سرطان په ناروغي اخته وي، 20% يې سګرټ څکوي او 3% هم د سرطان په ناروغي اخته وي او هم سګریټ څکوي. که د نوموړي نفوس څخه یو تن په تصادفي ډول انتخاب شي، څومره احتمال لري چي نوموړي تن په سرطان ناروغي اخته کس یا سګرټ څکوونکي او یا هم دواړه د سرطان ناروغ او سګرټ څکوونکي وي؟

**حل:**

د سرطان د ناروغي احتمال = $P(A) = 4\% = 0.04$

د سګریټ کوونکي احتمال = $P(B)$ $20\% = 0.20$

$= P(A \cdot B) = P(A)+P(B)-P(A \cdot B) = 0.04+0.20-0.03 = 0.2$

د سرطان د ناروغي او هم سګریټ څکوونکي

## د غیرمستقلو حادثو لپاره د ضرب قانون

## Multiplication Law of Probability

که چیري د (A)او (B) دوه غیرمستقل حادثي وي د یوي حادثي د واقـــــــع کیدو احتمال د بلي حادثي د واقع کیدو سره ارتباط ولري یا په بل عبارت غیرمستقل حادثي هغه دي چي د یوي حادثي واقع کیدل د بعدي حادثي په نتیجه باندي تاثیر ولري چي فارمول یي په لاندي ډول دي.

$$P(A \cap B) = P(A).P\left(\frac{B}{A}\right) \qquad P(A) \neq 0$$

$$P(A \cap B) = P(B).P\left(\frac{A}{B}\right) \qquad P(B) \neq 0$$

چیري چي P(B/A) د (B) د حادثي د واقع کیدو احتمال ښیي په هغه صورت کي چي د (A) حادثه پخوا واقع شوي وي.

P(A/B) د (A) د حادثي د واقع کیدو احتمال ښیي په هغه صورت کي چي حادثه پخوا واقع شوي وي.

1.مثال: که یو صندوق 7 سره او 3 تور توپونه ولري. دوه توپونه تصادفاً یوپربل پسي دصندوق څخه ولویدل څومره احتمال لري چي دواړه توپونه به تور وي .

دتورتوپ دلویدو احتمال = P(A) =3/10

ددوهم تور تور توپ دلویدو احتمال =P(A/B) = 2/9

= ددواړوتوروتوپونودلويدواحتمال

P(AB)=P(A)*(A/B)=3/10*2/9=1/5*1/3=1/15

**2. مثال:** که له يو درجن پرو څخه دوه داني پري يو په بل پسي لري کړو نو د ددي احتمال پيداکړي چي يوه به د ملکي او بله به د پاچا پره وي.

حل: پوهيږو چي د پرو يو درجن (52) پري لري چي په دي کي (4) پري د پاچا او (4) پري د ملکي دي که د پاچا د پري انتخاب په (A) سره وکړو او د ملکي د پري انتخاب په (B) سره وکړو نو ليکو چي:

$$P(A) = \frac{4}{52}$$

داچي يوه پره موله درجن څخه لري کړه نو ټولي (51) پري پاتي دي چي په دي پرو کي څلور د ملکي پري دي نو د ملکي د پري د انتخاب احتمال په هغه صورت کي چي د پاچا يوه پره پخوا ايستل شويده نو داسي ليکو چي :

$$P\left(\frac{B}{A}\right) = \frac{4}{51}$$

نو ددي احتمال چي يوه پره به د پاچا او بله به د ملکي پره وي

$$P(A \cap B) = P(A).P\left(\frac{B}{A}\right) = \frac{4}{52} * \frac{4}{51} = \frac{4}{663}$$

### د مستقلو حادثو لپاره د ضرب قانون

### Multiplication Law for Independent Events

دا قاعده د هغه حادثو لپاره ځانگړي شوي ده چي د هغو د احتمال د ضرب د قانون په اساس واضح کيږي، د هغه حادثو لپاره چي مستقلي وي د ضرب د قانون څخه استفاده کيږي.

که (A) او (B) دوه مستقله حادثي وي د (A) د حادثي واقـــــــع کيدل يانه واقع کيدل د (B) د حادثي په واقع کيدو يا نه واقع کيدو تاثيرو نه لري.

$P(A \cap B) = P(A) * P(B)$

**1.مثال** : که چيري دوه سکي په يو ځلي پورته واچول شي څومره احتمال لري چي دواړه سکي به د شير په مخ ولويږي. څرنکه چي د يوي سکي د شير مخ لويدل په بله سکه تاثير نه کوي نو بنا د هري سکي نتيجه مستقله ده ددي احتمال چي دواړه سکي به د شير په مخ ولويږي مساوي دي په جدا ډول د هر يوه له حاصل ضرب سره.

د لومړی سکی شير مخ د لويدو احتمال = P (A) = 1/2 or 0.5

د دوهمی سکی شير مخ د لويدو احتمال = P (B) = 1/2 or 0.5

P (A او B) = P (A)*P (B) = ½*1/2 = ¼ = 0.25

**2.مثال:**

داسي فرض کړي چي په يوه بکس کي دوه سره دري تور او پنځه سپين کتابونه ايښودل شويدي:

**الف:** که له نومړي بکس څخه يو کتاب وويستل شي څومره احتمال لري چي نوموړي کتاب به تور وي.

**ب:** که له بکس څخه دوه کتابه يو په بل پسي په داسي ډول وويستل شي چي لومړي استل شوي کتاب بيرته بکس ته واچول شي ددي احتمال معلوم کړي چي لومړي کتاب تور او دوهمي سور وي.

ج: که له بکس څخه دري کتابه يو په بل پسي په داسي ډول وويستل شي چي ايستل شوي کتابونه بيرته بکس ته واچوي د دي احتمال معلوم کړي چي لومړي سپين دوهم کتاب سور او دريم کتاب هم سپين وي.

د: که له بکس څخه دري کتابه په مسلسل ډول داسي وويستل شي چي ايستل شوي کتابونه بيرته بکس ته وا نه چوي ددي احتمال معلوم کړي چي لومړي او دوهم کتاب سپين او دريم کتاب سور وي.

ه: که دوه کتابه په مسلسل ډول له بکس څخه وويستل شي او بيرته بکس ته واچول شي ددي احتمال معلوم کړي چي لومړي کتاب سور نه وي او دوهم کتاب سپين نه وي .

و: که له بکس څخه يو کتاب وويستل شي ددي احتمال معلوم کړي چي لومړي کتاب به سپين يا تور وي.

**د مثال حل:**

**په يوه بکس کي لاندي کتابونه شتون لري:**

| Red | | Black | | white | |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | + | 3 | + | 5 | = 10 |

**الف: د بکس څخه د يوه تور کتاب احتمال پيدا کوو:**

$$P(Black) = 3/10 = 0.3=30\%$$

ب: که دوه کتابه پرلپسي وويستل شي او اول کتاب دوباره بکس ته ور واچول شي نو ددي احتمال پيداکوو چي اول کتاب تور او دوهم کتاب به سور وي.

$P = (Black) = \frac{3}{10}$

$p = (red) = \frac{2}{10}$

P(A).p(B) = 3/10*2/10 = 6/100 = 0.06 or 6%

ج: که دري کتابه په مسلسل ډول له بکس څخه داسي وويستل شي چي هر کتاب دوباره بکس ته واچول شي نو ددي احتمال پيداکوو چي اول کتاب سپين دوهم کتاب سور او دريم کتاب هم سپين وي.

P(white) = 5/10

P(Red) = 2/10

P(white) = 5/10

P(A∩B∩C) = p(A).p(B).p(C)

= 5/10. 2/10. 5/10 = 50/1000 = 1/5 = 0.02 or 2%

د: که له بکس څخه دري کتابه په مسلسل ډول داسي وويستل شي چي دوباره و بکس ته وروانه چول شي نو ددي احتمال معلوموو چي د لمړي او دوهم کتابونه سپين او دريم کتاب سور وي.

P (white) =5/10
P (white) = 4/9

P (Red) =2/8
5/10. 4/9. 2/8 = 40/720 = 4/72 = 0.05 = 5%

ه: که دوه کتابونه په مسلسل ډول له بکس څخه وویستل شي او دوباره بکس ته ور واچول شي نو ددي احتمال معلومو چي لمړي کتاب سور او دوهم کتاب سپین نه وي.

P (Red) = 2/10

P (white) = 5/10

یوازي د سور رنګ = 2/10. 5/10 = 10/100 = 1/10 or 0.1

د شتون احتمال

د سور او سپین کتاب د نه شتون احتمال = 1-0.1=0.9 or 90%

و: که له بکس څخه یو کتاب وویستل شي نو د دي احتمال پیدا کوو چي ذکر شوي کتاب به سپین یا تور وي .

**داچي معمولا دغه ډول پیښي غیرهمزمانه دي نو لیکلاي شو:**

د سپین کتاب احتمال = 5/10

د تور کتاب احتمال = 3/10

د سپین یا تور کتاب احتمال = 5/10+3/10 = 5+3/10 = 8/10 = 0.8 or 80%

**تمرینات :**

**1**. یو بکس کي 5 سره 3 تور او4 سپین د والیبال توپونه موجود دي تصادفاَ له بکس څخه یوتوپ ولویده څومره احتمال لري چي نوموړي لویدلي توپ به سور یا توروي؟

**2**. د کرنیز مارکیټنګ په مضمون کي یوه پوښتنه د حل لپاره 5 تنومحصلینوته ورکړل شوه چي لومړي محصل 1/2 دوهم محصل 1/3 دریم محصل 1/4 څلورم

محصل 1/5 او پنځم محصل 1/6 برخي حل کړي څومره احتمال لري چي نوموړي پوښتنه به حل شي؟

**3.**د یو میز په سر په یو ګیلاس کي 7 داني سره او 3 داني تور قلمونه ایښودل شویدي، تصادفا 2 داني قلمان یو په بل پسي را اخلو، څومره احتمال لري چي دواړه را اخستل شوي قلمونه به تور وي.

4. د یوې داسي پیسې یا سکې پاس اچول په پام کي ونیسي چي دواړو مخونه یې شېر وي، غوښتنه دا ده چي د دې سکې احتمال په لاندي حالتونو کي پیدا کړي:

a) پیسه شېر راشي.

b) پیسه خط راشي.

c) ایا په نوموړي مثال کي د شېر او خط د تصادفي پېښو احتمال د یو بل سره برابر دي.

5. که له یو درجن پرو څخه دوه داني پرې یو په بل پسې ولوېږي، څومره احتمال لري چي نوموړي لویدلي پرو کي یوه به د پاچا او بله به د ماتکه پره وي؟

# شپږم فصل

**په منحني کي د عدم تناظر او د څوکي موجودېت مقياسونه**

(Measures of Skewness and Kurtosis)

د (Skewness)او (kurtosis) اصطلاح ګاني ډيري ګټوري دي، هغه مونږ ته د دي توانايي رابخښي چي د مشاهدو د ويش درست والي احتمال واضح کړو. د مرکزي ميلان مقياسونه ( Measurer of tendency) هغه رقـــم يـــا ارزښت ځرګندوي چي په يو سلسله ارقامو کي نماينده وي چي هغه کيداي شـــي د مرکزي ميلان د مقياسونو څخه يواوسطه وي. له بل طرفه دپراګند ګي او خپوروالي مقياس( Measurer of dispersion)

مونږ ته يوه نظريه راکوي چي مشاهدي يو له بله او هم له اوســـطه څخـــه څـــومره تفاوت لري، که څه هم د مرکزي ميلان مقياسونه او د پراګند ګي او خپـــوروالي مقياسونه دا نه ځرګنده وي چي ايا د فريکونسي ويش منحني نورمال ده او کنه,عدم تناظر( Skewness ) يو بل احصايېوي مقياس دي چي دمشاهدو يا فريکونســـي ويش نورمال (Symmetry) او غير نورمال (Asymmetry) منحني ګـــاني ښيي.

دغه احصايېوي مقياس دمشاهدو د ويش شکل اوبڼه تشريح کوي . په نورمال منحني (Symmetrical) کي مشاهدي د اوسط څخه دواړو طرفونوته د تعـــادل پـــه حالت کښي واقع وي او د (Kurtosis )مقياس د مشاهدو د څوکي پـــه هکلـــه معلومات ارايه کوي.

عدم تناظر(skewness):

د مرکزي میلان او ارقامو د انحراف د درجي مقیاسونه د فریکونسي ویش ځانګړنه یا خصوصیت نشي څرګندولي ، کله چي دوه ډوله ارقام چي اوسط او میزاني انحراف یي سره مساوي وي ولي ممکن منحني ګاني یي متفاوت شکلونه ولري، که چیري د فریکونسي ویش منحني نورماله شکل ونه لري نو وایو چي منحني یي عدم تناظر (Skewed) او یا هم غیرنورماله (Asymetical) ده.

نو بنأ د مرکزي میلان او ارقامو د انحراف د درجي مقیاسونو په څنګ کي د عدم تناظر مقیاسونه

(Measures of Skewness) هم د فریکونسي ویش لپاره مطالعه شي.

عدم تناظر (skewnsee) د فریکونسي ویش هغه شکل او بڼي ته وایي چي تعادل پکي موجود نه وي.

د فریکونسي منحني د یو زنګ شکل لري کله چي د هغوي ارزښت د مرکزي میلان د مقیاس دواړو طرفونو ته واقع شوي وي او دا یو نارمل منحني ده په نارمل ویش کي میانه او موډ همیشه منطبق وي. که څه هم په عدم تناظر ویش کي اوسط ، میانه او موډ په بیلابیلو نقطو کي واقع کیږي.

لاندي شکلونه د نارمل او عدم تناظر ویش په هکله یوه مفکوره راکوي.

نورماله منحني (Symmetric Curve ):

د دفعاتو د ویش هغه منحني چي شکل او بڼه یي د اوسطه څخه دواړو خواو ته مساوي فاصله ولري د (Symmetric curve) په نوم یادیږي ، اود اوسطه څخه دواړو طرفونو ته مساوي فریکونسي لري. په دي ډول منحني کي اوسطه ،

میانه او مود  په یوه نقطه کې منطبق وي او د منحني نا صف د منحني له څو کي څخه د **X** په محور باندي رسم کيږي او د منحني ساحه په دوه مساوي برخو ويشي د نورمال منحني د لمنو د خپوروالي درجه دلته صفر وي . يعني (Mode)او (Mean) سره مساوي وي. په لاندي شکل کي (Symmetric carve ) ښودل شويده.

Mean = Median = Mode




Symmetric curve
1,6شکل

:Asymmetric curve

هغه منحني چي يو رنګه يا نارمال منحني (Symmetric ) نه وي د غير نورمال (Asymmetric) منحني په نامه يادېږي . په دي نوعه منحني کي د منحني څوکه د اوسط څخه راسته طرفه يا چپه طرف ته کوږوالي لري.

راسته طرف ته دلمني خپوروالي (Positively skewed distribution ):
.A

په دغه ویش کي منحني راسته طرف ته کوږوالي لري او د اوسط ارزښت یي د میاني او موډ څخه ډیر وي او دغه منحني لکه چي په لاندي شکل کي لیدل کیږي راسته طرف ته اوږده لکي لري.

Mean > Median > Mode




Positive skewness **شکل 2, 6**

B.چپه طرف ته دلمني خپوروالي. (Negatively Skewed distribution ):

په منفي عدم تناظر ویش کي د موډ ارزښت د اوسط او میاني څخه لوي وي په دغه ویش کي منحني لکه چي په لاندي شکل کي لیدل کیږي چپه طرف ته اوږده لکي لري.

Mode > Median > Mean




**3،6 شکل** Negative skewness

**د عدم تناظر نسبي مقیاس:**

د (Karal Pearson’s Coefficient of Skewness)

**کارل پیرسن عدم تناظر ضریب:**

د عدم تناظردغه ضریب په ( 1857 – 1936 ) میلادي کال د کارل پیرسن له لوري ټاکل شویدي نوځکه دغه ضریب د karal Pearson’s Coefficient of Skewness په نوم و نومول شو او فارمول یي داوسط او موډ تفاوت په میزاني انحراف د ویشلو څخه ترلاسه کیږي.

$$SK_p = \frac{Mean - mode}{Standard\ deviation}$$

**چیري چه:**

$Sk_p$ - کارل پیرسن عدم تناظر.

$Sk_p = 0$ - د فریکونسي ویش چي نارمل منحني ولري.

$SK_p > 0$ - د فريکونسي ويش منحني چي راسته طرف ته کوږوالي ولري.

$SK_p < 0$ - د فريکونسي ويش منحني چي چپه طرف ته کوږوالي ولري.

(1, 6) جدول: لاندي صنف بندي شوي ارقام چي په هره ميوه کي د تخم مقدار ښي د عدم تناظرضريب پکي محاسبه کړي.

| د تخم مقدار | د ميوي شمير (fi) | (xi) | ( fixi ) | ($xi^2$) | ( $fixi^2$ ) |
|---|---|---|---|---|---|
| 0 – 2 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| 2 – 4 | 2 | 3 | 6 | 9 | 18 |
| 4 – 6 | 4 | 5 | 20 | 25 | 100 |
| 6 – 8 | 9 | 7 | 63 | 49 | 441 |
| 8 – 10 | 4 | 9 | 36 | 81 | 324 |
| 10 – 12 | 3 | 11 | 33 | 121 | 363 |
| 12 – 14 | 2 | 13 | 26 | 169 | 338 |
| | 25 | | 185 | | 1585 |

$$X' = \frac{\Sigma \text{fixi}}{\Sigma \text{fi}} = \frac{185}{25} = 7.4$$

Mode$= L + \frac{f-fp}{2f-fp-fs} * c$

Mod.$= 6 + \frac{9-4}{18-4-4} * 2 = 6 + \frac{5}{10} * 2 = 6 + \frac{10}{10} = 7$

Standard deviation (S.d):

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{N}\left[\Sigma fixi^2 - (\Sigma fixi)^2/N\right]}$$

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{25}\left[1585 - \frac{(185)^2}{25}\right]}$$

$$S.D = \sqrt{\frac{1}{25}\left(1585 - \frac{34225}{25}\right)} = \sqrt{\frac{1}{25}\left(\frac{39625 - 34225}{25}\right)}$$

$$= \sqrt{\frac{1}{25}\left(\frac{5400}{25}\right)} = \sqrt{8.64} = 2.94$$

**اوس د عدم تناظر ضریب (Coefficient of Skewness) پیداکوو:**

$$SK_p = \frac{Mean - mode}{Standard\ deviation} = \frac{7.4-7}{2.94} = \frac{0.4}{2.94} = +0.14$$

لیدل کیږي چي( $SK_p$) قیمت له صفر څخه لوي دي نو وایو چي منحني یي راسته طرف ته کوږوالي لري او (Positive Skewness) ده.

**(2, 6) جدول: لاندي صنف بندي شوي ارقام د غواګانو د شیدو محصول په في کیلو ګرام سره ښودل شوي دي دعدم تناظر او د څوکي د موجودیت ضریب یي محاسبه کړي.**

| د شیدو حاصل په کیلو ګرام | د غواو شمیر ( fi ) | صنفي وسط ( Xi ) | $d_i$ | fidi | $fidi^2$ | $fidi^3$ | $fidi^4$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 – 6 | 8 | 5 | -3 | -24 | 72 | -216 | 648 |
| 6 – 8 | 10 | 7 | -2 | -20 | 40 | -80 | 160 |
| 8 – 10 | 27 | 9 | -1 | -27 | 27 | -27 | 27 |
| 10 – 12 | 38 | 11 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 12 – 14 | 25 | 13 | 1 | 25 | 25 | 25 | 25 |
| 14 – 16 | 20 | 15 | 2 | 40 | 80 | 160 | 320 |
| 16 - 18 | 7 | 17 | 3 | 21 | 63 | 189 | 567 |
| | 135 | | 0 | 35 | 307 | 51 | 1747 |

$d_i = \frac{X-A}{C}$

چیري چي A = 11

C = 2

$V_1 = \frac{c}{N}\sum fi\, di = 2 * \frac{15}{135} = 0.222$

$V_2 = \frac{c^2}{N}\sum fi\, di^2 = 4 * \frac{307}{135} = 9.096$

$V_3 = \frac{c^3}{N}\sum fi\, di^3 = 8 * \frac{51}{135} = 3.022$

$V_4 = \frac{c^4}{N}\sum fi\, di^4 = 16 * \frac{1747}{135} = 207.052$

$\mu_2 = V_2 - V_1^2 = 9.096 - (0.222)^2 = 9.047$

$\mu_3 = V_3 - 3V_2V_1 + 2V_13 = 3.022 - 3(9.096)(0.222) + 2(0.222)^3 = -3.014$

$\mu_4 = V_4 - 4V_3V_1 + 6V_2V_14 = 207.052 - 4(3.022)(0.222) + 6(9.096)(0.222)^2 - 3x(0.222)^4 = 207.051$

$Mean = 11.222$

$Mode = 10.917$

$S.D = 3.008$

$Pearson's\ coefficiant\ of\ skewness = \frac{11.222 - 10.917}{3.008} = 0.1014$

Coefficient of Kurtosis,

$\beta 2 = \frac{\mu 4}{\mu 2^2} = 207.051/(9.047)^2 = 2.530$

د مثال د حل کولو څخه معلومیږي چي د skp قیمت له صفرڅخه لوی دي نوویلای شوچي منحني یي راسته طرف ته کوږوالي لري (positive skewness) ده.

د منحني د څوکي د موجودیت (kurtosis) په ارتباط لیدل کیږي چي د $\beta_2$ قیمت د 3 څخه کوچني دي نو منحني یي (Platy Kurtic) ده.

## په منحني کي د څوکي موجودېت (Kurtosis)

د منحني د څوکي شکل او بڼه د (kurtosis) په نوم یادیږي . د (kurtosis) د اندازه کولو مقیاسونه د (Coefficient of kurtosis ) په نوم یادیږي او د $\beta_2$ ( Beta- two) پواسطه ښودل کیږي.

: Platykurtic – 1

که چیري د یوي منحني څوکه یا رأس ډیر پلن وي او د نور مال منحني په مقایسه د واړو طرفونو ته اوږده لکۍ و لري د (platykurtic) په نوم یادیږي چي $\beta_2 < 3$ ده.

: Mesokurtic −2

که چیري د یوي منحني څوکه نورمال وي او دواړو طرفونو ته یي لکۍ هم نور مال وي یعني مساوي فاصله ولري منحني د (Mesokurtic) په نوم یادیږي او $\beta_2 = 3$ سره.

: Leptokurtotic -3

که چیري د منحني څوکه یا رأس نري یا کمسوري او دواړو طرفونه ته یې لکۍ د نور مال منحني په مقایسه لنډه وي د (Leptokurtic) په نوم یادیږي.

چي دلته $\beta_2 > 3$ څخه دي.

$(\beta_2 - 3)$ انحراف ښیي د نارمل له حالت څخه

پورتني دري واړه منحني ګاني $(\beta_2\text{-}3)$ د نارمل له حالت څخه انحراف په (6،4) شکل کي ښودل شویدي ، چي دغه مقدار د (Platykurtic) لپاره منفي ، د (Meso kurtic ) لپاره صفر او د (Lepkurtic) لپاره مثبت دي.

د څوکي د موجودېت (kurtosis ) د اندازي مقياس د څوکي د موجودېت ضريب (Coefficient of kurtosis) په نوم ياديږي او د لاندي فارمول په واسطه محاسبه کيږي.

$$\beta 2 = \frac{\mu 4}{\mu 2^2}$$




Mean
Kurtosis
شکل 4, 6

کله کله د هوسايني لپاره مونږ کولاي شو چي د عدم تناظر( Skewness) اود څوکي موجودېت (Kurtosis) ضريب په $Y_1$ او $Y_2$ حروفو سره وښيو .

د لته $Y_2 = (\beta_2 - 3)$ $\quad Y_1 = \beta_1$

## طبيعي منحني

که د ارقامو د ترتيب منحني رسم کړو او هغه زنګ ته ورته شکل ولري يا دواړه لمني يي يو د بل سره مساوي وي يوه طبيعي منحني ده.

**د طبعي منحني ځانګړتياوي يا خصوصيات:**

1. منحني د زنګي په څير شکل لري او لکي يي له اوسط دواړو خواوو ته يوشان فاصله لري.
2. اوسط د نارمل منحني په منځ کي موقيعت لري چي منحني په دوه مساوي برخو ويشي.
3. په نارمل منحني کي اوسط ، ميانه او موډ سره مساوي دي.
4. د منحني د څوکي لوړوالي له اوسط څخه دواړو طرفونو ته يوشان تنزل کوي چي د منحني د دواړو طرفونو ساحه سره مساوي کيږي.
5. د منحني د دواړو طرفونو لمني لاندي افقي خط هيڅکله هم نه قطع کوي.
6. $Coefficient\ of\ Skewness, \sqrt{B1} = \mu^3/\mu_2^{3/2} = 0$
7. Coefficient of Kurtosis, $\beta_2=\mu_4/\mu_2^2 = 3$
8. د ويش معادله يي (Distribution Functions) :

$$y = \frac{N}{\sigma\sqrt{2\pi}} e = \frac{(x-\mu)^2}{2\sigma^2}$$

y– مستقل متحول چي له اوسطه څخه د انحراف بڼه يې څرګنديږي.

X– تابع متحول چي د هغه په اساس دy ارزښت څرګنديږي.

μ – د نفوس يا ټولو مشاهدو اوسطه چي سنجش شوي وي.

σ – ميزاني انحراف (کوم چي موږ په کم شمير مشاهدوکي پخوانښودلي وو)

π– ثابت (چي دغه فارمول کي قيمت 3.1415 دي)

e –ثابت چي دغه فارمول کي قيمت 2.7182 دي

N – هغه ټول مشاهدات چي د طبعي منحني په ساحه کي راغلي اودغه ساحه يې 100% نيولي. کيداي شي موږ دغه ساحه واحد ( 1) وبولو، نوله همدي کبله دهغې په اساس دمنحني ساحه کي دنوروبرخومحاسبات تر سره کوو، نومونږ ويلاي شو چي:

1 – N=100% يا ټول مشاهدات او د منحني ټوله ساحه چي په دي کي بيا د هر صنف خپله فيصدي لري.

9. د طبعي منحني لاندي ساحي ويش : ( Area under Normal Distribution)

(الف) په يو طبيعي ويش کي تقريبا 68.27 فيصده له ټولو مشاهدو څخه چي په اندازه د فاصلي دميزاني انحراف چي له اوسط څخه يې لري واقع دي.

$x' \pm 1S$ 68.27% ساحه نيولي ده چي 34.14 فيصده ساحه د اوسط داوړو طرفونو ته واقع کيږي.




5, 6 الف شکل

(ب) په منحني ويش کي تقريبا 95.45 فيصده له ټولو مشاهدوڅخه چي په اندازه د $S \pm 2$ د فاصلي د ميزاني انحراف چي له اوسط څخه يي لري واقع دي.
$X' \pm 2S$ **95.45%** ساحه نيولي ده چي **47.73%** ساحه د اوسط دواړو طرفونو ته واقع کيږي.




**5, 6 ب شکل**

(ج) په طبيعي ويش کي تقريبا **99.73%** له ټولو مشاهدو څخه چي په اندازه د $3 \pm S$ د فاصلي د ميزاني انحراف چي له اوسط څخه لري واقع دي.
$X' \pm 3S$ **99.73%** ساحه نيولي ده چي **49.87%** ساحه د اوسط دواړو طرفونو ته واقع کيږي.




**5, 6 ج شکل**

10.هغه معيارونه چي طبيعي منحني ورباندي مقايسه کيږي عبارت دي له اوسط (μ) ميزاني انحراف(σ) او د نفوس تعداد (N) په هره اندازه چي N لوي وي منحني ډير د زنګ شکل غوره کوي. او دوارو طرفونو ته همواره ميلان پيداکوي. مثلا په لاندي شکل کي (الف) ددي طبيعي منحني ترسيم شويدي چي هره يوه يي مساوي اوسط او ميزاني انحراف لري ولي د هري يوي د مشاهدو تعداد (N) فرق کوي.




6, 6الف شکل

د A په منحني کي N=300

د B په منحني کي N =200

د C په منحني کي N =100




د A په منحني کي σ =1

د B په منحني کي σ = 2

د C په منحني کي σ = 3

6, 6 ب شکل




6, 6 ج شکل

د A په منحني کي μ=15

د B په منحني کي 20= μ

د C په منحني کي 30= μ

د (ب) په شکل کي د میزاني انحراف د تغیر په داسي حال کي چي اوسط (μ) او (N) ثابت وي همدارنگه د (ج) په شکل کي لیدل کیږي چي څرنگه اوسط په ویش باندي تاثیر کوي داچي د (ب) په شکل کي وینو په هره اندازه چي میزاني انحراف لوي وي د مشاهداتو تحرک د منحني د اوسط دواړو طرفونو ته زیاتیږي او د منحني لمن دواړو طرفونو ته باریکه وي.

د طبیعي منحني د اوسط تغیر لکه څنگه چي د (ج) په شکل کي لیدل کیږي د ویش د موقیعت د تغیر په اساس د **x́** له یو کوچني محور څخه د نوموړي محور یو لوي معیار ته تمثیل کیږي.

**طبیعي ستندرد منحني(Standard Normal Curve):**

هغه منحني چي اوسط یي صفر او واحد میزاني انحراف ولري د طبیعي ستندردمنحني په نوم یادیږي. که څه هم کولي شو هغه منحني چي او سط او میزاني انحراف ولري په یوه طبعیي ستندرد منحني باندي تبدیله کړولکه چي په لاندي شکل کي لیدل کیږي،ددي لپاره دیو مقیاس او اصل بدلول ضروري دي څکه د بیلابیلواوسطونو او

ميزاني انحراف لپاره به مشكله وي چي ددوو اوږدوالي(طول) ترمنځ ساحه پيداكړو.په اصلي مقياس كي (د**X** مقياس) كي اوسط او ميزاني انحراف يي په ترتيب سره 'X او S دي، ولي په نوي مقياس كي (دZ مقياس) كي اوسط يي صفر او ميزاني انحراف يي يووالي لري.هغه پروسه چي د X مقياس دZ په مقياس باندي بدلوي د Z دشكل دبدلون په نوم ياديږي.




$$Z = \frac{X - X'}{S}$$ (دنمونى لپاره)

$$Z = \frac{X - \mu}{\sigma}$$ (د ټولنى لپاره)

**باينوميل ويش**

## Binomial Distribution

باينوميل ويش ته د برنولي ويش هم وايي ځكه چي هغه د سويس د يوه رياضي دان عالم پواسطه په كال (1654-1705) م كي پيژندل شويدي . دغه ويش د برنولي د ازمايښت يا د برنولي د پروسي څخه سرچينه اخيستي ده. د برنولي پروسه هغه تجربه يا ازمايښت دي چي يوازي دوه غيرهمزمان ساحي په بر كي نيسي لكه

کامیابي، ناکامي، مرگ یا ژوند ، نر یا ښځه چي دغه زمایښت ته د برنولي ازمایښت هم وایي. داچي د باینومییل ویش د احتمالاتو ویش هم تشریح کوي نو هغه تجربي په بر کي نیسي چي یوازي دوه ممکنه نتیجي ولري.

1.مثال: که چیري یوه سکه یو ځل پورته واچول شي دوه ممکنه نتیجي به ولري. چي د شیر یا خط مخ به یي په څمکه ولویږي .

$p=1/2$ د شیر مخ د لویدواحتمال

$q=1/2$ د خط د مخ دلویدو احتمال

نو$p+q=1$ او باینو میل یي$(p+q)^n$ همدارنگه که دوه سکي همزمان پورته واچول شي څلور ممکنه نتیجي به ولري.

شیر = H

خط = T

| لومړي سکه | دوهمه سکه | احتمال |
|---|---|---|
| H | H | $pp=p^2$ |
| H | T | pq } |
| T | H | qp } =2pq |
| T | T | $qq=q^2$ |

$$(p+q)^2 = p^2+2pq+q^2$$

2- مثال :که یوه سکه څلور ځله پورته واچوو د دفعاتو ویش یي د باینومیل د طریقي پواسطه دا رنگه محاسبه کیږي:

$$(H+T)^4 = H^4 + 4H^3T + 6H^2T^2 + 4HT^3 + T^4$$

د پورتني معادلي راسته طرف ښيي چي د حروفو طاقت د H او T د ترکيب د نوعيت څخه کوي په داسي حال کي چي پورتني معادلي د راسته طرف د هر حد دفعات چي يو خاص نتيجه يا ترکيب لري مثلاُ

$H^3$ د H تکرار ښيي. پدي اساس ويلاي شو چي د (H،H،H) يا $H^3$ په پورتني معادله کي دري ځله تکرار شوي دي او د نتايجو يا حادثو مجموعه چي ديوي سکي په څلور ځله پورته اچولوسره لاس ته راځي له 16سره مساوي ده.

**د باينومييل مشخصات:** د احصائيې له نظره د باينوميل انکشاف دوه عمده خصوصيات لري:

**اول:** د يو خاص نتيجي احتمال مثلاُ (H،H)،(H) او يا (HHH) او نور چي د باينوميلي معادلي د راسته طرف څخه محاسبه کيږي.

**دوهم:** له هغه دفعاتو څخه چي د باينوميل له حدونو څخه (شير يا خط) په يو خاص شکل سره ترتيب شي يو مستطيل ګراف يعني متناظر(Histogram)رسم کيږي.

که چيري هغه په خطي ګراف يعني (Frequency polygon) باندي تبديل شي . د طبيعي منحني شباهت پيداکوي چي د باينوميل ويش په نامه يادېږي.

**مثال:** د لمړي خصوصيت په هکله : که وغواړو چي د يوي سکي په څلور ځله پورته اچولو عمليه کي د $H^3$ يا په بل عبارت (HHH) سنجش کړو نو د پورتني معادلي د دوهم حد ($4H^3T$) ته متوجه کيږو دحادثي واحد ښي چي د دري ځله H او يو ځل T په هغه کي شامل او دا حادثه د ټولو حادثاتو په مجموع کي څلور ځله تکرار شويده. د يوي سکي د څلور ځله پورته اچولو په عمليه کي ددي احتمال چي دري ځله H واقع شي په لاندي ډول محاسبه کيږي.

احتمال د دري 4(H =(د مطلوبي حادثي دواقع کيدو احتمال)x(د مطلوبي حادثي د نه واقع کيدو احتمال)

$$= 4[p(HHH)(P)(T)]$$

$$= 4[(H^3)(T)]$$

$$= 4\left[\left(\frac{1}{2} * \frac{1}{2} * \frac{1}{2}\right) * \left(\frac{1}{2} * \frac{1}{2}\right)\right]$$

$$= \frac{4}{16} = \frac{1}{4}$$

که پورتني روش يا طريقي ته عموميت ورکړل شي يو فارمول ته ارتقا کوي چي د هغه پواسطه د مشخصو حادثاتو د واقع کيدو احتمال پيداکوو. بي له دي چي د باينوميل انکشاف څخه کار واخستل شي ممکن کوي فارمول يي په لاندي ډول وي:

$$\mathrm{P}(x, n, p) = \binom{n}{x} {}^{x}_{P}(1-p)^{n-x}$$

په پورتني فارمول کي:

P -د حادثي د واقع کيدو احتمال

X - د پام وړ حادثه يا پيبنه

n -د نمونو يا سمپل اندازه (يعني څوځله يوه حادثه تکراريږي)

p -په هر ځل يا په هره نمونه کي د پام وړ پيبني د واقع کيدو احتمال.

$x^n = \frac{n!}{x!(n-X)!}$ عبارت دي د مطلوبي حادثي د دفعاتو يا ضريب څخه چي د معادلي په راسته طرف

کي يي انکشاف کړي دي او له څلور سره مساوي کيږي.

مثال: د یوي سکي په څلورځله پورته اچولو سره د دري H پیداکولو احتمال د فارمول پواسطه دارنگه لاسته راځي.

$$P\left(3,4,\frac{1}{2}\right) = \binom{4}{3}\left(\frac{1}{2}\right)^3\left(1-\frac{1}{2}\right)$$

$$= \frac{4!}{3!(4-3)!}\left(\frac{1}{2}.\frac{1}{2}.\frac{1}{2}\right)\left(\frac{1}{2}\right) = 4(1/16) = 4/16 = 1/4$$

د دوهم خاصیت په هکله مثال: که وغواړو د n د دفعاتو ویش چي

$(H+T)^4$ د انکشاف په اساس ترلاسه کیږي د مستطیلي گراف په شکل وښیو د $(H+T)^4$ په انکشاف کي

د حدونو ضریب په عمودي محور سره او د H طاقتونه د گراف په افقي محور باندي په نښه کړو په

په نتیجه کي لاندي گراف تشکیلیږي

| د Hتعداد | دفعات |
|---|---|
| 0 | 1 |
| H | 4 |
| HH | 6 |
| HHH | 4 |
| HHHH | 1 |



8, 6 شکل

که مستطیلي ګراف د پولیګان په ګراف باندي تبدیل کړو داسي یوه منحني چي د طبیعي منحني ټول مشخصات ولري منځته راځي. یواځي فرق چي ددي منحني اود طبیعي منحني په منځ کي لیدل کیږي دادي چي د طبیعي منحني د ګراف محور کي مسلسل اعداد قرار لري او د باینومیل ویش د ګراف په افقي محور کي غیر مسلسل ارقام قرار لري.

**د طبیعي منحني پواسطه د باینومیل د تخمین مثال:**

اول : که د یو چوچه کشي په یوماشین کي له مکررو‌تجربو څخه معلومه شي چي (50%) د مرغاوي د هګیوڅخه چرګوړي ایستي شي. ددي احتمال به څو وي چي د مرغاوي له جملي څخه (12) هګیوله جملي څخه (5 ) چرګوړي وباسي.

**د باینومیل د فارمول په اساس:**

$$P\left(5,12,\frac{1}{2}\right)=\binom{12}{5}\left(\frac{1}{2}\right)^5(1-1/2)^7=\frac{12!}{5!\,(12-7)!}(1/2)^5\left(\frac{1}{2}\right)^7=\frac{792}{4096}=19.34\%$$

**د طبیعي منحني پواسطه:**

$\mu = np = 12(1/2) = 6$

$$\sigma = \sqrt{np(1-p)} = \sqrt{6\left(\frac{1}{2}\right)} = 1.73$$

$$z1 = 45 - 6 \div 173 = -0.87$$

$$z2 = 55 \quad 6 : 1.73 = \quad 0.29$$

د μ او **(z = -0.87)** ترمنځ ساحه مساوي ده له 0.3078

د μ او (z = -0.87) ترمنځ ساحه مساوي ده 0.1141




(X1 )او (x2) ترمنځ ساحه چي په شکل کي ليدل کيږي عبارت دي له جمله دولس هګيو څخه د پنځه

**چرګوړي ويستو احتمال ځرکندوي چي مساوي دي له :**

$0.3078 - 0.1141 = 0.1937$

1.مثال که د یوي فابریکي د کارکونکو میاشتني معاش یو طبیعي ویش ولري، د معاش اوسط یي( 1000) افغاني او میزاني انحراف یي( 200) تعین شوي وي معلوم کړي چي :

**الف:** د څو فیصده کارکوونکو معاش به د( 1000 ) او( 1500 ) ترمنځ وي؟

**ب:** څو فیصده کارکوونکي به له( 1200 ) افغانیو څخه لوړ معاش ولري؟

**ج:** ددي احتمال چي د یو کارکوونکي معاش به د 800 او 1200 افغانیو ترمنځ وي څو دي؟

**د مثال حل:**

**الف:** د هغه کارګرانو فیصدي چي معاش یي د 1000 او 1500 افغانیو ترمنځ وي :

د محاسبي اساسي هدف د 1000 او 1500 ترمنځ ساحه ده.



**لمړي x د Z په واحد تبدیلوو:**

$$Z = \frac{1500-1000}{200} = \frac{500}{200} = 2.5$$

**وروسته د Z د جدول له مخي پیداکوو چي µ (Z=2.5) ترمنځ ساحه د هغه کارګرانو له فیصدي څخه**

**عبارت ده چي عاید یي له 1000 څخه تر 1500 پوري وي مساوي ده له 0.4938 یا % 49.38**

**ب: د هغه کارګرانو فیصدي چي معاش یي له 1200 افغانیو څخه لوړ وي:**

**د ب په شکل کي اساس د 1200 افغانیو څخه د لوړي ساحي په نظر کي نیول شویده:**

$$Z = \frac{1200-1000}{200} = \frac{200}{200} = 1$$

**دZ په جدول کي د µ او Z=1 ترمنځ ساحه مساوي ده له 34،13 سره چه په اساس د (Z=1)**

**څخه د لوړي ساحي چه عبارت ده له فیصدي د هغه کارګرانو چي معاش**

**یي له 1200 افغانیو څخه لوړ وي دارنګه محاسبه کیږي:**

50.00-34, 13=15.87

**د هغه کارګرانو فیصدي چي معاش یي له 1200 څخه لوړ دي په شکل کي ښودل شویده.**




ج: ددي احتمال چي د يو تن كاركوونكي معاش د 800 او 1200 افغانيو په منځ كي دي دارنگه محاسبه كيږي.




$$Z1 = \frac{800 - 1000}{200} = -1$$

$$Z2 = \frac{1200 - 100}{200} = 1$$

د Z په جدول كي دμ او (Z=1) ترمنځ ساحه 34.13 فيصده ښودل شويده چي د طبيعي منحني د متناظروالي په اساس دμ او(Z= −1) ترمنځ ساحه هم%34.13 ده چه د دواړو قسمتونو مجموعه

68.26 فيصده كيږي چه عبارت ده د هغه كارگرانو له فيصدي ځخه چه معاش يي د 800 او 1200 افغانيو په منځ كي دي.

**تمرینات**

1: فرض کړي چي د نباتاتو امتحان لري یو طبیعي ویش ولري چي اوسط یي (60) او میزاني انحراف یي (20) وي. دا امتحان له (300) تنومحصلینو څخه اخستل شوي وي ددي معلوماتو څخه په استفادي سره لاندي پوښتنو ته جواب ور کړي :

الف: ددي احتمال څومره دي چي احمد یو له محصلینو څخه د (60) او (70) ترمنځ نمري اخستي وي.

ب: د دي احتمال څو دي چي محمود د (40) او (80) په منځ کي نمري اخستي وي.

ج: د دي احتمال څو دي چي احمد به حد اقل (80) نمري اخستي وي.

د: د دي احتمال څو دي چي محمود به حد اکثر نوي (90) نمري اخستي وي.

ه: که لس فیصده محصلینو ته چي لوړي نمري یي اخستي وي تحسین نامي ورکړل شي یو محصل باید حد اقل څو نمري واخلي ترڅو د تحسین نامي مستحق و ګڼل شي او هم وواياست چي څو تنه به دغه تحسین نامي ترلاسه کړي؟

و: که (20) فیصده محصلین چي کمي نمري یي اخستي وي ناکام وپیژندل شي ، معلوم کړي چي ددي محصلینو په منځ کي لوړه نمره چي اخستل شوي ده څو ده؟

**2.** لاندي ارقام چي دحوت په میاشت کي د هیواد په یو ولایت کي د 11 ورځو دحرارت ټیټه درجه په سانتي ګراد سره ښیيځ.

16،18،12،5،1،3،10،7،6،5،4

تاسو یي عدم تناظرضریب ( Coefficient of Skewness) محاسبه کړي.

**3.**په لاندي صنف بندي شوي ارقامو کي د عدم تناظر ضریب

**(Coefficient of Skewness)** محاسبه کړي.

| کلاسونه | فریکونسي |
|---|---|
| 3.0 – 3.9 | 3 |
| 4.0 – 4.9 | 7 |
| 5.0 – 5.9 | 28 |
| 6.0 – 6.9 | 78 |
| 7.0 – 7.9 | 84 |
| 8.0 – 8.0 | 45 |
| 9.0 – 9.9 | 28 |
| 10.0 – 10.9 | 7 |

4.لاندي صنف بندي شوي ارقام چي په پاڼه ریزه سابو د نمونو په ترکیب کي د اوسپني فیصدي ښيي تاسو يي عدم تناظر (Kurtosis)او د څوکي د موجودیت (Skewness) ضریب محاسبه کړي.

| د اوسپني ترکیب% | د سبوو نموني |
|---|---|
| 0 -2 | 5 |
| 2 – 4 | 12 |
| 4 – 6 | 18 |
| 6 – 8 | 9 |
| 8 – 10 | 5 |

**5.** که په یو نارمل منحني کي $z = 2.55$ وي نو په نوموړي منحني کي يي ساحه معلومه کړي؟

**6.** که $Z=1.54$ دطبعي منحني لاندي ساحه معلومه کړي.

# REFERENCESمآخذونه


1. Bowerman, Bruce L. and Richard T. O'Connell. (1997): Applied Statistics Improving Business Processes: McGraw-Hill Companies. Printed in U.S.A.
2. Chainy, Dr.G.B.N. and Dr.G.Mishra. (2004): Basic Biostatistics: Kalyani Publishers. New Delhi, India.
3. Chaudhry, Sher Muhammad. and Prof.Dr.Shahid Kamal. (2010): Introduction to Statistical Theory: IlmikitabKhana. Lahore, Pakistan.
4. Devore, Jay and Roxy Peck. (2001): Statistics the Exploration and Analysis of data: 4th ed. Duxbury Thomson Learning. Printed in U.S.A.
5. Jadoon, Shakeel Akhtar. (2005): A Textbook of Statistics for Class X1: Published by Yousufzai Printers. NWFP Textbook board, Hayatabad, Peshawar.
6. 
James T. and Terry Sincich. (2003): Statistics: 9th ed. Prentice Hall. New Jersey. Printed in the United States of America.
7. Keller, Gerald and Warrack Brain. (1997): Statistics for Management and Economics: 4th ed. Books/Cole Publishing Company. Printed in U.S.A.
8. Khan, Irfan Ali. and Atiya khanum.(2008): Biostatistical Methods in Agriculture, Biology and Medicine: Ukaaz Publications. Hyderabad (AP), India.
9. Levin, Richard I. and Rubin David S. (2009): Statistics for Management: 7th ed. Published by Dorling Kindersley. New Delhi, India.
10. Mason, Robert D. and Douglas A. Lind (1999): Statistical Techniques in Business and Economics: 10th ed. Irwin/McGraw-Hill. Printed in U.S.A.

11. Reo, G. Nageswara. (2007): Statistics for Agricultural Sciences: 2nd ed. BSP Bs Publications – Garran Lane. Hyderabad (AP), India.
12. Siegel, Sidney. (1997): Nonparametric Statistics for the Behavioral Sciences: International Student Edition. McGraw – Hill Book Company. New York.
13. Spiegel, Murray R. and Larry J. Stephens. (2007): Theory and Problems of Statistics: 3th ed. Tata McGraw – Hill Publishing. New Delhi, India.

14. اصیل، دکتور مرادعلي.(۱۳۸۲) مبادي تیوریهاي عمومي احصائیه و تطبیق آنها در اقتصاد:اماده سازي چاپ: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انساني دانشگاه ها (صحت) شماره انتشار/ 875.
15. ایمل، عبدالحق.(۱۳۸۱) داحصائیي اساسات: افغان پوهنتون ـــ پیښور.
16. پاشا،عین الله.(۱۳۸٦) کتاب کوچک ریاضي ورودي به آمار: انتشارات مدرسه برهان. تهران.
17. حمیدي، عبدالباقي.(۱۳۸۸) احصائیه : انتشارات سعید.
18. دوډیال، محمد بشیر.(۱۳۹۰) احصائیه : د لوړو زده کړو وزارت ، ننګرهار پوهنتون.
19. دولتي، داکتر خیرالله.(۱۳٦۰) مبادي احصائیه در زراعت : پوهنځي زراعت ـــ پوهنتون کابل.
20. زارعي،مهندس امجد.(۱۳۸۴) آمارکاربردي: نشر، دانش پرور.تهران.
21. شیوتسسیمورلیپ،مارک لیپسون مترجم :پروفیسورعلي اکبرعالم زاده (۱۳۸۴) احتمال: انتشارات جنګل.تهران.
22. غلام سنایي.(۱۳۹۰) احصائیه: وزارت تحصیلات عالي،پوهنتون تعلیم وتربیه،پوهنځي علوم طبعي.

لومړي ضميمه:

يو شمير سمبولونه چي د کتاب په متن کي استعمال شوي دي.

| | |
|---|---|
| $\sigma$ | Population Standard deviation |
| $\sigma^2$ | Population Variance |
| $\mu$ | Population Mean |
| S | Sample Standard deviation |
| $s^2$ | Sample Variance |
| $x'$ | Sample Mean |
| d | Deviation from the mean |
| ┐ | Mean Deviation (M.D.) |
| $\Sigma$ | Summation |
| $\pi$ | pi = 3.141 |
| e | Logarithmic Base = 2.718 |
| $\pm$ | Plus or Minus |
| $\sqrt{}$ | Square Root |
| $\neq$ | Not Equal to |
| $(\cap)$ | Intersection of Sets |
| U | Union of Sets |
| P(X) | Probability of happening of X |
| P | Probability of Success |
| q | Probability of Failure = 1 - P |
| f | Frequency |
| N | Number of observation = $\sum f$ |
| A.M | Arithmetic Mean |
| G.M. | Geometric Mean |
| H.M. | Harmonic Mean |
| $L_1$ | Largest value in data |
| $S_2$ | Smallest value in data |
| i | Class Width |
| Q | Quartile Deviation |
| $Q_1$ | Lover Quartile |
| $Q_3$ | Upper Quartile |

| Z | 0.00 | 0.01 | 0.02 | 0.03 | 0.04 | 0.05 | 0.06 | 0.07 | 0.08 | 0.09 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0.0 | 0.0000 | 0.0040 | 0.0080 | 0.0120 | 0.0160 | 0.0199 | 0.0239 | 0.0279 | 0.0319 | 0.0359 |
| 0.1 | .0398 | .0438 | .0478 | .0517 | .0557 | .0596 | .0636 | .0675 | .0714 | .0753 |
| 0.2 | .0793 | .0832 | .0871 | .0910 | .0948 | .0987 | .1026 | .1064 | .1103 | .1141 |
| 0.3 | .1179 | .1217 | .1255 | .1293 | .1331 | .1368 | .1406 | .1443 | .1480 | .1517 |
| 0.4 | .1554 | .1591 | .1628 | .1664 | .1700 | .1736 | .1772 | .1808 | .1844 | .1879 |
| 0.5 | .1915 | .1950 | .1985 | .2019 | .2054 | .2088 | .2123 | .2157 | .2190 | .2224 |
| 0.6 | .2258 | .2291 | .2324 | .2357 | .2389 | .2422 | .2454 | .2486 | .2518 | .2549 |
| 0.7 | .2580 | .2612 | .2642 | .2673 | .2704 | .2734 | .2764 | .2794 | .2823 | .2852 |
| 0.8 | .2881 | .2910 | .2939 | .2967 | .2996 | .3023 | .3051 | .3078 | .3106 | .3133 |
